افغانستان اسلامی امارت
دلوړو زده کړو وزارت
دعلمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیات او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# په غیر اسلامي هیوادونو کې د میشتو مسلمانانو ټولنیز أحکام د اسلامي شریعت په رڼا کې

(د ماسترۍ رساله)


محصل: محمد حسن "حقیار"
لارښود استاذ: پوهندوی دکتور محمد یونس "ابراهیمي"


کال: 1403هـ. ش – 1446هـ. ق

افغانستان اسلامی امارت

دلوړو زده کړو وزارت

دعلمي چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیات او قانون پوهنځی

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# په غیر اسلامي هیوادونو کې د میشتو مسلمانانو ټولنیز أحکام د اسلامي شریعت په رڼا کې

## (د ماسترۍ رساله)

محصل: محمد حسن "حقیار"

لارښود استاذ: پوهندوی دکتور محمد یونس "ابراهیمي"

کال: 1403هـ. ش – 1446هـ. ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

علمي معاونیت

د فوق لیسانس برنامو آمریت

د شرعیات اوقانون پوهنځی

د فقهې او قانون ماسترۍ برنامه

# تـــصدیق پـــانـــه

ښاغلی ( محمد حسن حقیار ) د ( اسلم خان ) زوی د ID: MSF-s1401-925 نمبر لرونکی، د فقهې او قانون د ( لسمي ) دورې محصل، خپله د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان یې دی:

(په غیر اسلامي هیوادونو کې د میشتو مسلمانانو تولنیز احکام د اسلامي شریعت په رڼا کې)

په ۱۷/ ۸/ ۱۴۰۳ هـ ل نېټه بریالیتوب سره دفاع کړه او د حـــکم پلاوي د ارزونې پر بنسټ د 92 (نمرو په عدد) دونوي (نمرو په حروفو) ور وکرځېد، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي غړي :

| شماره | داستاذ نوم | مسئولیت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاد وزیر محمد سعیدی | دحکم پلاوي غړی | [لاسلیک] |
| ۲ | دکتور اصحاب الله اواب | د حکم پلاوي غړی | [لاسلیک] |
| ۳ | دکتور محمد یونس ابراهیمی | لارښود او دحکم پلاوي مشر | [لاسلیک] |

د فوق لیسانس برنامو آمر.................. علمي مرستیال ____________

## ډالۍ

خپل پلار جان ته چې زه يې دغه نيکې لارې ته سوق کړم، خپلې ګرانې مور ته چې زما په تربيه کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې، او خپلو درنو استادانو ته چې ما سره يې بې شميره هلې ځلې وکړې. خپلو ګرانو دوستانو او ملګرو ته چې ماته يې نيکې مشورې، تشويق او ډاډ يې راکړی دی. په ځانګړې ډول خپل خوږ او نيږدې ملګري مولوي صيب عرفان الله کريمي ته چې هر وخت او په هر ډګر کې يې زما لاس ټينګ نيولی دی او خپلې مثبتې تجربې او مشورې يې له ما سره شريکې کړي دي.

# مننليک

د الله تعالی ډیر شکر گزاریم چې د دې رسالې د لیکلو توفیق یی را په برخه کړ.

د لوړو زده کړو وزارت څخه مننه کوم چې دخصوصي سکتور په چوکاټ کې یې د عالی تحصیلاتواو ماستری پروگرامونو ته زمینه برابره کړېده.

د سلام پوهنتون دعلمي او اداري مسؤلینوڅخه مننه کوم چې د لوړو زده کړولپاره یې د اسلامي اوهېوادنې ارزښتونوپه نظرکې نیولوسره په لوړه کچه علمي پروگرامونه چمتوکړي دي.

دشرعیاتو اوقانون پوهنځي له ټولواستادانو مننه چې خپلو هیواد والو ته یې د تحصیل زمینه برابره کړې ده او په دې برخه کې یې د ماستری برنامه رامنځ ته کړې ده.

د خپل گران پلار جان او درندې مورجانې څخه مننه چې زما روزنه، تربیت او کفالت یې وکړ چې له امله یې نن زه په علمي برخه کې خپل تحصیلي سفر تر یو ځایه رسوم.

له خپلو درنو مناقشینو استادانو هر یو دکتور صاحب اصحاب الله اواب او دکتور صاحب محمد وزیر سعیدي صاحب څخه مننه چې ما ته یې خپلې لارښوونې وکړې.

دماستری برنامې له استادانو اومسؤلینوځانگړې مننه چې موږ یې دماستری علمي مرحلې په برخه کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړي دي. اوپه پآی کې ځانگړې مننه کوم له خپل محترم لارښود استاذ پوهندوي دوکتور محمد یونس(ابراهیمي) څخه ځانگړې مننه کوم چې د دغه بحث په لیکنه کې یې راسره خپلې نیکي مشورې اوعلمي لارښونې یې راسره وخت په وخت شریکې کړې دي.

په درنښت

## د څېړنې لنډيز

۱- نومورې موضوع په غير اسلامي هيوادونو کې د ميشتو مسلمانانو د ټولنيزو احکامو په تړاو ليکل شوې ده او دا خبره په کې واضح کيږي او څېړل کيږي چې هلته د ميشتو مسلمانانو ژوند او ټولنيز احکام بايد په کوم ډول ترسره شي،لکه واده، طلاق، خوراک څښاک او.. نور ډير مسائيل په کې واضح کيږي.

۲- دا چې په اوسني وخت کې زموږ ډير هيوادوال غير اسلامي هيوادونو ته مهاجر شوي دي، هلته يې خپلې کورنۍ ليږدولي دي، دوئ بايد هلته په کوم ډول اصولو ژوند تير کړي؟نو دوی ته مې اصلا د ټولنيزو احکامو اړوند څو مهم مسائيل د اسلامي شريعت له ديدگاه څخه تشريح کړي دي.

۳-په دې څېړنه کې مې داصلي مراجعو څخه استفاده کړې ده، دڅلور گونو فقهي مذاهبو په برخه کې هم لومړنيو مصادرو څخه مې استفاده کړې ده، او په هغه معاصرو مسايلو کې چې په پخوانيو فقهي کتابونو کې نه پيدا کيږي دمعاصرو علماؤ له کتابونو مې په کې استفاده کړې ده.

۴- زما دغه څېړنه، په څلورو فصلونو مشتمله ده چې هر يو فصل يې بيا په مبحثونو او مطلبونو باندې مشتمل دی، په لومړي فصل کې د دار اړوند بحث شوی دی، دارالاسلام او دارالکفر واضح شوی دی او په دې اړه مې د فقهاؤ نظريات هم راوړي دي.

په غير اسلامي هيوادونو کې د اوسيدلو اړوند خبره مې کړې ده او دا مې د اسلامي شريعت له مخې واضح کړې ده. په غير اسلامي هيوادونو کې د ښځې حالت ته کتنه شوې ده.په همدې ډول په دوهم فصل کې د واده بحث مطرح شوی دی،واده بيا د اسلامي شريعت له نظره څېړل شوی دی او هم د يو شمير غير اسلامي هيوادونو د قوانينو له مخې څېړل شوی دی،خطبه هم واضح شوې ده،له خطبې مخکې حالت او د خطبې په اړه د يو شمير نامسلمانو هيوادونو حالت او قوانينو ته هم کتنه شوې ده.بيا دريم فصل کې د طلاق بحث په اسلامي او غير اسلامي هيوادونو کې مطرح شوی او څېړل شوی دی.په څلورم فصل کې بيا يو شمير نور ورځني ټولنيز احکام د څېړنې لاندې نيول شوي دي،دا په کې واضح شوې ده چې د اهل کتابو په مقبرو کې د مسلمانانو ښښول څه حکم لري،ددوئ په جنازو کې گډون د شريعت له نظره څه ډول دی،دوئ ته تعزيت څه حکم لري،ددوئ په مراسمو کې گډون څنگه دی دا او دې ته ورته نور موضوعات په دې فصل کې واضح شوي دي.

په پای کې مې د څېړنې پايله او مهم نتائج بيان کړي دي.

# د موضوعاتو لړلیک

عناوین ———— مخ

**د موضوعاتو فهرست**

لنډیز ..........................................................................................ب

فهرست.........................................................................................ت

**سریزه**.........................................................................................۱

د موضوع اهمیت .............................................................................۲

**د څېړنې لاملونه او ضرورت**...........................................................۲

پخوانیو لیکنو ته کتنه .......................................................................۳

د څېړنې پوښتنې ..............................................................................۳

دڅېړنې کړنلاره ...............................................................................۳

څېړنې اهدف ...................................................................................۴

د څېړنې ستونزې ..............................................................................۵

د موضوع د جوړښت پلان......................................................................۵

**لومړی فصل**

د دار پیژندنه او ډولونه یې......................................................................8

لومړی مبحث:دارالاسلام او درالکفر...........................................................۸

لومړی مطلب:د دارالاسلام او دارالکفر تعریف ..............................................۸

دوهم مطلب:په غیر اسلامي هیوادونو کې اوسیدل.........................................۱۰

دریم مطلب:هغه فتنې چې په غیر اسلامي هیوادونو کې ورسره مسلمان مخ کیږي...........۱۷

څلورم مطلب:په شرعي احکامو د دار دبدلیدلو اثر..........................................۱۹

دوهم مبحث:کورنۍ په اسلام ..................................................................۲۴

لومړی مطلب:عربي جاهلیت کې د ښځې ځای. ..............................................۲۴

دوهم مطلب :په غیر اسلامي هیوادونو کې دښځې حالت ته کتنه...........................۲۷

دریم مطلب:په اسلام کې دښځې مقام او ځای...............................................۳۰

څلورم:دکورنۍ ارزښت په اسلام کې....................................................................۳۳
دريم مبحث:کورنۍ په غير اسلامي هيوادونو کې:...................................................۳۴
لومړی مطلب:کورنۍ په اروپا کې......................................................................۳۴
دوهم مطلب:کورنۍ په پخوانۍ مسيحي اروپا کې...................................................۳۶
دريم مطلب:کورنۍ په اوسنۍ اروپا کې:...............................................................۴۰
څلورم مبحث:د اسلامي او غير مسلماني کورنی ترمنځ مقارنه.......................................۴۲
لومړی مطلب:داسلام اغيز په کورنۍ باندې...........................................................۴۲
دوهم مطلب:دکليساء اغيز په کورنۍ باندي...........................................................۴۴
دريم مطلب:د نوې مدني ټولنې اغيز په کورنۍ باندې..............................................۴۴

دوهم فصل

لومړی مبحث: د واده پيژندنه: ...................................................................۴۸
لومړی مطلب: واده په اسلام کې............ ..................................................۴۸
دوهم مطلب:په اسلام کې له واده مخکې حالت:..................................................۵۱
دريم مطلب:خطبه او دهغې شروط.....................................................................۵۳
دوهم مبحث:د واده ارکان او اساسات...................................................................۵۴
لومړی مطلب:د واده ارکان.. ...........................................................................۵۴
دوهم مطلب:د واده دعقد محل...........................................................................۵۸
دريم مطلب:د واده شروط................................................................................۵۹
دريم مبحث:واده په غرب کې: .........................................................................۶۱
لومړی مطلب:په الماني قانون کې دخطبې احکام.....................................................۶۱
دوهم مطلب:د واده شرايط................................................................................۶۴
دريم مطلب:د مدني زواج عقد...........................................................................۶۷

دريم فصل طلاق

لومړی مبحث :د طلاق بحث په اسلامي او غير اسلامي هيوادونو کې..............................۷۰
لومړی مطلب:طلاق په اسلام کې........................... ........................................۷۰
دوهم مطلب:دطلاق صيغه..................................... .............. ...................۷۴

دریم مطلب:طلاق کې دقاضي حکم او خلع.................................. .......................................۷۶
دوهم مبحث:طلاق په غیر اسلامي هیوادونو کې.......................................................................۷۷
لومړی مطلب:څوک په غیر اسلامي هیوادونو کې طلاق واقع کولی شي؟........................................۷۸
دوهم مطلب:دطلاق دواقع کیدو شرطونه................................. ........................................۷۸
دریم مطلب:دمطلقاتو احکام.......................................... ........................................ ............۷۹
څلورم مطلب:د غیر اسلامي هیوادونو د طلاق په اړه داسلام حکم.......................................... .......۷۹
پنځم مطلب:دمسلمانانو ترمنځ طلاق.......................... ............................................................۸۰
شپږم مطلب:دکافرانو ترمنځ طلاق.................................. ........................................ ........۸۳
دریم مبحث:د طلاق اړوند د غیر اسلامي محاکمو فیصلې...........................................................۸۴
لومړی مطلب:که چیرته نا مسلمان قاضي د مسلمانانې ښځې او خاوند ترمنځ تفریق راولي...............۸۵
دوهم مطلب:که چیرته مسلمان قاضي نه وي او اسلامي مراکزو ته رجوع وشي؟.............................۸۵
دریم مطلب:داسلام او غیر اسلامي هیوادونو دطلاق ترمنځ مقارنة.......................................... .......۸۶
څلورم مطلب:د میراث قضیه..............................................................................................۹۰
پنځم مطلب:د واده په عقد کې ددین د اختلاف اثر...................................................................۹۳
شپږم مطلب:د تزویج په ولایت کې د دین د اختلاف اثر.........................................................۱۰۷
اووم مطلب:د زوجیت په نفقه باندې د دین د اختلاف اثر..........................................................۱۱۰

څلورم فصل

په په غیر اسلامي هیوادونو کې د غیر مسلمو سره یو شمیر نور ورځني او ټولنیز تعاملات

لومړی مبحث:د اهل کتابو په مقبرو کې د مسلمان دفن..........................................................۱۱۷
لومړی مطلب:مناقشه..........................................................................................................۱۱۷
دوهم مطلب:ترجیح:..........................................................................................................۱۲۶
دوهم مبحث:اهل کتابو ته تعزیت او ددوئ په جنازه کې ګډون.....................................................۱۲۷
لومړی مطلب:د جنازې متابعت............................................................... ...............۱۲۷
دوهم مطلب:اهل کتابو ته تعزیت............................................................ .......................۱۳۰
دریم مبحث:کافرانو باندې سلام اچول او هغوئ ته دریدل...... ....................................................... ۱۳۲
لومړی مطلب:سلام اچول........................................... ....................................................۱۳۲

دوهم مطلب:هغوئ ته دریدل.............................................................................................. ١٣٨
دریم مطلب:په غیر اسلامي هیوادونو کې د ستر او پردې احکام........ ........................................... ١۴٠
څلورم مطلب:د کفارو د مقدساتو توهین کول................................................................................ ١۴۶
پنځم مطلب:د غربیو کافرانو سره مرسته کول................................................................................ ١۴٨
شپږم مطلب:په کرسمس او نورو غونډو کې یې ګډون کول........................................................... ١۵٠
اووم مطلب:له کافرانو سره خوراک او څښاک کول...................................................................... ١۵٨
اتم مطلب:په نامسلمانو هیوادونو کې مختلطې زده کړې: ............................................................. ١۶٢
پایله ............................................................................................................................... ١۶۵
پشنهادات........................................................................................................................ ١۶٧
د ایتونو فهرست .............................................................................................................. ١۶٨
احادیثو فهرست ................................................................................................................ ١٧١
د اعلامو فهرست............................................................................................................... ١٧٣
ماخذونه .......................................................................................................................... ١٧۶

# سریزه.

الْحَمْدُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْقَادِرِ الْقَوِيِّ الْقَاهِرِ الرَّحِيمِ الْغَافِرِ الْكَرِيمِ السَّاتِرِ ذِي السُّلْطَانِ الظَّاهِرِ، وَالْبُرْهَانِ الْبَاهِرِ فَسُبْحَانَهُ مَا أَعْظَمَ شَأْنَهُ، وَالصَّلَاةُ، وَالسَّلَامُ عَلَى الْمَبْعُوثِ بَشِيرًا، وَنَذِيرًا، وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا فَأَوْضَحَ الدَّلَالَةَ، وَأَزَاحَ الْجَهَالَةَ مُحَمَّدٍ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ، وَإِمَامِ الْمُتَّقِينَ، وَعَلَى آلِهِ الْأَبْرَارِ، وَأَصْحَابِهِ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ.

دنړۍ تیاره مانښامونو، د رڼا پر وجود، خپل تور څادر غوړولی ؤ، انسانیت دخپل زوال په وروستي برج کې دبقاء او شتون کونښښ کاوه، دا نو داسې حالت ؤ، چې ټوله نړۍ د تیارو لښکر ته په انقیاد، ښکته شوې وه، انساني او اسماني ارزښتونو له یوې مخې خپل حیثیت بایللی ؤ، او دوخت جبر ته یې داطاعت سرونه خم کړي ؤ، داسې چې دجهالت هرې څپې ته به یې د رڼا قالبونه او پیوندونه جوړول، تر څو دتیارو لارویان یې درڼا په پلوۍ محاکمه نه کړي، په هر حال، داسې حالت ؤ چې علم په کې خپل نور بایللی ؤ، او انسانیت په کې خپل زور، دکایناتو دڅښتن پیاوړي قدرت په تیارو واکمني راوپرځوله، او درڼا استازی یې دتیارو دمحوې لپاره دحجاز پر ساحل پلی کړ، هغه د ایت مبین پرمټ، لومړی دحجاز ضلالت وراټه او بیا یې ټولې نړۍ ته د اسلم تسلم، پیغام ورکړ، داسې پیغام چې احکام یې څوارلس پیړۍ وروسته لاهم دعصر له لوړ پرواز سره الوت کولای شي، داسې چې دعصر دهر رقیب دپرزولو او لاندې کولو توان په کې لاهم شته.

او دا ځکه چې دا پیغام داسماني اړیکې پایله ده، هغه چې درهبانیونو، له تحریفونو، او قسیسینو له تزویرونو څخه جلا او بیل دی، او تر ننه ددغه پیغام په پچیده ډګرونو کې دامت معماران لګیا دي او دخپلو ولسونو لپاره ترې دعلم دنګې ودانۍ رغوي، ما هم هڅه کړې ده چې دامت دعلمي معمارانو څو هڅې تحلیل کړم.دا چې موږ په داسې زمانه کې ژوند کوو چې مسلمانان په خورا بدو شرائطو کې ژوند کوي،په اجتماعي،سیاسي،ټولنیز او نړیوال لحاظ له بد وضعیت سره مخ دي،نو همدا ده چې له اسلامي نړۍ ډلې ډلې مسلمانان نامسلمانو هیوادونو ته روان دي.په دغه نامسلمانو هیوادونو کې چې مسلمانان میشت شي،هلته یې له نورو نامسلمانانو سره ټولنیز ژوند راځي،نو په همدې اساس مې په نامسلمانو هیوادونو کې د میشتو مسلمانانو ټولنیز ژوند د څیړنې لاندې نیولی دی او په دې اړه مې علمي څیړنه او پلټنه کړې ده.

په ټولنیز ژوند کې مې د بیلګې په توګه څو موارد څیړلي دي:

د نامسلمانو سره په جنازه کې ګډون څه حکم لري.په همدې ډول دا مې هم واضح کړې ده چې مسلمان نامسلمان ته د تعزیت لپاره ورتللی شي او که نه.د مسلمان او نامسلمان د نکاح او

طلاق بحث مې هم ځېړلی دی.دا وضاحت هم په دې رساله کې شته دی چې له غربیو کافرانو سره مرسته له اسلامي لیدلوري څه ډول حکم لري.دا او دي ته ورته نور مسایل مې هم واضح کړي دي.

هڅه مې وکړه چې دغه دروند بوج چې فقهاؤ يې دتحميل هڅه کړې ده، زه يې هم يوه برخه دلته په دې کوچنۍ رساله کې تحليل کړم، تر څو پرې دخپل علمي يون حلت ثابت کړم.

## - دموضوع اهميت.

دا چې په اوسني وخت کې زموږ ډېر هيوادوال غير اسلامي هيوادونو ته تللي دي او هلته ژوند تيروي،نو په دې اساس ډېر هيوادوال په يو شمير برخو کې له نامسلمانو سره اړيکې لري او په ډېرو موردونو کې له هغوئ سره يو شمير ټولنيزې اړيکې پالي نو په دې اساس اړينه وه چې دا ټولنيز مسائل بايد زموږ هيواد وال د اسلامي اصولو او تګلارې سره سم مخکې يوسي.

او ويلی شو چې دغه موضوع تر ډېره حده مهمه ده، په نويو ميتودونو ځېړل شوې ده او دبيلا بيلو ديني او فقهي مراجعو او مصادرو څخه په کې استفاده شوې ده چې لوستوال به يې په لوستلو پښيمانه نه شي.

## - د ځېړنې لاملونه او ضرورت:

۱- دغه موضوع تر ډېره حده مخکې هر اړخيز نده ځېړل شوې، او که ځېړل شوې هم ده، نو کفايت نه کوي او ستونزه نه حلوي، نو په دې اساس ما اړينه وبلله ترڅو دغه موضوع وځيړم، د ټولنې ستونزې تر يوحده پورې د شريعت په رڼا کې حل او فصل کړم.

۲- زموږ ډېر هيوادوال په غير اسلامي نړۍ کې ژوند کوي،يو شمير خلک هلته له نامسلمانو سره د تعامل په برخه کې له ستونزو سره مخ کيږي، ددې لپاره چې خپل علمي تراث انتقال کړم، نورو خلکو ته پرې ګټه ورسوم، نو ځکه مې دغه موضوع انتخاب کړه، ترڅو دغه برخه چې په پښتو ژبه کې زما د معلوماتو مطابق ناځېړلې پاته ده، وځيړم او خپل لوستونکي له دغه برخې په خپله ژبه خبر کړم.

۳- دا چې په پښتو ژبه يو داسې اثر پريږدم چې راتلونکي نسلونه ترې استفاده وکړي او ماته الله جل جلاله په دنيا او اخرت ددغه خدمت بدله راکړي.

۴- او دا چې دخپلې ماسترۍ دورې پایلیک بشپړ کړم، او له دې لارې په علمي برخه کې دخدمت وړ او جوګه شم.

## - په دې موضوع کې مخکنۍ لیکنې:

په پخوانیو فقهې کتابونو کې ددې موضوع په تړاو داسې ډیر څه نه موندل کیږي،برعکس بیا د احکام اهل الذمة تر عنوان لاندې ډیر څه شته،داځکه چې هغه مهال اسلامي نړۍ ته نامسلمان راکوچیدل او دا تصور نه کیده چې مسلمانان دې دومره بد حالت ته لاړ شي چې له اسلامي قلمرو څخه بهر ووځي، خو زه غواړم دا مسئله د پخوانیو او معاصرو، نظریاتو له مخې وڅیړم، تر څو علمي اثر پرېږدم. نو په دې اړوند ( أحکام احوال الشخصیة للمسلین في الغرب ) دکتور سالم بن عبدالغني الرافعي لیکنه کړې ده، په همدې ډول الاحکام السیاسیة للاقلیات المسلمة في الفقه الاسلامي د سلیمان محمد توبولیاک لیکنه،په همدې ډول من فقه الاقلیات المسلمة د خالدمحمد عبدالقادر لیکنه ده،البته دا ټولې لیکنې عربي دي خو په پښتو ژبه ډیر څه نه موندل کیږي.

## - د څیړنې پوښتنی

### 1- د څیړنې اصلي پوښتنه

په غیر اسلامي هیوادونو کې د میشتو مسلمانانو له نامسلمانو وګړو سره د شریعت په چوکاټ کې ټولنیزې اړیکې لکه جنازه، طلاق، نکاح، تعزیت، ګډ تعلیم او داسې نورې اړیکې جائز دي؟

### 2- د څیړنې فرعي پوښتنې

1- د نامسلمانو په جنازه کې ګډون څنګه دی.؟

2- نا مسلمانو ته تعزیت څه حکم لري.؟

3- نامسلمانو ته سلام اچول څنګه دي؟

4- په مذهبي مراسمو کې له نامسلمانو سره ګډون کول څنګه دي؟

## - د څیړنې کړنلاره:

د رسالې په لیکلو کې ما ځینې طریقې کارولې چې:

ما په دې څېړنه کې له اصلي مراجعو استفاده کړې ده، په څلورو فصلونو مې دغه بحث ویشلی دی . دحدیثو په کتابونو کې هم اصلي مراجعو ته ورغلی یم او په فقهي برخه کې مې هم دڅلورو مذاهبو د متاخرینو او متقدمینو ټولو علماؤ له کتابونو استفاده کړې ده، یو شمیر موضوعاتو کې مې دعلماؤ نظریات تحلیل کړي دي، او په یو شمیر مواردو کې مې ددلایلو په اساس ترجیح هم ورکړې ده. هغه مسایل چې معاصر دي او په پخوانیو کتابونو کې نه پیدا کیږي، هغه مې له معاصرو کتابونو راخیستي دي او په دې اړه مې دمعاصرو علماؤ فتواګانې هم راوړي دي.او په ټوله کې زما دغه څیړنه په تحلیلي تګلاره باندې ولاړه ده.

## - د څیړنې اهداف:

۱- دا موضوع دمسلمانانو او ټولې انساني نړۍ ترمنځ په روزمره توګه عملي اړخ لري، نو لازمه ده چې پوهه ورباندې حاصله شي، خلک ورباندې پوه شي، نو په دې اساس مې وغوښتل چې د پښتو کتابتون ته یو اثر تقدیم کړم.

۲- دمسلمان په ژوند کې اړیکې،د غم ښادۍ پالل او ټولنیز توب یو ډیر مهم اړخ دی، نو دا چې مسلمان باید له نامسلمانو سره په ټولنیز تعامل کې کومې پولې کراس نه کړي نو هڅه مې وکړه ترڅو دغه موضوع دڅېړنې لاندې ونیسم.

۳- د الله جل جلاله رضاء حاصلول، ترڅو هغه ذات له ما څخه راضي شي.

۴- دماسترۍ برخې تیزس بشپړ کړم، او خپل علمي یون لا پسې مخکې یوسم.

۵- په علمي ډګر کې خپل مسولیت اداء کړم.

٦- په غیر اسلامي هیوادونو کې میشت مسلمانان له دې موضوع څخه خبر کړم.

## - د څېړنې ستونزې:

1- په ډیرو مواردو کې مسلمانان د تعامل په برخه کې له ستونزو سره مخ دي،تر ډیره بریده په یو شمیر مهمو ټولنیزو مسائیلو کې پرې د نامسلمانو هیوادونو د قانون له مخې حکم کیږي،نو ددې مسلې د حل او حکم راویستلو برخه کې ستونزه وه.

2-له نامسلمانو سره ددوئ په اخترونو کې ګډون کول،د خوښۍ په مراسمو کې یې شریکیدل،له دوی سره خوراک او څښاک کول دا او دې ته ورته نورو پدیدو ته د اسلامي شریعت حکم او لیدلوری پیدا کول.

## - د موضوع د جوړښت پلان: (مختصر)

زما دغه څیړنه، په سریزه، څلورو فصلونو او پایله باندې مشتمله ده چې هر یو فصل یې بیا په مبحثونو او مطلبونو باندې مشتمل دی.په لومړي فصل کې د دار اړوند بحث شوی دی،لومړي مبحث کې د دارلاسلام او دارالکفر بحث دی،دا مبحث په څلورو مطلبونو مشتمل دی چې موضوع پکې واضح شوې ده.دوهم مبحث کې مې بیا کورنۍ څیړلې ده.په دې مبحث کې څلور مطالب دي چې په دې کې د اسلام له نظره او پخوني جاهلیت له مخې د کورنۍ بنسټ او اساس ښځې ته کتنه شوې ده،په همدې ډول دریم مبحث کې مې بیا کورنۍ په غیر اسلامي هې،ادونو کې د تحلیل لاندې نیولې ده او په څلورم مبحث کې مې بیا د مسلمانې او نا مسلمانې کورنۍ ترمنځ مقارنه کړې ده.
دوهم فصل بیا دواده په اړه دی چې واده په اسلامي او غیر اسلامي هیوادونو کې د څیړنې لاندې نیول شوی دی،لومړي مبحث کې د واده پیژندنه شوې ده چې په درې مطالبو کې یې واده د اسلام له نظره څیړل شوی دی.دوهم مبحث کې د واده ارکان او اساسات دي،په دریم مبحث کې بیا واده په غربي هیوادونو کې د څیړنې لاندې نیول شوی دی او ددې مبحث په درې مطلبونو کې د خطبې احکام،د واده شرایط او د مدني زواج عقد څیړل شوی دی.دریم فصل کې بیا طلاق په اسلامي او غیر اسلامي هیوادونو کې بحث شوی دی،چې دا ټولنیزه موضوع په اسلامي لیدلوري کې کوم ډول ده او په غیر اسلامي هیوادونو او لیدلوري کې یې څه حالت دی.لومړي مبحث کې د طلاق بحث په اسلامي هیوادونو کې شوی دی. په دوهم مبحث کې طلاق په غیر اسلامي هې،ادونو کې د څیړنې لاندې نیول شوی دی،بیا ددې مبحث په څلورو مطلبونو کې دا واضح شوې ده چې نامسلمانو هیوادونو کې طلاق څوک و اقع کولی شي؟شرطونه یې څه دي،د مطلقاتو احکام څه شی دي،د غیر اسلامي هیوادونو د طلاق په اړه د اسلام حکم څه دی؟دریم مبحث کې دطلاق اړوند د غیر اسلامي محاکمو پریکړې بحث شوي دي چې دا له شرعي نګاه کوم حیثیت لري،د اسلامي مراکزو شتون هم بحث شوی دی چې په داسې مسائیلو کې

ددوئ رول څه دی؟د میراث ټولنیزه قضیه هم بحث شوې ده چې په دې کې به څه کوي؟او بیا د دین د اختلاف اثر په نفقه او نورو مسائیلو کې هم بحث شوی دی.

څلورم فصل کې په غیر اسلامي هیوادونو کې یو شمیر نور ورځني ټولنیز موضوعات څیړل شوي دي.په لومړي مبحث کې دا خبره څیړل شوې ده چې د نامسلمانو په هدیرو کې د مسلمانانو مړي خښول څه حکم لري،دوهم مبحث کې اهل کتابو ته په تعزیت کولو باندې بحث شوی دی،دا هم په کې بحث شوې ده چې د نامسلمانو د جنازې متابعت څه حکم لري؟دریم مبحث کې دا خبره واضح شوې ده چې کافرانو ته سلام اچول او دریدل څه حکم لري؟په همدې ډول په غیر اسلامي هیوادونو کې د ستر او پردې احکام هم بحث شوي دي.په همدې ډول دا وضحات هم شوی دی چې د کفارو د مقدساتو توهین کول څه حکم لري؟له غریبو کافرانو سره مرسته کول،په کرسمس او نورو غونډو کې ګډون کول،له کافرانو سره خوراک او څښاک کول او د ګډ تعلیم او کار په اړه وضاحت د دریم مبحث په اته مطالبو کې بحث شوي دي.

په پای کې زما ددغه څیړنې پایله او نتیجه ګیري ده چې ددغې موضوع دڅیړنې په نتیجه کې زه کومې موخې او پآیلې ته رسیدلی یم چې هلته په پآیله کې به پرې پوه شئ.

## لومړی فصل.!

**په دې فصل کې د دار په شمول يو شمير عمومي موضوعات بحث کوم.**

# دار [1]پېژندنه.

په دې فصل کې هڅه کوم چې د دار په هکله بحث وکړم، ددې موضوع څېړنه به دبېلابېلو فقهاو او علماؤ له نظره وکړم. د دراالاسلام او دارالکفر قضیه هم واضح کېږي، په دارالکفر کې د اوسیدو په هکله هم خبره کیږي، په شرعي احکامو کې د دار د بدلیدو په اسبابو هم بحث کوم او نور ډېر څه هم شته چې په دې فصل کې به واضح شي.

## لومړی مبحث: دارالاسلام او دارالکفر:

د دارالاسلام او دارالکفر اصطلاح خپله صراحتا په قران او سنتو کې نه ده راغلې بلکې دا اصطلاح زموږ اسلامي فقهاؤ څخه موږ ته په میراث پاتې ده. او ددې اصطلاح سرچینه البته په قران او سنت کې موندل کیږي چې له هغې څخه معلومیږي چې دارالاسلام او دارالکفر شته دی. همدغه ده چې مکه د مسلمانانو له هجرت څخه وروسته دارالکفر وو او مدینې ته چې کله مسلمانان لاړل نو هغه دارالاسلام وبلل شو. نو په دې اساس لومړی دارالاسلام او دارالکفر تعریف بیانیږي.

### لومړی مطلب: د دارالاسلام او دارالکفر تعریف

الدار لُغَةً مشتق من أدور، ودور، دیار، اسم جامع للعرصة والبناء والمحلة.2

ژباړه: دار له(أدور، ودور، دیار) څخه مشتق دی، هغه نوم دی چې غولي ابادۍ او محلې ته شاملیږي.

په اصطلاح کې: و هي المنازل المسکونة والمحال حل به قوم فهو دارهم.3

ژباړه: د اوسیدو هغه کورونه او محلې چې یو قوم په کې اوسیږي، دار بلل کیږي.

البته دارالاسلام بیا زموږ فقهاء داسې تعریفوي:

---

1 المَحَلُّ یجمع البناءَ والسَّاحةَ دار هغه هغه ځای ته وایي چې ابادي او ساحه دواړه پکې وي(لسان العرب، ج:۴،ص:۴۰۳.

2 لسان العرب للامام العلامة ابی الفضل جمال الدین ممد بن مکرم ابن منظور الافریقی المصری,نشر أدب الحوزة قم - ایران 1405 هـ 1363 ق مصدر الکتاب : موقع یعسوب,ج:۴،ص:۴۰۳.

3 مخکینی مرجع.

شوافع وايي: هی کل أرض تظهر فيها أحکام الاسلام.[1]

هغه ځمکه ده چې په هغې کې د اسلام احکام ظاهر وي.

شوافع د تعریف په تشریح کې زیاتوي:

د اسلام داحکامو دظهور څخه موخه داده چې له عباداتو پرته نور احکام لکه د زنی حرام والی، د غلا حرام والی، دا ټول په کې ظاهر شي. یا دا چې مسلمانان په کې و اوسيږي، اګر که اهل الذمة هم ورسره وي، یا دا چې مسلمانانو فتحه کړی وي، یا دا چې په پیل کې یې اوسیدونکي کافران وو، خو بیا ترې جلا وطن کړل شوي وي.[2]

احناف علماء وآيي: کل بقعة تکون فيها أحکام الاسلام ظاهرة[3]

د ځمکې هره برخه چې هلته د اسلام احکام ظاهر او څرګند وي، هغه دارالاسلام بلل کيږي.

نو په ټوله کې د اسلامي فقهاؤ له دې تعریفونو څخه څرګنه دي ږي چې په هره ځمکه کې د اسلام احکام ظاهر وي هغه دارالاسلام بلل کيږي او دا خبره د منل شويو اسلامي فقهي مذهبونو ترمنځ ټولو منلې ده.

دارالکفر:

هي کل بقعة تکون أحکام الکفر فيها ظاهرة[4]

ژباړه: دارالکفر دځمکې هغې برخې ته وايي چې په هغې کې دکفر نښې او احکام څرګند وي.

نو دلته هم د فقهاؤ ترمنځ دا خبره منل شوې ده چې په کومه ځمکه د کفر احکام څرګند وي، هغه دارالکفر دی.

---

1 مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج,المؤلف: شمس الدين، محمد بن أحمد الخطيب الشربيني الشافعي (المتوفى: 977هـ)

الناشر: دار الكتب العلمية,الطبعة: الأولى، 1415هـ - 1994م:عدد الأجزاء: 6,ج:4,ص:292.

[2] مخکینی مرجع.

[3] بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع,المؤلف: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: 587هـ),الناشر: دار الكتب العلمية،الطبعة: الثانية، 1406هـ - 1986م,ج:7,ص:130.

[4] بدائع الصنائع،ج:۷،ص:۳۰،مغني المحتاج،ج:۴،ص:۲۹۸.

په ټوله کې دا دوه تعریفونه داسې مفهوم افاده کوي چې کومه ځمکه چې په هغې باندې د اسلام احکام ظاهر وو نو هغه دارالاسلام دی او په کومه ځمکه چې دکفر احکام څرګند وو هغه دارالکفر بلل کیږي.

خو دلته یوه ملاحظه شتون لري. د فقهاؤ له دې پورته تعریفونو څخه زه دا فهوم او دا خبره راته څرګنه دې ږي چې هغه جغرافیه چې اوس په کې مسلمانان حاکم نه دي لکه هند او یا هم نور هیوادونه، دلته غالب حالت ته کتل کیږي، که چیرته غالبا په کې د کفر نښې او احکام څرګند وو، دارالاسلام نه بلل کیږي. خو که چیرته په کې غالب حالت د اسلام د احکامو وو، بیا نو د دارالاسلام برخه ده.

والله اعلم.

## دوهم مطلب: په غیر اسلامي هیوادونو کې اوسیدل:

مخکې له دې چې په دې موضوع کې پوره ورداخل شم، لومړی یو شمیر مذاهب ذکر کوم چې ددې عنوان په اسانتیا کې مرسته وکړي.

دمالکیانو نظر:

ابن رشد[1] رحمه الله وآیي: د مالکیانو له نظره غیر اسلامي هیوادونو، دارالحرب یا دارالکفر ته تلل مکروه دي، برابره خبره ده چې دتجارت لپاره ځي او که دبل څه لپاره، برابره خبره ده چې په وچه ځي او که په بحر کې ځي. او دا چې یو مسلمان دارالکفر ته ځي دا دکراهت په بدترین او اشدترینه مرتبه کې ده. مالکیان ددې موضوع دکراهت لپاره دا دلیل وایي: اصلا الله جل جلاله په هغه چا باندې هجرت واجب کړی دی چې هغه په دارالکفر کې اسلام راوړی وي، نو چې په دارالکفر کې یې اسلام راوړ او هجرت یې پرې واجب کړ، نو معنا دا چې برعکس دارالکفر ته راتلل دوجوب منافي دی او جایز نه دی. ځکه چې الله جل جلاله فرمایي: {إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ

[1] محمدبن احمد بن رشد، ابو الولید، چې دا دابن رشد دنیکه نوم دی، دا یو نوم وتی اسلامي فیلسوف وو، دمالکي مذهب یو منل شوی شیخ دی، دده ډیر تصانیف دي، دی په قرطبه کې زیږیدلی دی او په قرطبه کې په ۵۲۰ هـ کې وفات شوی دی(شجرة النور الزکیة لمخلوف، ج:۱، ص:۱۲۹)

الْمَلائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا}1

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې وفات کړي وي ملائکو دوئ لره دوئ په داسې حال کې چې دوئ ظلم کونکي په خپلو ځانونو، وائي ورته(ملائکې)په کوم حال کې وئ، تاسي(په خپلو ديني چارو کې)وائي دوئ چې وو موږ ضعيفان کړی شوي په ځمکه کې(دکفارو په لاس بيا ملايکې ورته)وايي چې آيا نه وه ځمکه دالله جل جلاله ارته، پس هجرت کړی و تاسې په دې(ځمکه کې)نو دا ځای ددوئ دوزخ دی او ناکاره ځای د ورتلو دی.2

دا آيت، دمکې د هغه مسلمانانو په هکله رانازل شوی دی چې اسلام يې راوړ، خو له هجرت پاتې شول، په داسې حال کې چې نور مسلمانان لګيا وه او هجرت يې کاوه، نو دا کسان په فتنو کې له دې امله راګير شول چې دوی هجرت نه و کړی، په دې وخت کې دمشرکانو او مسلمانانو ترمنځ جګړه هم راپيښه شوه، کله چې دا جګړه راپيښه شوه نو دوی خدای جل جلاله ته عذر وړاندې کړ چې موږ خو په مکه کې کمزوري او مستضعف وو، نو ځکه مو په جهاد کې ګډون ونکړ، نو الله جل جلاله ددوی عذر قبول نکړ، بلکې ورته وه يې ويل: الم تکن ارض الله واسعة؟فتهاجرو فيها. مطلب ولې دالله جل جلاله ځمکه پراخه نه وه چې تاسې ورته هجرت کړی وای، خو دا مکه به مو پريښې وه او هجرت به مو کړی وو کنه. بيا الله جل جلاله دهغه کسانو عذر ومنه چې هغه په ريښتيني مانا کمزوري وو، الله جل جلاله وويل: کمزوي په کې يوازې ښځې دي، ماشومان دي، بوډاګان دي او هغه کسان دي چې لاره ورته نه ښکاري، بس دهمدوئ، عذر مقبول دی، نور دچا نه دی مقبول. نو دمکې له فتحې وړاندې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته هجرت کول واجب وو او مؤکد واجب وو، الله جل جلاله په مومنانو باندې فرض کړې وه چې بايد له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره پاتې شي او هغه ته هجرت ور وکړي، هغه چې چيرته ځي لاړ دې شي، دهغه مرسته او نصرت دې وکړي او دهغه ملګرتيا ته دې ادامه ورکړي. الله جل جلاله هيچا ته هم دمکې له فتحې وړاندې اجازه ورنکړه چې بيرته مکې ته لاړ شي او رسول الله صلی الله عليه وسلم پريږدي، همدا وه

1 سورة النساء،ايت:٩٧.

2 تفسير کابلی،ج:١،ص:٥٢٢.

چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خپل وروستي حج کې خپل صحابه کرام منع کړل چې له حج وروسته په مکه کې پاتې شي.په دې حکم سره هغه صحابه کرام خاص کړل شول چې په مکه کې يې په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې ايمان راوړی وي او بيا يې هغه ته هجرت کړی وي.دا حکم يې ورته په دې خاطر وکړ چې ددوئ هجرت تمام شي او ترلاسه کړی مقام يې پاتې شي.دا هغه کسان دي چې الله جل جلاله په مهاجرينو باندې نومولي دي او ددوی صفت يې هم دهجرت له امله کړی دی،نو په دې اساس دانوم له دوی پرته په بل چا باندې نه تطبيقيږي،کله چې الله جل جلاله مکه فتحه کړه نو،رسو الله صلی الله عليه وسلم وويل: (عن ابن عباس1 رضي الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله عليه و سلم : لا هجرة بعد الفتح ولکن جهاد ونية وإذا استنفرتم فانفروا )2

ژباړه:دمکې له فتحې وروسته هجرت نشته،بلکې له دې فتحې وروسته جهاد او نيت دی.مطلب دادی چې دمکې خلک دې له دې نه وروسته اوس دهجرت لپاره نه وځي او دمکې نه بغير نور خلک دې هم په دې نيت هجرت نه کوي چې هغومره ثواب او درجه به ورته حاصله شي چې مهاجرينو صحابه کرامو ته حاصله شوې وه،هغه صحابه چې هغوی دمکې له فتحې وړاندې هجرت کړی وو.البته دومره ده چې دهغه صحابه کرامو ثواب ته خو نه رسيږي،خو دمهاجرينو په کتار کې خو راتللی شي،بلکې دومره ده چې ددې هجرت فرضيت ساقط شو،نور خو هجرت د قيامت ورځ پورې روان دی او دمسلمانانو په اجماع سره په هغه چا باندې واجب دی چې په دارالکفر کې يې اسلام راوړ او په هغه باندې دکافرانو احکام جاري کيدل،نو په ده باندې واجب ده چې دارالاسلام ته هجرت وکړي او هغه ځای ته لاړ شي چې په کوم ځای کې دمسلمانانو احکام جاري کيږي.نو کله چې په يو هغه مسلمان باندې هجرت په اجماع دمسلمانانو سره واجب شو چې هغه په دارالکفر کې مسلمان شوی دی او په هغه باندې د کفر احکام جاري کيږي،نو په دا ډول مسلمان باندې هجرت واجب دی چې دارالاسلام ته راشي،ترڅو پرې کفري احکام جاري نشي.نو هغه مسلمان ته څنگه جايز ده

[1] عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم دی، نوموړی درسول الله صحابي، دهغه مبارک کاکا زوی دقران کريم لوی مفسر ، دخپل وخت لوی فقيه او دحبر الامة لقب ورکړل شوی ؤ ، صحابه کرامو به ورته په ډيرو مسائلو کې رجوع کوله، نوموړی په کال: ٦٨ هـ په طائف کې وفات شوی دی: الاعلام للزرکلي:٣/ ٣٢١.

[2] الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه,المؤلف : أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي البخاري,المحقق : محمد زهير بن ناصر الناصر,الناشر : دار طوق النجاة,الطبعة : الأولى 1422هـ,عدد الأجزاء : 9،ج:٧،ص:١٩٣.

چې هغه له دارالاسلام څخه دارالکفر ته لاړ شي، ترڅو پرې دهغوئ احکام جاري شي؟نو همدا لامل دی چې امام مالک رحمه الله وايي چې هغه ښارونو کې اوسيدل مکروه دي چې هلته په کې د اسلام سلفو ته ښکنځل کيږي.نو چې هغه هيوادونو کې چې هلته دکفر احکام جاري کيږي،له خدای پرته د بل ذات بنده گي په کې کيږي،دبوتانو عبادت په کې روان دی،نو داسې هيوادونو کې څنگه کيدلای شي چې مسلمان وه اوسيږي؟نو په دې اساس هيڅ مسلمان ته جايز نده چې دمشرکانو هيواد ته دتجارت لپاره يا دبل شي لپاره داخل شي.البته په هغه صورت کې داخليدلی شي چې هغې کې مسلمان ته گټه وي.نو که چيرته يو مسلمان په خپله خوښه له اکراه او جبر پرته،دمشرکانو هيواد ته داخل شو،نو دده امامت او شهادت دواړه ساقط دي.[1]

د شافعيانو مذهب:

دوی له دارالشرک څخه دارالاسلام ته هجرت نه واجبوي،دوی وايي چې هجرت هغه مهال واجب دی چې کله پرې دفتنې ويره او ډار وي دا ددوی صريح مذهب دی.

امام نووي[2] رحمه الله وايي:که چيرته مسلمان ضعيف وي او په دارالکفر کې اوسيږي او په دې باندې قادر نه وي چې د دين اظهار وکړي،نو په ده باندې هلته اوسيدل حرام دي او په ده باندې واجب ده چې دارالاسلام ته هجرت وکړي خو که چيرته په هحرت باندې قادر نه وه نو بيا معذور دی تر دې چې په هجرت باندې قادر شي که چيرته يې دغه دارالکفر فتح کړ،مخکې له دې چې دی ترې هجرت وکړي نو له ده څخه هجرت ساقط شو،خو که چيرته دا مسلمان د خپل دين په اظهار باندې قادر وه يا داسې نور مسلمانان يې ترڅنگ وه چې دده حمايت يې کاوه او دفتنې خوف او ډار پرې نه وه نو په ده باندې هجرت واجب نه دی البته مستحب دی

---

[1] المقدمات الممهدات,المؤلف: أبو الوليد محمد بن أحمد بن رشد القرطبي (المتوفى: 520هـ),الناشر: دار الغرب الإسلامي الطبعة: الأولى، 1408 هـ - 1988 م,ج:5,ص:465-467.

[2] ابوزکريا محيی الدين يحيی بن شرف الحوراني الشافعي دی نوموړی په کال631:هـ زيږيدلی او په کال: 676هـ په دمشق کې وفات شوی دی نوموړی لوي امام، حافظ،متقي او زاهد انسان ؤ نوموړي ډير علوم زده کړي ؤ او ډيری غوره تصنيفات لري: الموسوعة العربية العالمية (الاعلام للزرکلي،ج:۲،ص:۴۳)

چې هجرت ډېرو مسلمانانو ته وکړي.البته يو شمير نورو شافعيانو ويلي دي چې دې حالت کې هم پرې هجرت واجب دی خو امام نووي رحمه الله وايي چې دا نظر کمزوری دی.[1]

دحنابله مذهب:

حنابله هم په دې مسله کې له شوافعو سره هم نظره دي دوی  هم وايي چې په هغه چا باندې هجرت واجب دی چې هغه دخپل دين اظهار نشي کولای او دفتنې خوف او ډار ولري.[2]

د احنافو مذهب:

احناف وايي:مدينې منورې ته هجرت له فتحې څخه وړاندې واجب وو بيا له فتحې وروسته دهجرت وجوب منسوخ شو.امام سرخسي[3]رحمه الله وايي:دمکې له فتحې وړاندې په هر مسلمان باندې فرض وه چې مدينې منورې ته هجرت وکړي ترڅو ددين احکام زده کړي او دمومنانو ټولي پسې پيوسته شي ترڅو له مسلمانانو سره مرسته او همکاري وکړي.بيا دهجرت وجوب په دې حديث چې(عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : لا هجرة بعد الفتح ولكن جهاد ونية وإذا استنفرتم فانفروا )[4]

ژباړه:رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:د مکې له فتحې وروسته هجرت نشته ،بلکې جهاد او د هجرت نيت دی کله چې له تاسې د وتلو غوښتنه وشوه بيا نو ځئ

باندې منسوخ شو.[5]

---

[1] روضة الطالبين,روضة الطالبين للامام أبي زكريا يحيى بن شرف النووي الدمشقي المتوفى سنة 676,ومعه المنهاج السوي في ترجمة الامام النووي منتقى الينبوع فيما زاد على الروضة من الفروع للحافظ جلال الدين السيوطي,تحقيق الشيخ عادل. أحمد عبد الموجود الشيخ على محمد معرض,دار الكتب العلمية بيروت – لبنان,ج:10,ص:282.

[2] المغني لابن قدامة,المؤلف: أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: 620هـ),الناشر: مكتبة القاهرة,الطبعة: بدون طبعة,عدد الأجزاء: 10,ج:8,ص:458.

[3] محمد بن أحمد بن أبي سهل أبي بكر السرخسي شمس الأئمة،د زيږيدو نيټه يې نده معلومه،خو په ٥٠١ هـ ق كال کې د اوزبکستان په فرغانې کې وفات شوی دی،تر ډيره بريده نوموړی په أوزبکستان او د ايران په سرخس کې اوسيده،نوموړي په حنفي فقه کې مبسوط په څير معتمد او معتبر کتاب ليکلی دی او دا کتاب يې هم په زندان کې وليکه،نوموړی ستر عالم په حنفي مسلک د لوړې رتبې خاوند دی.تاج التراجم لأبي الفداء زين الدين أبي العدل قاسم بن قطلوبغا السودوني.ج:٢،ص:٥٣٩.

[4] صحيح البخاري،ج:٧،ص:١٩٣.

[5] المبسوط,المؤلف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ),الناشر: دار المعرفة - بيروت الطبعة: بدون طبعة,تاريخ النشر: 1414هـ-1993م,عدد الأجزاء: 30,ج:10,ص:6.

البته دلته یوه یادونه اړینه ده چې ما په دې هکله د احنافو نظر ولیده نو دا راته ترې واضحه شوه چې د احنافو له نسخې څخه موخه دانده چې هجرت بیخي جایز نه دی بلکې موخه یې داده چې فرضیت یې منسوخ دی او له مکې څخه ځکه نور هجرت نشته چې هغه د دارالاسلام برخه ده. نور هجرت مشروع دی او هر مسلمان کولی شي چې د شرک له ځمکې دارالاسلام ته هجرت وکړي او دمشرکانو ترمنځ په داسې حالت کې چې دین دې محفوظ نه وي جایز نه دی .

البته امام جصاص[1] وآيي:دمشرکانو په منځ کې اوسیدل منع او منهی عنه دي دلیل پرې دخدای جل جلاله دا کلام دی چې وايي: {قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا}[2]

ژباړه:بیا ملائکې ورته وايي: وایي چې آیا نه وه ځمکه دالله جل جلاله پراخه پس هجرت کړی وی تاسې په دې(ځمکه کې)نو دا ځای ددوی دوزخ دی او ناکاره ځای د ورتلو دی.[3]

د ایت دا برخه په دې باندې دلالت کوي چې د شرک له ځمکې باید مسلمان د اسلام ځمکې ته ووځي. البته هله چې کله د اسلام په ولکه کې ځمکه وه.[4]

دلته مو په دارالکفر کې د اوسیدو په اړه د اسلامي فقهاؤ نظریات راوړل په دې خبره باندې ټول فقهاء متفق دي چې که چیرته مسلمان په دارالشرک کې خپل دیني احکامات نه شي ترسره کولی، دخپل دین اظهار نشي کولای او واجب نه شي کولای، نو په دې صورت کې له دارالشرک څخه دارالاسلام ته هجرت واجب دی.

خو که چیرته مسلمانانو په دارالشرک کې خپل دین ښکاره کولی شو عمل یې پرې کولی شو نو جمهور علماء بیا وايي چې په دې صورت کې دارالاسلام ته هجرت واجب نه دی بلکې

---

[1] أحمد بن علي الرازي،أبوبكر الجصاص،دا يې پوره نوم دی،فقه يې له امام ابو الحسن الكرخي رحمه الله څخه زده كړې ده،دده مشهور تصنيفونه،احكام القران دی،او نور مهم تصانيف هم لري،نوموړی په بغداد كې اوسيده، نوموړی په ۳۰۵هـ كې زيږېدلی ،او هلته په ۳۷۰ هـ كې وفات شوی دی.(الجواهر المضية/ج:۱،ص: ۲۲۰)

[2] سورة النساء،ايت:۹۷.

[3] تفسير كابلی،ج:۱،ص:۵۲۲.

[4] أحكام القرآن,تأليف الامام حجة الاسلام أبي بكر أحمد بن علي الرازي الجصاص المتوفى سنة 370 هـ,دار الكتب العلمية بيروت – لبنان,ج:3,ص:228.

هجرت ورته مستحب دی ترڅو له ډيرې ډلې مسلمانانو سره يوځای شي.البته مالکي علماء په هر حال کې وايي چې هجرت له دارالکفر څخه واجب دی ترڅو مسلمان هلته پاتې نه شي.

په دې اړه د معاصرو علماؤ نظر!

دکتور سالم بن عبدالغني الرافعي چې په معاصرو علماؤ کې شمېرل کيږي، هغه په خپل کتاب احکام الاحوال الشخصية للمسلين في الغرب کې وايي:په کفري هيوادونو کې اوسيدل جائز دي خو په هغه صورت کې چې کله يو مسلمان هلته له فتنو څخه په امن کې وي هغه ځوک چې دده په پرورش کې دي او دده اولادونه دي چې هغه هم له فتنو څخه په امن کې وي نو بيا اوسيدل جائز دي.دی وايي چې کوم ايتونه او احاديث چې په دې مورد کې راغلي دي او په کفري هيوادونو کې له اوسيدو څخه منع کوي هغه په هغه حالت حمل دي چې کله د فتنې احتمال وي.[1]

مناقشه!

دلته زما په اند د هغه علماؤ نظر غوره دی چې په کفري هيوادونو کې د اوسيدلو اجازه ورکوي خو په شرائطو سره لکه څرنګه چې رافعي صيب وايي: چې ټول هغه نصوص چې په هغې کې د کافرانو په هيوادونو کې موږ له اوسيدلو څخه منع شويو هغه د فتنې په حالت باندې حمل دي.

يو په هغه نصوصو کې چې په منع باندې دلالت کوي دا ايت دی چې مخکې هم تير شو{قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا}.امام بخاري[2]رحمه الله په خپل کتاب صحيح البخاري کې په کتاب التفسير کې د ابن عباس رضی الله تعالی عنه قول رانقل کړی دی چې ابن عباس رضی الله تعالی عنه وايي:يو شمير مسلمانان له مشرکانو سره اوسيدل د هغوی

[1] أحكام الأحوال الشخصية للمسلمين في الغرب،للدكتور سالم بن غبدالغني،دار ابن حزم،ص:٥٦.

[2] ابوعبدالله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة بن بردزبه البخاري، نوموړی په کال: ۱۹۴هـ په بخاری کې زيږېدلی او په کال: کې وفات شوی دی، د نوموړي نيکه مغيره مجوسي وو بيا يې د بخاری والي يمان الجعفي په لاس ايمان راوړ، نوموړی امام المحدّثين دی، د صحيح البخاري ليکوال دی چې ټول امت قبول کړی دی او له قران وروسته صحيح کتاب دی: سير أعلام النبلاء ط الحديث (10/ 79)

ډله يې غټه کړې وه کله به چې د مسلمانانو کوم غشی ورتللو نو په دوی به لګېدلو نو يا به قتل کيدل او يا زخمي کيدل نو په همدې اساس الله جل جلاله همدا ايت نازل کړ.[1]

او هغه ايت چې {**وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُوا**}[2]ددې لاندې ابن کثير رحمه الله وايي چې ددې ايت موخه دانده چې د کافرانو په هيواد کې اوسيدل جائز نه دي بلکې موخه يې داده چې دا خلک چې د کافرانو په هيوادونو کې اوسيږي دوی په مال فئ او غنيمت کې تاسره برخه نه لري.[3]

په همدې ډول امام بيهقي[4] رحمه الله خو لا په خپل کتاب سنن بيهقي کې يو لوی باب ددې عنوان لاندې لګولی دی(باب الرخصة في الاقامة بدار الشرک لمن لايخاف الفتنه)او بيا يې ددې لاندې احاديث راوړي دي.

## دريم مطلب: هغه فتنې چې په غير اسلامي هيوادونو کې ورسره مسلمان مخ کيږي.

موږ په تير کې په دارالکفر کې د اوسيدولو حکم بيان کړ، هلته خبره شوې وه چې يوشمير فقهاء وايي چې غرب[5] کې اوسيدل جايز دي خو په شرايطو سره. هلته مو ذکر کړلو چې په کوم حالت کې هلته اوسيدل جايز دي نو چې اوسيدل په کې جايز شول نو طبيعي ده چې مسلمانان به هلته ژوند کوي نو چې ژوند کوي دا ژوند له خطراتو هم خالي نه دی او هغه خطرونه او فتنې چې مسلمان ورسره د کافرانو په هيوادونو کې مخ کيږي غواړم دلته يې يو څه ذکر کړم:

اول: دېولنيز ژوند پای..!

---

[1] صحيح البخاري،ج:۸،ص:۲٦۲.

[2] سورة الانفال،ايت:۷۲.

[3] تفسير القرآن العظيم,المؤلف: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: 774هـ)،المحقق: سامي بن محمد سلامة،الناشر: دار طيبة للنشر والتوزيع،الطبعة: الثانية 1420هـ - 1999 م،عدد الأجزاء: 8،ج:۱،ص:۵۱۳.

[4] ابوبکر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي، نوموړی په کال ۳۸۴ هـ د نيسابور بيهق په خسروجرد سيمه کې زيږېدلی دی او په کال ۴۵۸هـ کې وفات شوی دی، نوموړی ستر محدث وو، د سنن کبرى، دلائل النبوة او شعب الايمان په څېر کتابونو ليکوال دی: الأعلام للزركلي (1/ 116)

[5] غرب له څلور جهتونو څخه يو جهت دی،کوم چې د استواء کرښې چپ طرف ته پروت دی،د شرق په عکس،هغه ځای کوم ځای کې چې لمر ډوبيږي،خو دلته ترې موخه غربي هيوادونه دي.لسان العرب،ج:۳،ص:۵۴۹.

اسلامي نړۍ اوس مهال تر ډیره په ټولنیز ژوند باندې باور لري. مسلمانان خپلوي پالي، یو بل سره اړیکې لري او یو شمیر عرفونه دي چې تا دې ته واداره کوي چې ته باید له اسلامي اصولو سره سم مخکې لاړ شې خو متاسفانه غرب ته په راتگ سره د مسلمان ټولنیزتوب ته لومړی گواښ متوجې کیږي او دا ژوند بیا په کراره کراره له منځه ځي په داسې حال کې اسلام ته دا ټولنیز توب مهم دی ځکه مسلمانانو ته په ډیرو ځایونو کې د یوجسد خطاب کوي نو معنا یې داده چې ټول باید له یو بل څخه خبر وي. ډیر داسې دوستان شته دی چې هغوی په اروپا کې میشت دي. هغوی په خپلو خبرو اترو کې وایي چې ټوله اونۍ له سهاره تر ماښامه بوخت وي هیڅ وخت نه شي پیدا کولی چې له خپلو خپلوانو سره پاتې شو هرڅوک باید کار وکړي که میرمنه وي او که خاوند که زوی او که لور ټول مجبور دي چې سهار ووځي او ځانته پیسې وگټي.

دوهم: د خیر کمښت:

مسلمانان په غرب او په ځانگړي ډول په اروپا کې تر ډیره بریده دا چانس نه مومي چې خپلو مقدساتو ته د اسلامي نړۍ په څیر لاس رسی ولري دبیلگې په ډول: په اسلامي نړۍ کې په هره کوڅه کې مسجد شتون لري او هر مسجد کې دجماعت لمونځ کیږي خو برعکس د اروپا په ډیرو هیوادونو کې که ته سفر کوې د یو شمیرهیوادونو په ښارونو کې په ډیر کم تعداد سره مساجد او مدارس دلاس رسي وړ دي. په همدې ډول علماء، مبلغینو او نورو دیني خلکو ته لاس رسی هم کمیږي او د اسلامي مخامخ زده کړو په هکله د مسلمان اولادونه له یو نامالوم سرنوشت سره مخ کیږي.

دریم: حرامو کارونو ته لاس رسی:

تر ټولو خطرناکه فتنه او خطر یې لا دادی چې دغرب چاپیریال بې بندوباره دی هر ډول حرامو ته په کې لاس رسی شته دی د شرابو نه نیولې تر زناء پورې هرڅه په کې قانوني دي. هغه څه چې زموږ د ځوان نسل، لوڼو او زامنو لپاره دزهر قاتل په څیر دي. خو برعکس په اسلامي نړۍ کې دا هرڅه غیر قانوني دي او سر عام یې ترسره کول په اسلامي ټولنه کې ستر جرم بلل کیږي هغه څه چې زموږ راتلونکي نسلونه خونه دي کوي.

څلورم: د سړي قیمومیت ختمیدل:

په ډېرى اروپايي هيوادونو کې ښځې دومره واک لري چې مطلق ډول سړي ته طلاق ورکولی شي ښځه کولی شي چې په تا باندې خپلې نامشروع غوښتنې دپوليس په زور ومني ښځه کولی شي چې له هر چا سره په خپل سر اړيکې ټينګې کړي ميرمن کولی شي چې ځان لپاره (بواى فرينډ) او هلک ملګرى وساتي هغه څه چې په کورنۍ کې دپلار قيموميت ختموي او دکورنۍ شتون له خطر سره مخ کوي.

دکورني نظام ړنګيدل،په اولادونو باندې سلطه له لاسه ورکول،د تعليم لپاره د مناسب چاپيريال نه شتون،دصلې رحمۍ قطع کيدل او په سلګونو نور مهم خطرونه شته دي چې په غرب کې اوسيدل د يو مسلمان لپاره تر ټولو خطرناکه مسله ده.

## څلورم مطلب:په شرعي احکامو د دار دبدليدلو اثر!

اوس په دې اړه بحث کوم چې په شرعي احکامو کې د دار دبدليدو اغيز او اثر څه دی! البته نه غواړم چې ټول هغه احکام چې د دار په اختلاف سره تغيريږي بحث کړم بلکې غواړم چې دلته زه ددغې مسلې اصولو ته لوستونکي متوجې کړم.

اصل دا دی چې مسلمان مکلف دی چې خپل خدای ته په هر حالت په هر ځای او په هر وخت کې ملتزم وي.همدا څه دي چې په دې التزام کې اختلاف د دار موثر نه دی  بلکې په هر حالت کې به مسلمان دغه مسؤليت ته ژمن وي.دروغ،زنا،خيانت،قتل،سود او نور محرمات برابره خبره ده چې دمسلمانانو په خپل منځ کې وي او يا دمسلمان له لورې بل کافر سره وي په هر حالت کې منع دي.ځکه چې ممنوعات په هر حالت کې ممنوع وي. نو په دې اساس دا شيان هغه څه دي چې د دار په بدليدو سره دا نه بدليږي او ددې احکامو په موضوع کې هيڅ تغير نه راځي.

امام شافعي رحمه الله[1] وايي: حلال په دارالاسلام کې هم حلال دي او په د ارالکفر کې هم حلال دي. حرام په دارالکفر کې هم حرام دي او په دارالاسلام کې هم حرام دي[2]

په کفري هیوادونو کې د حدودو د اقامې په هکله فقهاء مختلف شوي دي. احناف علماء وايي چې په کفري هیوادونو کې حدود د تطبیق وړ نه دي او نه به تطبقیږي ځکه چې حدود چې تطبیقیږي دا د مسلمان سلطان پورې اړه لري او همغه به یې تطبیقوي. نو که سلطان وي نو حدود به هم وي او که سلطان نه وي نو حدود به هم نه وي. ځکه چې دتطبیق امکان یې نشته دی. نو کله چې سلطان نه وي نو حدود هم په کې ساقط دي. احناف فقهاء وړاندې زیاتوي: دا حکم یوزاې په کفري هیوادونو پسې نه دی خاص بلکې په هغه اسلامي هیوادونو کې هم د تطبیق وړ دی چې هلته اسلامي نظامونه نه وي بلکې د اسلامي نظام ځای نورو نظامونو نیولی وي.[3]

یو شمیر حنفي[4]، مالکي[5] شافعي[6] او حنبلي[7] فقهاء وايي: که چیرته یو مسلمان له یوې کتابۍ سره په دارالکفر کې نکاح کوي یا له مسلمانې سره نکاح کوي دا کار مکروه دی. دا خبره دوی دهغه اصل له مخې نه کوي، کوم چې ما مخکې ذکر کړ بلکې ددې قول لپاره نور اسباب لري چې دوی دا ډول فتوی ورکړې ده. هغه د زواج شرعي محظورات دي چې په کفري هیوادونو کې دزواج په نتیجه کې د مشرکینو تولی ډیریږي. یا دا چې راتلونکی نسل بیا په فتنو کې واقع کیږي. کله چې ورته دا ډول عوارض نه پیښیږي نو بیا حکم خپل اصل ته رجع کوي او کراهیت له منځه ځي. خو که چیرته دا ډول عوارض رامنځ ته کیږي نو بیا کراهیت رامنځ ته

---

[1] ابوعبدالله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان ابن شافعي الهاشمي القرشي المطلبي دی نوموړی په: 150 هـ فلسطين غزه کې زیږیدلی او په: 204 هـ په مصر کې وفات شوی ، نوموړی داهل السنت له څلورو امامانو څخه یو دی، دشافعیت نسبت هم ده ته کیږي نوموړی لوي شاعر، ادیب ، فقیه او په قرآتو باندې پوه وو، په قاهره کې دفن دی د ډیرو ښو کتابونو لیکوال دی: (الاعلام للزرکلي: ج٦/ص٢٦).

[2] الأم، المؤلف: الشافعي أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي (المتوفى: 204هـ)، الناشر: دار المعرفة – بيروت، الطبعة: بدون طبعة، سنة النشر: 1410هـ/1990م، ج:٧، ص:٣٧٥.

[3] فتح القدير, المؤلف: كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (المتوفى: 861هـ), الناشر: دار الفكر, الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ, عدد الأجزاء: 10, ج:6, ص:622.

[4] مبسوط للسرخسي، ج: ١٠، ص: ٩٦.

[5] مواهب الجليل في شرح مختصر خليل, المؤلف: شمس الدين أبو عبد الله محمد بن محمد بن عبد الرحمن الطرابلسي المغربي، المعروف بالحطاب الرُّعيني المالكي (المتوفى: 954هـ), الناشر: دار الفكر, الطبعة: الثالثة، 1412هـ - 1992م, ج:3, ص:477.

[6] مغني المحتاج، ج:٣، ص: ٣١١.

[7] الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الإمام أحمد بن حنبل, علي بن سليمان المرداوي أبو الحسن, سنة الولادة 817/ سنة الوفاة 885, تحقيق محمد حامد الفقي, الناشر دار إحياء التراث العربي, سنة النشر, مكان النشر بيروت, ج:8, ص:311.

کيږي.دارالکفر دوه ډوله اړيکه له دارالاسلام سره لري يا به دا اړيکه د جنګ اړيکه وي يا به دسولې اړيکه وي. نو په دې کې شک نشته دی چې يو ډول تعامل بايد له کافرانو سره هم وي نو کافرانو سره به د عهد په زمانه کې ددوی مالونه مصؤن وي،وينه او عزت يې مصون دی،ددوی پيمالول جائز نه دي ځکه چې مسلمانانو دوی سره عهد او وعده کړې ده.په خلاف دهغه کافرانو چې په دارالحرب کې اوسيږي ځکه چې ددوی وينه،مالونه او عزت يې د جنګ په حکم کې دی ځکه چې دوی په مسلمانانو باندې جګړې کړي دي.

موخه مې له دې عبارت څخه دا وه،که چيرته يو کافر د عهد په صورت کې وي او د مسلمانانو هيواد ته راغلی هم نه وي،نو په دې صورت کې دده مال وينه او.. ټول خونه دي دي او د دار بدليدل په حکم کې تغير نشي راوستلی او تغير د دار مؤثر نه دی ،خو که چيرته کافر په دارالحرب کې وي او له مسلمان سره عهد ونلري،نو په دې صورت کې دده مال،وينه او... ټول د جنګ په حکم کې دي او دلته د دار بدلون موثر نه دی .

اوسني وخت کې چې کوم مسلمانان په دارالکفر کې اوسيږي نو ددې مسلمانانو دحکم په اړه يو شمير علماء وايي چې ددې مسلمانانو وينې،مالونه او عرضونه جايز دي،ځکه چې دوی محاربين او جګړه ماران دي.يو شمير وايي چې ددوی مال،عزت او وينه په مسلمانانو باندې حرامه ده.خو ددغه اختلاف د حل او غوره ترجيح لپاره راځو د شخصي احوالو اړوند د يو معاصر دکتور سالم بن عبدالغني الرافعي [1]نظر چې په احکام الاحوال الشخصية للمسلمين في الغرب کې يې بحث کړی دی هغه راوړو دا مسله په دوه اصلونو بناء ده:

اول:له يو کافر دولت سره عهد،يا له هغې سره دجګړې اعلان دا به دمسلمانانو هغه خليفه کوي چې هغه د ټولو مسلمانانو نماينده وي د ټولو مسلمانانو حکم تمثيلوي.دا خليفه به دمسلمانانو په نيابت باندې جګړه کوي يو مسلمان په انفرادي توګه نشي کولی چې له کافرانو سره دسولې عقد وکړي ياد جګړې اعلان پرې وکړي د خليفه له اجازې پرته.نو دا ډول کار سم نه دی .

[1] پوره نوم سالم بن عبد الغني بن أحمد بن عبد القادر الرافعي،په طرابلس لبيا کې زيږيدلی دی،په کال ١٨١٦ ميلادي کې،لومړنۍ زده کړې يې له شيخ مصطفی الحفار سره وکړې،بيا يې دمشق ته سفر وکړ،له هغې وروسته مکې معظمې ته په علمي سفر لاړه،هلته يې حج هم وکړ،نوموړي عثماني خلافت ته هم ډير خدمتونه کړي دي او يو بهترين صوفي او عصري عالم وو، يو پياوړی ليکوال دی چې خپل روح يې بيا په مکة مکرمة کې خپل خالق ته وسپاره.البته د وفات دقيقة نيټه يې نده معلومه.ويکيپيډياء.

البته په داسې یو حالت کې چې اسلامي نړۍ سره ویشلې ده مسلمانان یو واحد امیر نه لري اسلامي هیوادونه بیل بیل دي ټول جلا جغرافیې لري هر هیواد جلا ولسمشر لري د یو اسلامي هیواد له یو کفري دولت سره دوستي وي خو له بل سره یې بیا دښمني وي برعکس د بل اسلامي هیواد دهغه دولت سره دوستي وي چې دبل اسلامي هیواد ورسره دښمني وي،نو په داسې یو مایوسونکي او بد حالت کې بیا زموږ د اسلامي فقهاؤ له هغه فتوی او حکم سره احتیاط پکار دی چې د جګړې او عهد په هکله راغلی دی ځکه چې اسلامي نړۍ یوه واحده جغرافیه نلري واحد مشر نلري،واحد قلمرو نه لري،مشترکې او واحدې ګټې نه لري،په داسې یو ګډوډ حالت کې د پخوانیو فقهاؤ له فتوی ګانو سره عاقلانه برخوردونه پکار دي.

په داسې یوه معاصره نړۍ کې چې اسلامي نړۍ کې نوې جغرافیې را زیږیدلي دي نوې فقهې او احکامو ته اړتیا ده.فقهاؤ باندې لازم ده چې نوي اجتهادات وکړي ترڅو نوي او نوازل مسائلو ته حکم راوباسي.

دوهمه خبره:په اسلام کې دجګړې موخه داده چې ترڅو فتنة له منځه لاړه شي خدای جل جلاله په خپل کلام کې وایي: { وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ}[1]

ژباړه:او جنګ کوئ تاسې له دوئ سره تر هغه پورې چې پاتې نشي فتنه(شرک او فساد)او شي دین (حکم)خاص الله لره پس که چیری وګرځیدل (دوی له شرکه نو تاسې تجاوز مه کوئ پر دوی باندې)نو نشته هیڅ تیر م ګر(خو شته جزا د ظلم)پر ظالمانو باندې.[2]

فتنة هغه څه دي چې د الله جل جلاله لاره یې بنده کړي وي مطلق کفر فتنة نده هر کس ته چې دې د اسلام دعوة وکړ تا ورته ورسوه او خپل مسولیت دې اداء کړ نو که هغه قانع هم نه شي دهغه خپله خوښه ده ته پرې جبر او اکراه نه شې کولی خو که چیرته داسې یو طاغوت راپیدا شي چې د اسلامي دعوت مخه نیسي نو دالله جل جلاله لاره بندول دي دا داسې فتنة ده چې ازاله یې بیا واجب ده نو په دې اساس بیا له دې فتنې سره قتال او جګړه واجب ده.

[1] سورة البقرة،ایت:۱۹۳.

[2] تفسیر کابلی،ج:۱،ص:۱۴۳.

همدا لامل دی چې جګړه په اسلام کې ځانګړي اصول لري چې له دغه اصولو څخه په کې سرغړونه جائز نده نه دغه اصولو ته سپک کتل جائز دي.

له دغه اصولو څخه یو دادی چې: ته به کافرانو ته دعوت ورکوې چې اسلام راوړي دا ځکه چې اسلام خوښه بولي چې خلک په دنیا او اخرت کې نیکمرغي ترلاسه کړي نو که چیرته یې اسلام راوړ نو دوی دخپلو ښارونو، مالونو او عزتونو خاوندان دي ځکه چې اسلام په خلکو باندې تسلط نه غواړي بلکې د خلکو د دنیا او اخرت ګټه غواړي. خو که چیرته یې اسلام رانه وړ نو بیا به ورته ویل کیږي چې تاسې په خپلو هیوادونو کې پریږدئ چې مسلمانان اسلام ته خلک دعوت کړي ځکه چې اسلام دوی په دې نه مجبوروي چې دا خلک خپل دین پریږدي او د جبر په صورت کې په اسلام کې داخل شي. نو که چیرته یې دا خبره ومنله نو بیا به ورسره جګړه نه کیږي خو که چیرته یې ونه منله نو بیا به ورسره دجګړې اعلان کیږي او دوی به پوهیږي چې ددوی سره دمسلمانانو دجګړې موخه او هدف څه دی. الله جل جلاله فرمایي: {لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ}[1]

ژباړه: ددې لپاره چې هلاک شي هغه څوک چې شان یې هلاکت وي او ژونه دي پاتې شي هغه څوک چې شان یې ژوندون وي پس له قیامته د روښانه حجت بیشکه الله تعالی خامخا ښه اوریدونکی دی ښه عالم دی.[2]

البته دومره ده چې دوی ته به د جګړې خبر ورکول کیږي. خدای تعالی په خپل کتاب کې فرمایي:

{وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ}[3]

ژباړه: که ویریږې(ای محمده) د کوم قوم (چې وعده یې له تاسره کړې ده) دخیانت، نو وغورځوه دوی ته (دغه عهد) په (داسې ډول چې شئ تاسې او هغوئ سره) برابر، بیشکه الله جل جلاله نه خوښوي خیانت کونکي.[4]

---

[1] سورة الانفال، ایت: ۴۲.

[2] تفسیر کابلی، ج: ۱، ص: ۱۰۱۷.

[3] سورة الانفال: ایت: ۵۸.

[4] تفسیر کابلی، ج: ۱، ص: ۱۰۲۸.

نو ددې اصل په رڼا کې اوس دا خبره څرګنده شوه چې دهغه کسانو برداشت ناسم دی چې مطلقا د کافرانو د وینې تویولو ته جواز ورکوي.اسلام کله هم دا نه دي ویلي چې تاسې له مطلق کافر دولت سره یا مطلق کافر سره جګړه وکړئ ځکه هر کافر حربي نه دی البته یو شمیر کافر دولتونه به دمسلمانو دولتونو سره دوستي او اړیکې لري او له یو شمیر نورو مسلمانو دولتونو سره به دښمني لري.خو که چیرته بیا داسې خبره وه چې دا کافر دولت له اسلام سره جګړه کوله اسلامي دعوت ته یې اجازه نه ورکوله مسلمانانو ته یې اذیت ورکوه،وژل یې،په نورو اسلامي هیوادونو یې فشار راوړه چې اسلامي شرعیت تطبیق نکړي نو بیا په دې اساس ورسره جګړه جایز او رواه ده.[1]

## دوهم مبحث:کورنۍ په اسلام!

غواړو په دې مبحث کې د اسلام له نظره کورنۍ[2] د څیړنې لاندې ونیسو.دې مبحث کې په دې غږیږو چې اسلام ښځې ته څه ورکړي دي ښځه یې له کوم ځای څخه کوم ځای ته راوسته غربي نړۍ له ښځې څه شی جوړ کړی ؤ او په اسلام کې د کورنۍ ارزښت څه دی.دا او دې ته ورته نورې پوښتنې به ان شاء الله په دې مبحث کې ځواب شي.

## لومړی مطلب:عربي جاهلیت کې د ښځې ځای.

د اسلام له راتګ وړاندې په عربي نړۍ کې ښځې ته د انسان په سترګه نه کتل کیده تر دې چې عرب جاهلانو به ښځه ان ژونه دی مخلوق نه باله ښځه د ژوند له مهمو بګرونو څخه حذف وه په مهمو مواردو کې ښځه بې واکه وه او تر دې چې د خپل ژوند په اړه یې هم دخبرې او پریکړې حق نه لاره دلته موږ له اسلام وړاندې دعربي جاهلیت یو څو وحشتونو ته اشاره کوو چې عربانو به له ښځو سره کول.

له میراث څخه محرومه ښځه:

---

[1] احکام الاحوال الشخصیة للمسلمین في الغرب ،دکتور سالم بن عبدالغني الرافعي ،دار ابن حزم،لبنان،بیروت،لومړی طبعه،ج:۱،ص:۵۸-۸۸.

[2] کورنۍ چې په عربي کې یې الاسرة بولي،په لسان العرب کې ابن منظور الافریقي رحمه الله وایي:اصلا زغرې ته وایي،ځکه په زغره باندې ځان انسان له ګوزارونو ساتي،بیا یې اطلاق په په نیږدې خپلوان باندې شوی دی،خپلوان هم دغسې دي چې د مصیبت په وخت کې تاسره دغسې پیوسته وي لکه زغره چې په بدن وي.لسان العرب (۴،ص:۲۰۳)

په عربي نړۍ کې دجاهلیت پر مهال ښځه له میراث څخه محرومه وه، سعید بن جبیر[1] او قتادة رحمه الله[2] وايي: مشرکانو به مال یوازې نارینه او سړیانو ته ورکوه سپین ږیرو ته به یې هم میرا ورکوه نه به یې ښځو ته میراث ورکوه او نه به یې ماشومانو ته ترې څه شی ورکول عربانو دا عقیده درلوده چې میراث به یوازې هغه چاته ورکول کیږي چې هغه جګړه وکولای شي نو اساسا ښځې او ماشومان جګړه نه شي کولای نو میراث هم نه شي وړلای.[3]

ښځه خپله د مال په څیر په میراث وړل کیده!

د عربي جاهلیت جاهلانو په دې اکتفاء ونه کړه چې ښځه یې له میراث څخه محرومه کړه بلکې خپله یې له ښځې څخه مال جوړ کړ او دا به په میراث وړل کیده. امام بخاري رحمه الله له عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوي چې فرمايي: (کانو اذا مات الرجل کان أولیاؤه أحق بامرأته، ان شاء بعضهم تزوجها، و ان شاؤوا زوجوها، وان شاؤوا لم یزوجوها، فهم أحق بها من أهلها، فنزلت هذه الایة[4]: {یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا یَحِلُّ لَکُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ کَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَیْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ یَأْتِینَ بِفَاحِشَةٍ مُبَیِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ کَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَکْرَهُوا شَیْئًا وَیَجْعَلَ اللَّهُ فِیهِ خَیْرًا کَثِیرًا}[5]

ژباړه: ای مومنانو! نه دي حلال تاسې لره دا چې په میراث به اخلئ تاسې ښځې په زور سره او مه منع کوئ تاسې دا لپاره ددې چې یوسئ تاسې ځیني د هغه مال چې ورکړی وي تاسې دوی ته مګر چې راشي دوی فاحشه ښکاره او ژوند کوئ تاسې له دوی سره په نیکې طریقې سره پس که خوښې نه وې ستاسې دا ښځې نو ښايي چې نه به خوښوی تاسې یو شی حال دا چې ګرځولی به وي الله جل جلاله په دې کې ډیر خیر.[6]

---

[1] ابوعبدالله سعید بن جبیر الاسدي الکوفي، په کال۴۵هـ کې زیږیدلی اوپه کال۹۵هـ په کوفه کې وفات شوی دی، نوموړی تابعي دی او اصلاً حبشي دی، اودابن عباس او ابن عمر شاګرد ؤ ،په کوفه کې تر ټولو لوي عالم ؤ، الاعلام للزرکلي:ج۳ ص۹۳.

[2] ابوالخطاب قتادةبن دعامة بن قتادة بن عزیز السدوسي البصري دی نوموړی په کال: **61** هـ کې زیږیدلی او په کال: **118** هـ په بصرة کې وفات شوی دی نوموړی لوی مفسر، حافظ او ړوند ؤ په تفسیر، لغت او احادیثو کې ډیر پ وهؤ: الاعلام للزرکلي:۵/ ۱۸۹.

[3] تفسیر ابن کثیر,ج:1,ص:430.

[4] صحیح البخاري،ج:8,ص:245.

[5] سورة النساء،ایت:۱۹.

[6] تفسیر کابلی،ج:۱،ص:۴۴۸.

زید بن اسلم[1] ددې ایت په تفسیر کې وایي:د مدینې خلکو کې به چې کله په جاهلیت کې څوک مړ شو نو دده میرمن به هم هغه چاته په میراث کې پاتې کیده چې دده مال به ورته په میراث کې پاتې شوی و د چا به چې خوښه شوه نکاح یې ورسره کوله خو که خوښه یې نه شوه دده په ملکیت کې وه او دده ته په میراث رسیدلې وه.[2]

لورګانې ژوندۍ ښخول او دهغوئ په زیږون خپګان!

کله به چې په عربي جاهلانو کې دچا لور وشوه نو خپه کیده به دا به یې بده ګڼله او ډیرو عربانو به خپله لور ژوندۍ خښوله کله چې ته د عربو د تاریخ دې څپرکي ته سر ورښکاره کړې نو تاسې ته به پته ولګیږي چې عربي نړۍ دتیارو په سمندر کې څومره ورغوټه شوې وه. الله جل جلاله په خپل کلام کې دعربي جهالت ددې چارې په اړه وایي:

{وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ (58) يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ}[3]

ژباړه:او کله چې خبر ورکړل شي یوتن ددغه کفارو ته په پیدا کیدو د لور سره نو ټوله ورځ وګرځي مخ دده تک تور له غم څخه حال دا چې ډک وي دی له قهره(خپلې ښځې ته چې لور دې ولې راوړې ده)پټ ګرځي له قوم خپل له سببه د ناخوښۍ دهغه شي څخه چې خبر ورکړل شوی دی ده ته په هغه سر ،ایا وساتي دی خپله لور سره د سپکوالی او که یې ومنډي ژوندۍ په خاوره کې.[4]

الله جل جلاله ددوی  دا صفت وغنده ځکه چې دې عربانو به لور ته په ډیرو بدو سترګو کتل او خدای ورته امر وکړ چې د لورګانو قدر وکړي او دهغوئ خښول منع کړي.

ښځه دبشري نړۍ لپاره هغه مهال په کوم ځای کې وه له شک پرته چې له ښځې سره د تاریخ په اوږدو کې دومره ظلم شوی دی چې نړۍ کې یې ټول انسانیت د سوال لاندې راوستی دی.که چیرته موږ دبشر پخواني تاریخ ته سر ورښکاره کړو نو من حیث یو انسان به په خپل

---

[1] ابو اسامة یا ابوعبدالله زید بن أسلم العدوي العمري د زیږیدو نیټه یې معلومه نده او په کال: ۱۳۶هـ کې وفات شوی دی، نوموړی فقیه، مفسر، ثقه او کثیر الحدیث وو، په مسجدنبوي کې یې د حدیثوحلقه هم لرله: الأعلام للزركلي (3/ 56)

[2] تفسیر ابن کثیر،ج:۱،ص:۴۴۱.

[3] سورة النحل،ایت:۵۸-۵۹.

[4] تفسیر کابلی،ج:۱،ص:۱۵۴۲.

وجدان او گریوان کې دخجالت او شرم څخه سر ښکته واچوو خو اسلام ښځه بیرته خپل اصلي ځای ته راوګرځوله هغه یې مور کړه دهغې دپښو لاندې یې جنت راوړ هغه یې خور کړه، هغه یې دنسلونو او تربیت ځانګو کړه هغه څه چې موږ به پرې په راتلونکو پاڼو کې خبره وکړو. په هر حال ښځه هغه مهال له نورو بدبختیو سره هم مخ وه د میاشتني مرض پر مهال به یې له خونې شړله دخبرې حق یې نه درلوده او نور ډیر څه هم وه خو دبحث د اوږدیدو له امله موږ نشو کولای چې ټول شیان په تفصیل سره وڅیړو.

## دوهم مطلب: په غیر اسلامي هیوادونو کې د ښځې حالت ته کتنه.

نوې اروپا چې کله رامنځ ته شوه له ټولو هغه شیانو سره یې کرکه او دوښمني پیل کړه چې هغې کې دیني رنګ لیدل کیده تر دې چې غربي مفکرینو نکاح او کورنۍ په ټوله مانا رد کړه او دا یې د منځنیو پیړیو زیږنده بلله دوی  به په خپلو محاضرو کې خلکو ته ویل چې موږ باید د زړو پیړیو د رواجونو څخه ځان خلاص کړو. تر دې چې واده په اروپا کې یو عبث او بې ځایه شی وبلل شو د نر له نر سره اړیکه روا شوه همجنس بازي او همجنس ګرایي په ډیرو اروپایي پارلمانونو کې مشروعیت وموندو هغه څه چې نن یې ټول انساني نسل له ګوابښ سره مخ کړی دی.

اوس خو لا په اروپا کې داسې حرکتونه هم شته دي د فیمنیسم لپاره خپلې هڅې کوي ددې هڅو څخه یې موخه داده چې ښځې ته په ټولنه کې برلاسي ورکړي د سړي واک پای ته ورسوي او دغه حرکت ځانته جلا سیر ټاکلی دی تر دې چې دوی  ځانته خپل ادبیات لري دوی  داسې هڅې کوي چې هغه الفاظ هم تغیر کړي چې له هغې څخه نارینتوب څرګنه دي ږي او بلا اخره دا هغه افراط دی چې که نړۍ دغه څه ورسره ومني شوني ده چې همدلته انساني نسل پایښت وموميِ ځکه فیمنیستان تر دې کچې افراطي نظریې لري چې له طبیعت سره په جګړه دي او په دې هم نیوکه لري چې ښځه حمل کیږي دا ډله وایي چې د ښځې په ځای ولې سړی حمل نه اخلي ؟ولې دا توازن نه ساتل کیږي! ځکه چې ښځه خو مجبوره نده چې څه سړي وغواړي همغه دې ترسره شي.

په هر حال؛ دا خو موږ د اروپا په اړه عمومي خبره وکړه. په پنځلسمه میلادي پیړۍ کې چې کله پاپانو د وده اجازه ورکړه نو یو شمیر خلک یې بیا هم له واده منع کړلوفقیرانو ته به یې د واده

جواز نه ورکوه فقیران به یې له واده څخه منع کول دا چاره د نورو اروپایي هیوادونو په شمول په المان کې هم رواج وه،په همدې ډول ضابطانو او دوظیفو درلودونکو مامورینو هم حق نه لاره چې واده وکړي ځکه چې دوی اصلا په مالي لحاظ د واده کولو وړتیا نه لرله البته دوی هله واده کولی شو چې ددوی مسؤلینو ورسره کله خبره منله او دوی ته یې د واده جواز ورکړ بیا به یې واده وکړ.دا بنه دي زونه له منځنیو پیړیو روان وو او تر شلمې پیړۍ یې دوام وکړ تر دې چې په شلمې پیړۍ کې په نازي المان کې دا له تبعیض او تمیز ډک چلند لاپسې ډیر شو او نازي جرمنانو د نورنبرگNuernberg په نامه یو قانون په ۱۵/۹/۱۹۳۵ تاریخ باندې تصویب کړ او ددغه قانون له مخې د یو الماني واده له غیر الماني او پردي سره منع شو لکه یهودان او نور.

دا ځکه چې هټلر غوښتل چې د المانیانو نسب خالص پاتې شي او د نورو خلکو نسبونه ورسره گډ نشي. همدې قانو د خاوند او واده اړیکې تنظیمولې.ددې قانون په اساس که چیرته یه الماني انسان له بل هیواد اوسیدونکي سره واده وکړ نو دا به یو ستر خیانت شمیرل کیده.دا واده به باطل اعلانیده ددغه جرم مرتکب الماني کس ته به سزا ورکول کیده.1

البته دا لړۍ بیا په یو بل قانون کې لغوه شوه او د و واده په تړاو بیلابیل نور قوانین هم راغلل چې د واده په اړه په کې نورې خبرې وې داسې یو مهال هم راغی چې واده په کې شرعي او جائز بڼه خپله کړله المان کې به خلکو بیا واده په محکمه کې کوه دې ته به یې مدني واده وایه په دې واده به یې پروگرام هم نیوه له دې مرحلې وروسته د المان دولت ټول هغه موانع او قوانین لغوه کړل چې د واده مخه به یې نیوله تر دې چې کلیساء یې په هم په ډیرو برخو کې بې واکه کړه،البته یو څو موانع چې هغه د خپلوۍ عمر او د ډیرو ښځو سره ودونه وو دا لاهم په خپل ځای پاتې شول.2

دا خو په ټوله کې په المان او غرب کې د مشروع لارې د کورنۍ جوړښت ته کتنه وه البته په دې هیوادونو کې ډیری مهال داسې کورنۍ هم وې چې هغه د واده له اړیکې نه وې جوړې خو ماشومان به یې زیږول او کورنۍ به یې لرله. په المان کې د المان د ډیموکراسۍ گوند مشر اگسټ بیل چې له (۱۸۴۰-۱۹۱۳)کې تیر شوی دی ده به د واده په هکله ډیر بد نظر درلوده.

---

[1] Die bedrohte familieص:۲.زیجات:ص:۱۵

[2] Die bedrohte familieص:۲.زیجات:ص:۱۵

ده ویل:سړی او ښځه هم د حیوان له جنس څخه دي تاسې کوم حیوان لیدلی چې له بل حیوان سره یې واده او نکاح کړي وي؟نه.بلکې د ټولو حیواناتو ترمنځ هسې هم دفطرت له لورې همیشنی نکاح رامنځته شوې ده.[1]

په همدې ډول د المان په پوهنتون کې یو پخوانی استاد ډریډسل وایي:نکاح د انساني شهوت او مینې په وړاندې خنډ دی انسان باید له دې قیدونو څخه خلاص وي او هر مهال چې وغواړي باید خپلو غوښتنو ته لاس رسی ولري اړتیا ده چې داسې قوانین باید ایجاد شي چې ددې پدیدې مخه ونیسي ترڅو جنسي اړیکه په اسانی او کم وخت کې ونیول شي.[2]

تاسې گورئ چې په غرب کې کورنی او نکاح ته په کومه سترگه کتل کیږي او دا غربي مفکرین خلک په کوم ډول د کورنی له منځه وړلو ته رابولي د زنا کولو ته یې رابولي.

تر دې چې په غرب کې تر ډېره د کورنی په ماهیت او حقیقت کې هم اختلاف وو یو شمیر کسانو به ویل:کورنی باید د واده په نتیجه او پایله کې رامنځ ته شي او یو شمیر نورو به ویل:واده یو ښکلي شی دی او هیڅ اړتیا ورته نشته.[3]

یو شمیر نورو به ویل:کورنی مانا دا چې د یو سړي اړیکه له ښځې سره دا عبارت دی له کورنی څخه. یو شمیر نورو به بیا ویل: کورنی دا هم ده چې ددوه نارینه څخه یا ددوه ښځینه څخه جوړه شوي وي.تر دې چې یو شمیر اروپایي دولتونو لکه ډنمارک دسړي او سړي واده هم قانوني کړ او اوس دا قانون په ډیرو اروپایي هیوادونو کې د تطبیق وړ دی.[4]

له دې وروسته بیا په ډیرو اروپایي هیوادونو کې دناجایزه اولاد په اړه هم بحث راغی یو شمیر هیوادونو بیا د جائز او غیر جائز دواړو اولادونو په منځ کې توپیر کاوه خو یو شمیر نورو بیا دا توپیر نه کوه تر دې چې المان بیا یو قانون هم تصویب کړ چې جایز او ناجایز اولادونه هیڅ فرق او توپیر سره نه لري او ټول یو ډول حقوق لري او له دې وروسته بیا ډیرو اروپایي هیوادونو هم دا توپیر او فرق له منځه یوړ.[5]

---

[1] الحجاب،لیکوال:مولانا ابو الاعلی مودودي،بدون الطبع،مکتبة النور،دمشق سوریه،ص:۷۱.

[2] الحجاب،ص:۷۱.

[3] مخکینی مرجع.

[4] د ډنمارک قانون،د چاپ کال:۷/٦/۱۹۸۹،لومړی ماده،د کورني ژوند او واده په اړه بحث.

[5] احکام الاحوال الشخصیة للمسلمین في الغرب.ص: ۱۷۰.

ددې کار نتیجه دا شوه چې په اروپا کې د ودنو کچه راټیټه شوه، ډیرې کورنۍ له منځه لاړې او په ټوله کې کورنی نظام له خطر سره مخ شو همدا ده چې په المان کې د نکاح له عقد پرته د ښځینه او نارینه اړیکې ډیرې شوې ناجائز اولادونه ډیر شول تر دې چې شمیر یې هم په ډیریدو دی دولت ددې کار دمنع لپاره کوم قانون هم نه دی صادر کړی تر دې چې اوس په المان کې د نکاح په ترڅ کې راغلې کورنۍ او ناجائزه اولادونه یو ډول او برار دي. یو ډول حقوق او امتیازات لري همدا ده چې نوې احصائې ښايي چې په المان کې واده په ډیر بد شکل سره د لمنځه تللو په حال کې دی د ناجائزه اولاد شمیرې ورځ په ورځ د ډیریدو په حال کې دي.[1]

نو په ټوله کې ویلی شو چې په غیر اسلامي هیوادونو کې کورنۍ او کورنی نظام له منځه تللی دی په غیر اسلامي هیوادونو او د غرب بې بندوه باره چاپیریال هغوئ دومره زیانمن کړل چې دکورنۍ نشتون له امله اوس مهال د هغوئ نسل له سخت کمښت سره مخ دی هلته کورنی ژوند بیخي د لمنځه تللو په حال کې دی. نو اصلا ویلی شو د اسلامي نړۍ او غربي نړۍ کورنی نظام اصلا د پرتلې او مقایسې وړ نه دی .

که څه هم موږ پورته موږ ښځه د نوي جاهلي تمدن له مخې د ښځې حیثیت او ځای په کې معرفي او در وپیژنده کټ مټ دا حالت له اسلام څخه وړاندې هم د ښځې همدغه حال وو که ووایو چې اوسني جاهلي تمدن ښځه له زاړه جاهلیت څخه لاپسې تباه کړې او بدبخته کړې ده زیاتی به نه وي.

د همدې لپاره غواړم چې له اسلام څخه وړاندې تیر جاهلي تمدن کې هم د ښځې ځای باندې لږ تم شم ترڅو د اوسني جاهلیت سره یې ورته والی ښه څرګند شي.

## دریم مطلب:په اسلام کې دښځې مقام او ځای.!

اسلام برعکس د نورو جاهلي تمدونو ښځې ته ځانګړی حیثیت ورکړ هغه یې له سړي سره په انساني چوکاټ کې برابره کړه ښځه یې مور کړه، دمور دپښو لاندې یې جنت پیدا کړ.

ښځه یې خور کړه، هغې ته یې دپلار په میراث کې ونډه ورکړه.

[1] مخکینی مرجع.

ښځه يې د نسلونو د تربيت زانګو کړه او د ټولې ټولنې د روزنې او تربيې درووند پيټی يې ورته په اوږو کړ.او بلا اخره ښځې ته يې واک ورکړ،ښځه يې په انساني چوکاټ کې داخل کړه او ټول هغه تصورات يې دښځې اړوند بدل کړل چې ښځه يې ځپلې وه.د ښځو په اړه يې يو روغ سورة ونوموه،سورة النساء!د بلې معززې ميرمنې په نوم يې بل سورة ونوموه!سورة مريم.!

الله جل جلاله فرمايي:

{يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا}[1]

ژباړه:ای خلکو! له خپل رب څخه وويريږئ! هغه رب چې پيدا يې کړئ تاسې له يوه نفسه او پيدايې کړئ له دې نفس څخه جوړه چې حوا ده او خپاره يې کړل له دوی څخه سړي ډير اوښځې ډيرې وويرئږئ! له هغه الله چې سوال کوئ تاسې يو تر بله په نامه دده سره او وويريږئ! له پرې کولو د خپلوئ څخه بيشکه الله جل جلاله دی پرتاسې ساتونکی.2

په همدې ډول اسلام بيرته ښځه خپلو حقوقو ته راوګرځوله ښځې ته يې ميراث کې حق ورکړ،ښځه يې انسان وبلله،په داسې حال کې چې جاهليت کې ښځې د ميراث حق نه لاره د انسان په سترګه ورته نه کتل کيدل،دښځې او سړي په منځ کې يې مساوات رامنځ ته کړ.

په همدې ډول اسلام ښځې ته ميراث حق ورکړ او انسانه يې وبلله دملکيت حق ورکړ هغه يې له سودا ګريز توکي څخه راوويسته دمال خاونده يې کړه د تجارت واک يې ورکړ. برابره خبره ده چې دا مال دميراث له لارې لاسته راوړي او که دا مال د تجارت له لارې ځکه چې لومړی تجاره ميرمن هغه خديجه رضی الله تعالی عنها وه چې تجارت يې کاوه او زموږ خوږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته په مال تجارت کوه.

شخصي حقوق يې هم ورته ورکړل ښځه حق لري چې د خپل ژوند شريک انتخاب کړي دښځې نظر او رايه په کې واوريدل شي او دهغې پلار يا ورور او يا په ټوله کې ولي نشي کولی چې ښځه دهغې له اجازې پرته په نکاح ورکړي.

---

[1] سورة النساء،ايت:۱.

[2] تفسير کابلی،ج:۱،ص:۴۲۵.

په همدې ډول ښځې ته اسلام دخلع(خاوند څخه دمال په بدل کې جلا کېدل)حق هم ورکړ ترڅو له خپل خاوند څخه جلا شي ترڅو هغه ښځې چې خاوندان يې ظالمان او بد اخلاقه دي ترڅو له هغوئ خلاصه شي.

اسلام د ښځې او سړي ترمنځ په جنائي قوانينو کې مساوات راووست په مدني قوانينو کې يې هم ددوی ترمنځ مساوات راوست او ددوی مال،عزت او ژوند او ټول هرڅه يې له يو ډول خونه دي توب او مصؤنيت څخه خونه دي دي.

اسلام ښځې ته د زده کړې حق هم ورکړ هغوئ ته يې ترغيب ورکړ چې زده کړې وکړي نبي کريم صلی الله عليه وسلم به په يوه ځانګړې ورځ ميرمنو ته زده کړه ورکوله هغوئ به هم تعليم ته حاضريدلې دنبي کريم صلی الله عليه وسلم په زمانه کې دښځو په منځ کې علم ډير مشهور شو.عايشه د ميرمنو او سړيو ترمنځ ځکه مشهور نوم دی چې ښه علم يې درلوده ګنې ميرمنې خو يې ټولې وې قرباني خو خديجې رضی الله تعالی عنها له عايشې ډيره ورکړې وه خو دعلم کتابونو کې بيا دعايشې رضی الله عنها نوم ځکه ډير تکراريږي چې هغه دعلم خاونده وه.نبي کريم صلی الله عليه وسلم امر وکړ چې له خپلو لونډو سره ښه تعامل وکړئ.هغه به فرمايل:(أَبُو بُرْدَةَ 1عَنْ أَبِيهِ أَيُّمَا رَجُلٍ كَانَتْ عِنْدَهُ وَلِيدَةٌ فَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا رَجُلٍ كَانَتْ عِنْدَهُ وَلِيدَةٌ فَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا وَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا ثُمَّ أَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ أَجْرَانِ)2

ژباړه:رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: هر سړی چې يوه وينځه ولري هغې ته ښه زده کړه ورکړي،بيا ادب ورکړي او هغې ته د ادب سمه ښودنه وکړي،بيا يې ازاده کړي او په نکاح يې واخلي نو دهغه لپاره دوه اجره دي.

په همدې ډول دتربيې په اړه نور هم ډير احاديث شته دي.خو موږ نه غواړو چې دا بحث نور اوږد کړو،ځکه چې که چيرته موږ نور ډير نصوص په دې اړه راوړو بيا خبره ډيره اوږديږي.همدلته دا بحث پای ته رسوو.

[1] ابو بردة بشپړ نوم يې أبو بردة بن أبی موسی الأشعری دی،چا ويلي دي چې نوم يې عامر بن عبدالله بن قيس دی،نوموړی په کوفه کې زيږيدلی دی،په کوفه کې يې قضاء هم کړې ده،دی د تابعينو په منځنۍ ډله کې راځي،دده روايتونه ټولو صحاح الستة راوړي دي،په کوفه کې په ۱۰۴ هـ کې وفات شوی دی.سير اعلام النبلاء،ج:۳،ص: ۴۳۰.

[2] صحيح البخاري،ج:۹،ص:۱۲٦.

## څلورم مطلب:په اسلام کې دکورنۍ ارزښت:

ښځه او نارینه دیو بل تکمیلونکي پیدا شوي دي،الله جل جلاله ښځه د نارینه لپاره پیدا کړې ده ترڅو انساني نسل دوام پیدا کړي ددې نسل د دوام او بقاء په خاطر بیا اسلام کورنۍ رامنځ ته کړې ده ترڅو کورنۍ د حلالې نکاح له لارې جوړه شي او انسان خپل شهوت په سم او درست ځای کې مصرف کړي ترڅو له دې لارې د انسان او نور حیواناتو ترمنځ فرق راشي.الله جل جلاله په خپل کتاب قران عظیم الشان کې فرمایي:

{جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ}[1]

ژباړه:گرځولي يې دي ستاسې له ځانونو څخه جوړې او له چارپيانو نه جوړې زياتوئ تاسې په دغه طريقې سره.[2]

دلته په دې ایت کې الله جل جلاله وایي: چې انسان او حیوان مې دواړه جوړه پیدا کړي دي او ددواړو ترمنځ مشترک ټکی دادی چې نور هم ډیرښت مومي.خو دومره ده چې د انساني نسل څخه موخه داده چې ځمکه ودانه کړي او انساني تمدن پایښت ومومي همدا لامل دی چې الله جل جلاله د انساني شهوت لپاره پولې ټاکلي دي ترڅو هغه موخه چې د کائناتو خالق ورته ټاکلې ده همغه متحققه شي همدا ده چې اسلام دښځې او نارینه ترمنځ د اړیکې پولې ترسیم کړي دي داسې اړیکې چې په دې سره انسان نیکبختي ترلاسه کوي او ټولنه له ګډوډۍ فاشل کیدا او نسل له منځه تګ څخه ژغورل کیږي همدا ده چې اسلام ددې هدف د تحقق لپاره واده رامنځ ته کړی دی الله جل جلاله په خپل معزز کلام قران عظیم الشان کې فرمایي:
{وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ  إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ}[3]

ژباړه:او هغه کسان چې دوی  خپلو عورتونو لره ساتونکي دي مګر په هغه ښځو خپلو یا وینځو چې مالکان شوي وي دهغوئ ښي لاسونه ددوی  پس بیشکه دوی  نه دي  ملامت کړای شوي.[4]

---

[1] سورة الشوری،ایت:۱۳.

[2] تفسیر کابلی،ج:۲،ص:۱۰۲٦.

[3] سورة المومنون،ایت:٥-٦.

[4] تفسیر کابلی،ج:۲،ص:۲٤۰.

اسلام د واده ډېره کینښوده دا په  دې اساس چې انساني نسل پاینښت پیدا کړي، دښځې او نر اړیکه د اصولو او قوانینو په رڼا کې ترسیم او برابره شي.همدا ده چې اسلام ددوه افراطي  او تفریطي نظریاتو ترمنځ منځلاري کړې ده ځکه چې یوه ډله خلک وایي چې واده سپک او له ذلت ډک عمل دی او بیخي دا اړیکه نده پکار.  بله ډله وایي:د ښځې په وړاندې بآید هر ډول دروازې خلاصې وي هر ډول اړیکه باید ورسره جایز وي.

اسلام غواړي چې انساني نړۍ باید یوه منظمه کورنۍ ولري او دا کورنۍ ځکه اړینه ده چې ترڅو انساني نسل پاینښت ومومي.همدا ده چې په نارینه باندې یې واجب کړې ده چې د خپلې ښځې نفقه باید ورکړي او دا دښځې حق هم دی په خپل خاوند باندې ځکه چې نفقه اسلام په سړي باندې لازمه کړې ده ترڅو میرمن ته یې ورکړي.

د اوسیدو د ځای زمینه به هم ورته برابروي، ترڅو ښځه په ارامه ژوند وکړي.له دې وراخوا نور ډېر حقوق یې هم ښځې ته ورکړي دي چې له دې څرګنه دي ړي چې اسلام په کورنۍ باندې ټینګار کوي کورنۍ ورته مهمه ده او دا داسلامي ټولنې یوه نه جلا کیدونکې برخه ده.

## دریم مبحث:کورنۍ په غیر اسلامي هیوادونو کې:

موږ په تیرو مبحثونو کې د کورنۍ اړوند په مهمو مسائیلو وغږیدو بیا مو په غیر اسلامي هیوادونو او د عربي نړۍ جاهلیت ته مو ځغلنده کتنه وکړه چې ښځې ته یې په کوم نظر کتل.بیا راغلو د اسلام له لیده مو د ښځې او دهغې د حقونو څیړنه وکړه بیا مو د اسلام له نظره کورنۍ وڅیړله اوس غواړو چې کورنۍ په غرب کې د څیړنې لاندې ونیسو.دا بحث به مو هم په درې مطلبونو کې پای ومومي.

## لومړی مطلب:کورنۍ د پخوانۍ(غیر مسیحي) اروپاء له نظره:

کورنۍ د اروپا په اوږده تاریخ کې هم شتون درلوده. کله چې دعربانو له تاریخ څخه کورنۍ څېړې،نو بیا په کورنۍ کې دوه پیرونه راځي  یو دکورنۍ جاهلي دوران وو او بل د  اسلام هغه انقلاب و چې د کورنۍ او ښځې په برخه کې اسلام راووست.دې انقلاب په اجتماعي،سیاسي،اخلاقي او ټولو برخو کې تغیر راووست.

په همدې ډول د اروپايي کورنۍ تاريخ هم شته دی او داروپا په تاريخ کې له پخوانۍ اروپا نيولې تر مسيحي او نوې اروپا پورې ددوی  کورنۍ ډير پړاووونه ووهل.

البته دا يو څه سخته خبره ده چې په ټکي دې يو څوک د اروپايي تاريخ څخه پخوانۍ کورنۍ تحليل کړي ځکه پخوانۍ تياره اروپا له علم او لوست سره په پوره دښمنۍ کې ښکيل وه، همدا ده چې ډير کم تاريخ پوهان په دې اړه ليکل کوي د ډيرو کمو مؤرخينو په لاسونو کې داسې مواد شته دي چې له هغې څخه د اروپايي ټولنې دکورنۍ حالت تحليلولی شي.

پخواني يوناني فيلسوف ارسطاطاليس [1]چې په ۳۲۲ قبل الميلاد کې وفات شوی دی هغه د يوناني کورنۍ په اړه وايي:

هغه وايي: کورنۍ ددوی  په نزد باندې داسې نه وه چې هغه له پلار، مور او اولادونو څخه راجوړه شوې وي بلکې کورنۍ هلته داسې وه چې په کورنۍ کې هغه مهال، نيکه، نيا، ناواده شوي اولادونه، واده شوي اولادونه له خپلو ميرمنو سره دهغوئ اولادونه، خادمان او غلامان ټول په پخوانۍ زمانه کې د کورنۍ برخه و. دوی  ټولو به د يو چت لاندې ژوند کوه دوی  به له يو بل سره دکور په چارو او دکورني ژوند په سنبالښت کې له يو بل سره مرسته کوله. د کورنۍ دا ډول په يوناني، رومي او ټولو هغه ټولنو کې دود وو چې هغه په زراعت باندې ولاړې وې. [2]

دا چې هغه مهال کورنۍ او ټولنې زراعتي وې نو په دې اساس يې ګڼو خلکو ته اړتيا لرله ترڅو دکورنۍ زراعت سنبال کړي څارويو ته پاملرنه وکړي فصل اوبه او خړوبه کړي خو دا خبره دا مانا نه لري چې هغه مهال کوچنۍ کورنۍ نه وې بلکې حتما وې خو په ټوله کې هلته غټې کورنۍ رواج وې. [3]

البته د کورنۍ دا پورته ډول په يوناني ټولنه کې وو کله چې رومي وخت راغی هغه له يوناني عصر څخه په شکل ټولنه او کورنۍ کې مختلف نه وو. البته دومره ده چې په يوناني عصر کې کورنۍ لپاره لا د  Familie اصطلاح نه وه کاريدلې او دا اصطلاح اصلا نه وه رامنځ ته شوې بلکې دا اصطلاح

---

[1] ارسطاطاليس يا ارسطو جې په معلم اول هم شهرت لري، په ۳۸۴ قبل الميلاد کې په يونان کې په يوه مالداره کورنۍ کې زيږيدلی دی او په ۳۲۲ قبل الميلاد کې له دې نړۍ تللی دی، نوموړی له مشهورو يوناني فليسوفانو څخه شميرل کيږي. الاعلام للزرکلي، ج:۲، ص:۴۸۳)

[2] Die bedrohte Familie، Page:17. ليکوال: ريني کونيج.

[3] Die Familie der Gegenwar, Rene Koenig,20.

په رومي عصر کې منځ ته راغله او ددې اصطلاح اطلاق په لومړي ځل دهغه لوی کور په اوسیدونکو باندې وشو چې په هغې کې دپلار، مور په شمول، اولادونه، میرمنې، خادمان او غلامان شامل وي.

د رومي دور په پای کې بیا د کورنۍ په اړه یوه بله اصطلاح هم رامنځ ته شوه چې هغه اصطلاح Pater Familie اصطلاح وه مطلب د کورنۍ مشر، دا اصطلاح دکورنۍ مشر ته کاریده به د کورنۍ تربیه هم دده په لاس کې وه په همدې ډول دکارونو مشري هم ده کوله دی په یو وخت کې د پاچا په څیر وه ټول کور به دده اطاعت کوه ده به خپلو اولادونو ته ادب ورکوه دا حق یې هم لره چې خپل اولاد قتل کړي یا یې چاته په گروۍ ورکړي، یا یې د غلام په څیر وپلوري په همدې ډول دې مشر به دخپلو اولادونو لپاره میرمن هم کوله او میرمن یې هم ورته طلاقوله او په دې چاره کې د زوي واک او اراده بیخي نه وه. البته دلته یوه بله مسله هم وه ددې مشر په څیر په ښځو کې هم یوه داسې مشره او دیکتاتوره وه چې ددې وضعیت د نورو ښځو په نسبت ښه وه ځکه چې دې ښځې ته لږه نسبي ازادي د کور په چارو کې وه او دې ښځې ته به یې په لاتیني اصطلاح کې( Mater Familie)ویله.1

نو اساساً په ټوله کې ویلی شو: چې ښځه د غربي مصادرو له مخې په یوناني ټولنه کې ډېره بده محاصره وه خپل ټول حقوق یې له لاسه ورکړي وو په رومي ټولنه کې یې هم دغسې حالت درلوده خو کله چې قیصر په رومي ټولنه واک ترلاسه کړ او مسیحیت په دغه ټولنه کې خپور شو نو بیا د ښځې وضعه یو څه ښه شوه او یو شمیر هغه واکونه چې مخکې پلار درلودل اوس یو څه دولت ته انتقال شول.

## دوهم مطلب: کورنۍ په پخوانۍ مسیحي اروپا کې:

کله چې قسطنطین2 یو رومي پوځي جنرال ته تسلیم شو. او کله چې په رومي قوم کې اباطرة په ۳۰۵ میلا دي کال کې په تخت کیناستل نو دغه مهال یې نصرانیت د رومي امپراطورۍ رسمي دین وگرځوه خو حقیقت دادی چې کله نصرانیان په دې وتوانیدل چې قسطنطین عیسوي کړي

---

[1] Die bedrohte Familie، Page: ۱۸.

[2] قسطنین اول او قسطنین عظیم باندې هم مشهور دی، پوره نوم یې عبارت دی له: فلافیوس فالیریوس کوستانتینوس، څخه، دی په کال ۲۷۲ میلادي کې د صربیا په نیش سیمه کې زیږیدلی دی او وفات یې په ۳۳۷ میلادي کې شوی دی. د رومي امپراطورۍ بنسټ ایښودونکی دی، نوموړي د ۳۰٦ میلادي کال څخه تر ۳۳۷ م کال پورې رومي قیصر پاتې شوی دی(موسوعة الاعلام، ج:۳، ص:۳۸)

او د دولت واګي د عیسویت په لاسونو وکې ورکړي چې په دې ډول یې په رومي امپراطورۍ باندې ولکه ټینګه کړه. مګر دومره ده چې دوی هغه مهال دین وبائله کله چې ددوی ډلې ته هغه سړي رانئوت چې په بوت پرستۍ کې کې غرق شوی و او دغه سړی عیسوي شو.په دې اړه د اسلامي نړۍ وتلی لیکوال علامة ابو الحسن ندوي[1] داسې لیکي:

کله چې یوه ډله نصرانیان په دې وتوانیدل چې قسطنطین نصراني کړي او له دې لارې په رومي دولت باندې عیسویت غالب کړي خو دوی په دې ونه توانیدل چې د بت پرستۍ ریښې پرې کړي له رومي ټولنې ددوی ریښه ورکه کړي همدغه وو چې ددوی دبریالیتوب نتیجه داسې شوه چې ددوی له دیني اصولو او دین سره بت پرستي هم ورګډه شوه او یو نوی دین رامنځ ته شو داسې دین چې په هغې کې نصرانیت او بت پرستي دواړه ځلیدل.او دا دواړه په کې د یو ډول واک او ځواک خاوندان وو.[2]

البته زه غواړم چې په دې مطلب کې دا خبره واضح کړو چې هغه مهال چې په رومي امپراطورۍ دین منګولې ښځې کړې،دا مهال کورنی نظام څومره تغیر شو.دغه مهال په رومي ټولنه کې د ښځې او په ټوله کې دکورنۍ اهمیت څومره وو.

نصرانیت له خپل ځان سره د واده،طلاق،کور او ښځې اړوند داسې احکام راوړل چې هغه مهال په ټوله مانا د هغه وخت له ټولنې سره په ټکر کې وو ځکه چې هغه مهال د خلکو ژوند په یو دود او ډول وو او نصرانیت بل ډول لاربښوونې درلودې. او دهغه مهال د واک د خاوندانو په فضل نصرانیت د نړۍ په بیلابیلو برخو کې خپور شو د نصرانیت څپې د رومي امپراطورۍ شرق او غرب دواړو ته خپرې شوې او خلک په دیني لحاظ په یو بل رنګ باندې رنګ شول.[3]

---

[1] پوره نوم یې عبارت دی له، أبو الحسنِ علي بنُ عبد الحي بن فخر الدين الحسني ندوي دی،نوموړی دنسب په لحاظ حسن بن علي ابن ابي طالب ته رسیږي،چې دده نیکه امیر قطب الدین مدني هند ته د اوومې میلادي پیړۍ په پیل کې هجرت کړی وو،دی د اسلامي نړۍ یو وتلی ستوری او مفکر دی،تر دې چې ده دهند د ابن خلکان لقب هم ګټلی دی،نوموړی په اسلامي نړۍ کې دګوتو په شمیر قلموالو کې راځي چې د اسلامي ویښتابه لپاره یې کار کړی دی او ډیر کتابونه لري چې مشهور کتاب یې ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين دی،دی په ، ۱۹۱۴ میلادي کال کې هند کې زیږیدلی دی او په ۱۹۹۹ میلادي کال کې وفات شوی دی، الأدب الإسلامي العالمية.http://www.adabislami.org .

[2] ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين,المؤلف: علي أبو الحسن بن عبد الحي بن فخر الدين الندوي (المتوفى: 1420هـ),الناشر: مكتبة دارالجيل،بيروت لبنان،ص:۲۳۷.

[3] ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين، ص:۲۳۷.

دې لاربښونو که څه هم په نصراني ټولنه کې د فحشاء، زناء، بدمرغیو او بد اخلاقیو کچه راټیټه کړه ټولنه یې په یو لحاظ له ناپاکیو څخه پاکه کړه، بد اخلاق یې په کې ورک کړل، ښځنه او نرمي یې رواج کړه خو دومره ده چې ښځه یې د ټولنې په سترګو کې ذلیله کړه ښځه یې بدمرغه کړه، ښځه یې ورټله او په ټوله کې یې واده او کورنۍ ډیره بده وځپله او دکورنۍ اخلاق او وضعیت یې ډیر ناوړه حالت ته بوته. کورني روابط یې ګډوډ کړل، د کورنۍ په برخه کې یې افراط رامنځ ته کړ، مجردۍ ته یې بهتري او غوره والی ورکړ، رهبانیت او یوازې والی یې رامنځ ته کړ، له نفس سره یې مبارزه پیل کړه دا په داسې حال کې چې د رومي امپراطورۍ پرمهال دښځې او کورنۍ وضعیت یو څه ښه شوی وو د پلار بې ځایه تسلط او واک په کورنۍ او میرمن باندې پای ته رسیدلی وو ښځې ته یې مدني حقوق ورکړي وو. په داسې یو حالت کې چې ښځه له یو ډول نسبي ښه ژوند څخه برخه منه شوې وه د کورنۍ وضعیت هم ښه شوی وو. په داسې یو حالت کې نو کلیساء راغله دې کلیساء نوې نظریه او ایډیا راوړله داسې نظریه چې دهغې اصل او بنسټ ناسم وو1.ددوی په مذهبي برخه کې داسې د پولس په نامه یو کس چې ده تورات هم لیکلی وو. داسې نظریات ورکړل: چې هغه بیخي د تمدن، کورنۍ او ښځې پر ضد وو. پولس په خپل خط او رساله کې چې کورنوس ته یې لیکلې ده لیکي: زه ډاریږم چې دا ښځه به زموږ ټولنه او انساني نړۍ داسې دوکه کړي لکه څنګه چې توري حا په خپل مکر سره ادم دوکه کړی وو په دې ډول به اوسنۍ ښځه ستاسې اذهان فاسد کړي او دمسیح شکل به په کې بدل کړي.2

دا خو ښځې ته د مسیحیت نظر وو، واده ته هم مسیحیت له دې په بدو سترګو کتل، تر دې چې یو شمیر دیندارانو واده حرام کړی وو. هغه چا چې به د واده اراده درلوده دوی به ورسره اړیکې پرې کولې ددوی په زړونو کې به یې دواده په اړه بد پالي پیدا کوله تر دې چې کله به چا له خپلې میرمنې سره د اختر شپه تیره کړه نو پاپانو به هغه د اختر له خوشالۍ څخه محروم کړ او دا کس به بیا له خلکو سره د اختر په خوښیو کې نه شو شریکیدلای.3

البته دومره ده چې د کلیساء راهبانو په رسمي ډول دا نظر او دریځ نه درلوده بلکې ډیر شمیر راهبانو دا نظر درلوده چې باید له واده څخه ځان لیرې وساتل شي ځکه واده دفتنې سبب ګرځي

---

1 مخکینی لیکنه.

2 مخکینی لیکنه.

3 نظام الاسرة بین المسیحیة والاسلام، ج: ۱، ص: ۱۹۰.

دا ځکه چې ښځه په خپل ذات کې فتنه ده او واده هم د فتنې له اهمو وسیلو څخه یوه وسیله ده.

تر یوڅه وخته کلیساء د رومیانو او وینځو ترمنځ اړیکې همداسې پریښې وې تر دې چې دکلیساء مشرانو د ۱۵۴۵ م او ۱۵۶۳ کلونو ترمنځ یوه پریکړه صادره کړه چې دهغې له مخې د واده حق یوازې کلیساء خلکو ته ورکولی شو او دا یوازینی شرعي لاره وه چې سړي او ښځې ته یې د واده د اړیکې اجازه ورکوله له دې پرته که چا په خپل سر واده وکړ یا یې په بله لاره باندې زواج وکړ، نو دا ټولې فساد او گناه شمیرل کیده.د واده په وړاندې هغه مهال ډیرې ستونزې او چلینجونه ول که چا به واده وکړ نو په هغه به گې بنه دي زونه د کلیساء له لورې لگیدل. مدني قوانینو به پرې نور جلا بنه دي زونه لگول او له دې لارې به یې خلک له واده منع کول.[1]

کلیساء به چې چاته د واده اجازه ورکوله نو په واده کې تر ټولو مهم عنصر هغه د دین او عقیدې یو والی وو. په همدې ډول د ډیرو ښځو کول منع وو، طلاق هم منع وو او مطلقا او په خپل سر باندې واده هم منع وو.[2]

له پورته کرښو معلومه شوه چې ښځې ته تحریف شوي عیسویت په ډیره بده سترگه کتل. عیسویت غوښتل له دې لارې له فحشاء، بربنډتوب او رذالت سره جگړه وکړي ترڅو رومي ټولنه له دغه اخلاقي ناروغیو څخه پاکه کړي خو برعکس دوی انساني نسل له خطر سره مخ کړ. بیا له هغې وروسته دې عیسویت او پاپانو غوښتل چې د کورنۍ د تشکیل او واده مخنیوی وکړي او هغه مهال یې ټول انساني نسل له خطر سره مخ کړی وو. له دې وروسته بیا ایله یو شمیر پاپانو په پنځلسمه عیسوي پیړۍ کې خلکو ته اجازه ورکړه چې واده وکړي هغه هم محدودو خلکو ته یې اجازه ورکوله. او له دې پرته که به چا په خپل سر باندې واده وکړ یا به یې له کلیساء اجازه وانخیسته نو دا به جرم او گناه شمیرل کیده. تر ډیره بریده ددغه سخت گیره حکمونو له امله مسیحیت کې کورنۍ ځپل شوې وه مسیحیت وخت ناوخته غوښتل چې له دې لارې کورنۍ بیخي له منځه یوسي. خو د پیړیو په تیریدو د کلیساء په نظر کې تغیر او بدلون راغی. همغه وو چې د شرایطو له مخې یې ځانگړو کسانو ته د واده اجازه ورکړه او ددوی د پیړیو طلسم په پنځلسمه پیړۍ کې مات شو. خو بیا هم ددې پریکړو په نتیجه کې دښځې څخه خپل مشروع حقوق سلب

[1] نظام الاسرة بین المسیحیة والاسلام،ج:۱،ص: ۱۹۰.

[2] هماغه لیکنه.

کړای شول، مدني حقوق ترې واخیستل شول او د بدن او ژوند ټول واک یې سړي ته ورکړل شو ترڅو هغه ترې خوند او لذت واخلي.

اوس دلته دا بحث پای ته رسوو او غواړو چې له دې وروسته کورنۍ د نوې اروپا په قوانینو او ټولنو کې ننداره کړو.

## دریم مطلب: کورنۍ په اوسنۍ اروپا کې:

نوې اروپا چې کله رامنځ ته شوه له ټولو هغه شیانو سره یې کرکه او دوښمني پیل کړه چې هغې کې دیني رنګ لیدل کیده. تر دې چې غربي مفکرینو نکاح او کورنۍ په ټوله مانا رد کړه او دا یې د منځنیو پیړیو زیږنده بلله. دوی به په خپلو محاضرو کې خلکو ته ویل چې موږ باید د زړو پیړیو د رواجونو څخه ځان خلاص کړو. تر دې چې واده په اروپا کې یو عبث او بې ځایه شی وبلل شو د نر له نر سره اړیکه روا شوه، همجنس بازي او همجنس ګرایي په ډیرو اروپایي پارلمانونو کې مشروعیت ومونده هغه څه چې نن یې ټول انساني نسل له ګواښ سره مخ کړی دی.

په هر حال؛ دا خو موږ د اروپا په اړه عمومي خبره وکړه. په پنځلسمه میلادي پیړۍ کې چې کله پاپانو د وده اجازه ورکړه نو یو شمیر خلک یې بیا هم له واده منع کړل. فقیرانو ته به یې د واده جواز نه ورکوه، فقیران به یې له واده څخه منع کول، دا چاره په ټولو اروپایي هیوادونو کې روانه وه تر دې چې د اروپاء زړه المان کې هم رواج وه په همدې ډول ضابطانو او دوظیفو درلودونکو مامورینو هم حق نه لاره چې واده وکړي ځکه چې دوی اصلا په مالي لحاظ د واده کولو وړتیا نه لرله. البته دوی هله واده کولی شو چې ددوی مسؤلینو ورسره کله خبره منله او دوی ته یې د واده جواز ورکړ بیا به یې واده وکړ. دا بنه دي زونه له منځنیو پیړیو روان وو او تر شلمې پیړۍ یې دوام وکړ تر دې چې په شلمې پیړۍ کې په نازي المان کې دا له تبعیض او تمیز ډک چلند لاپسې ډیر شو او نازي جرمنانو د نورنبرګ(Nuernberg) په نامه یو قانون په ۱۵/۹/۱۹۳۵ تاریخ باندې تصویب کړ او دغه قانون له مخې د یو الماني واده له غیر الماني او پردي سره منع شو لکه یهودان او نور.[1]

---

[1] Die bedrohte familie.page:2

دا ځکه چې هټلر غوښتل چې د المانيانو نسب خالص پاتې شي او د نورو خلکو نسبونه ورسره ګډ نشي. همدې قانو د خاوند او واده اړيکې تنظيمولې. ددې قانون په اساس که چيرته به الماني انسان له بل هيواد اوسيدونکي سره واده وکړ نو دا به يو ستر خيانت شميرل کيده. دا واده به باطل اعلانيده ددغه جرم مرتکب الماني کس ته به سزا ورکول کيده.[1]

البته دا لړۍ بيا په يو بل قانون کې لغوه شوه او د و واده په تړاو بيلابيل نور قوانين هم راغلل چې د واده په اړه په کې نورې خبرې وې داسې يو مهال هم راغی چې واده په کې شرعي او جائز بڼه خپله کړله. المان کې به خلکو بيا واده په محکمه کې کوه دې ته به يې مدني واده وايه په دې واده به يې پروګرام هم نيوه له دې مرحلې وروسته د المان دولت ټول هغه موانع او قوانين لغوه کړل چې د واده مخه به يې نيوله تر دې چې کليساء يې په هم په ډيرو برخو کې بې واکه کړه البته يو څو موانع چې هغه د خپلوۍ،عمر او د ډيرو ښځو سره ودونه وو دا لاهم په خپل ځای پاتې شول.[2]

د المان له دې قوانينو څخه د نورې اروپا هيوادونه هم متاثره شول او تر ډيره بريده اوس په ټولو هيوادونو کې ورته حالت دی.

تاسې ګورئ چې په غرب کې کورنۍ او نکاح ته په کومه سترګه کتل کيږي. او دا غربي مفکرين خلک په کوم ډول د کورنۍ له منځه وړلو ته رابولي د زنا کولو ته يې رابولي.

تر دې چې په غرب کې تر ډيره د کورنۍ په ماهيت او حقيقت کې هم اختلاف وو. يو شمير کسانو به ويل: کورنۍ بايد د واده په نتيجه او پايله کې رامنځ ته شي او يو شمير نورو به ويل:واده يو ښکلې شې دی او هيڅ اړتيا ورته نشته.[3]

نو په ټوله کې ويلی شو چې په لوی شمير غير اسلامي هيوادونو کې کورنۍ او کورنی نظام له منځه تللی دی. د دغې هيوادونو بې بندوه باره چاپيريال هغوئ دومره زيانمن کړل چې دکورنۍ نشتون له امله اوس مهال د هغوئ نسل له سخت کمښت سره مخ دی هلته کورنی ژوند بيخي د لمنځه تللو په حال کې دی نو اصلا ويلی شو د اسلامي نړۍ او غير اسلامي نړۍ کورنی نظام اصلا د پرتلې او مقايسې وړ نه دی .

---

[1] Die bedrohte familie.page:2

[2] Die bedrohte familie.page:2

[3] مخکينی ليکنه.

## څلورم مبحث:د اسلامي او غير اسلامي کورنۍ ترمنځ مقارنه.!

موږ په تيرو مبحثونو کې د واده او کورنۍ په تړاو بحث وکړ.تير کې مو يادونه وکړه چې اسلام کې ښځې ته څه ورکړل شوي دي اوغير اسلامي هيوادونو کې څه حال دی. بيا مو ووېل چې کورنۍ په اسلام کې څه ډول ده او په اروپاء کې د کورنۍ څه حال دی.

اوس غواړم چې د اسلامي او غير اسلامي کورنۍ ترمنځ يوه لنډه مقارنه وکړم! دې مبحث کې په کورنۍ باندې د اسلام اغيزې، د نوې مدني ټولنې اغيزې او دکليساء اغيزې په کورنۍ باندې ټولې وڅيړم او په دې تړاو به خپل ليد هم څرګند کړم.

## لومړی مطلب:کورنۍ د اسلامي شريعت په رڼا کې:

په کورنۍ باندې د اسلام اغيز ډير واضح دی اسلام چې د کورنۍ د جوړښت او ساتنې لپاره کومې هڅې کوي هغه د نړۍ په ټولو اديانو کې لا مثاله دي.د اسلام مبارک دين هڅه کوي چې کورنۍ بنسټيونه پياوړي کړي او دپاشل کيدا مخه يې نيسي.کله چې کورنۍ تشکيل شي نو بيا ورته خپلې ځانګړې لارښونې لري.

د کورنۍ د جوړښت لپاره اسلام خپل ځانګړی چوکاټ لري او دهغې د رامنځ ته کولو باندې ډير ټينګار کوي. په پيل کې د کورنۍ د جوړښت لپاره په نکاح باندې ټينګار کوي. الله جل جلاله په خپل کتاب قران عظيم الشان کې فرمايي:

{جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ}[1]

ژباړه: ګرځولي يې دي ستاسې له ځانونو څخه جوړې او له چارپيانو نه جوړې زياتوئ تاسې په دغه طريقې سره.[2]

دلته په دې ايت کې الله جل جلاله وايي: چې انسان او حيوان مې دواړه جوړه پيدا کړي دي او ددواړو ترمنځ مشترک ټکی دادی چې نور هم ډيرښت مومي. خو دومره ده چې د انساني نسل څخه

[1] سورة الشورى،ايت:١٣.

[2] تفسير کابلی،ج:٢،ص:١٠٢٦.

موخه داده چې ځمکه ودانه کړي او انساني تمدن پاینښت وموومي همدا لامل دی چې الله جل جلاله د انساني شهوت لپاره پولې ټاکلي دي ترڅو هغه موخه چې د کائناتو خالق ورته ټاکلې ده همغه متحققه شي همدا ده چې اسلام دښځې او نارینه ترمنځ د اړیکې پولې ترسیم کړي دي داسې اړیکې چې په دې سره انسان نیکبختي ترلاسه کوي او ټولنه له ګډوډۍ فاشل کیدا او نسل له منځه تګ څخه ژغورل کیږي همدا ده چې اسلام ددې هدف د تحقق لپاره واده رامنځ ته کړی دی.

کله چې کورنۍ په یو مشروع عقد کې رامنځ ته شي نو دا کورنۍ په ریښتیني مانا د ټولنې د فلاح سبب ګرځي او ټوله ټولنه سمیږي.

همدا ده چې بیا روزل شوی اولاد ټولنې ته وړاندې کوي او ټولنه له هر ډول فساد څخه ساتل کیږي په ډیری احادیثو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړی دی چې تاسې خپل اولاد ته تربیه ورکړئ د خپلو لوڼو او زامنو سمه تربیه وکړئ او که چا د خپلو دوه لوڼو یا وینځو سمه تربیه وکړه نو الله جل جلاله به ورته جنت ور په برخه کړي.

د کورنۍ په شتون کې اسلام د هر چا مسولیت په ګوته کوي او هرکس خپل مسولیت ته متوجې کوي د بیلګې په ډول د اسلام اغیز په کورنۍ دادی چې هلته په کې یوه ښځه د میراث څښتنه کیږي.

په کورنۍ باندې د اسلام بل اغیز دادی چې په دې کورنۍ کې ځوان هم د مال خاوند کیږي.

ځوان په کې د اولاد خاوند کیږي.زده کړه په کې کوي او دده روزنه تر هغې پورې د پلار په غاړه وي ترڅو چې بالغ شوی نه وي دا په دې خاطر چې هغه خپلو مسولیتونو ته سمه اوږه ورکړای شي.

په همدې ډول د اسلام بل اغیز په کورنۍ دادی چې ددې کورنۍ د سالم پاتیدو کیدو په خاطر د بالغې او نا بالغې لور نفقه،د اوسیدو ځای او ټول هرڅه تر هغې په پلار باندې وي ترڅو چې واده شوي نه وي.

او په ټوله کې ویلای شو چې په کورنۍ باندې د اسلام اغیزې ډیرې دي چې زه ترې د بحث د اوږد والي له امله ډډه کوم.

## دوهم مطلب:دکلیساء اغیز په کورنۍ باندې

ماپه تیرو مبحثونو کې هم یوه عمومي کتنه دې خبرې ته کړې وه اصلا دعیسی علیه السلام له لورې راوړل شوی دین هماغه ډول خالص پاتې نشو بلکې د یو شمیر پاپانو او یهودي ملایانو د ګډو هڅو په نتیجه کې داسې څه منځ ته راغلل چې له اصلي نصرانیت سره په ټکر کې و.

په تیر مبحث کې موږ خبره وکړه چې د کلیساء په منګولو کې اصلا کورنۍ ساه ورکړې وه او تر پنځلسمې پیړۍ پورې کلیساء نارینه او ښځینه ته د واده اجازه نه ورکوله نو تاسې څه فکر کوئ چې کله په یوه ټولنه کې د کورنۍ د رامنځ ته کیدو اساس(واده)منع وي نو هلته به کورنۍ کوم ارزښت ولري؟ په دې تړاو مخکې بشپړه خبره تیره شوه چې کلیساء واده ته په پنځلسمه پیړۍ کې د محدودو خلکو لپاره اجازه ورکړه. نو اصلاً ویلی شو چې کلیساء په خپلو ظالمانه احکامو باندې کورنۍ له منځه وړې وه او تر ډیره بریده پورې د نسلونو اړیکې یو له بل سره په غیر مشروع چوکاټ کې منسجمې وې.[1]

## دریم مطلب:د نوې غربي ټولنې اغیز په کورنۍ باندې.

د غربي ټولنې د کورنۍ اوسنی حالت ډیر بد دی فکر کوم اصلاً به دا نامناسبه وي چې سرې یې مقارنه کړي. ځکه چې غربي ټولنه په ټوله مانا داسې ده چې اوس یې کورنی نظام له لاسه ورکړی دی اوس داسې ځای ته دا غربي ټولنه رسیدلې ده چې بیرته راګرځیدل یې ډیر سخت دي او ان یوه پیړۍ به ونیسي چې دا ټولنه د کورنۍ په برخه کې بیرته خپل عادي جریان ته راوګرځي. ددې ټولنه حالت دومره بد دی چې د غربي ټولنې ډیر لوړ پوړي چارواکي اومشهور شخصیتونه دا ډول اعترافونه په خپلو خولو باندې کوي.

الیزابت:Elisabeth Beck-Gernsheim،د خپلې ټولنې له شته حالت څخه سر ټکوي او یو عنوان کیږدي: (په کورنۍ کې نوې ګډوډي!)

[1] نظام الأسرة بین المسیحیة والاسلام، ج:۱،ص:۱۸۹.

دا میرمن وایي: له کله چې په اویایمو او نویمو لسزیزو کې د محصیلینو میرمنو او ښځو حرکتونه رامنځ ته شول دوی د کورنۍ پخواني ماډلونه ټول ونګول، کورنی سیستم یې په دې تورن کړ چې ددې کورني سیستم له امله له میرمنو، ماشومانو او په ټوله کې له بشر سره ظلم، زیاتی او بدي کیږي دوی کورنۍ له زندان سره تشبیه کوله او غوښتنه یې کوله چې باید دا سیستم ړنګ شي. بیا ددې حرکت په وړاندې د ټولنې یوه محافظه کاره ډله ودریده، په کورنۍ باندې یې ددوی بریدونه دفع کول، همدا وو چې له یوې ډلې خلکو سره د کورنۍ په اړه مفاهیم ګډ وډ شول هرې ډلې خپل ځانګړی تصور او فکر د کورنۍ په اړه وړاندې کوه او د هرې ډلې خلکو تصور به د بلې ډلې دخلکو له تصور سره په ټکر کې وو همدا وو چې ددواړو ډلو ترمنځ سخت ټکر رامنځ ته شو.

بیا وایي: نن په نویمه لسزیزه کې موږ د کورنۍ په لحاظ په ډیر بد حالت کې یو. نن بیخي ګډوډې ده. هغه کسان چې پرون د زاړه کورني سیستم پر ضد ودریده د همدوی غړونو د کورنۍ په تدریجي ړنګون کې ونډه واخیسته او نن موږ دهمدوی د چیغو له امله په ډیر بد حالت کې یو نن د همدوی مبارزې له امله ده چې موږ کورنۍ له لاسه ورکړې ده نن چې موږ له کوم کورني بحران سره مخ یو دا دهماغه پروني غړونو او مبارزو لامل دی چې کورنی سیستم په غرب کې ړنګ دی. اوس په امریکا متحده ایالاتو او د المان په یو شمیر ایالاتونو کې اوس بیرته داسې غړونه پورته کیږي چې راځئ بیرته کورنۍ همغه پخواني حالت ته وروګرځوو.1

په غرب کې د کورنۍ په تړاو په مهم کتاب Grundlagenkrise der Familie کې راځي: ودونه او کورنۍ په دې ورځو کې په ډیر خطرناک کړکیچ کې راښکیل شوي دي، نوي څیړنې او احصایې چې کومې لاسته راوړنې او نظریات دي هغه ډیر خطرناک حالت انځوروي دا څیړنې وایي: په غربي المان کې له هرو سلو جوړو څخه ۲۸ دانې طلاق اخلي. مطلب دا چې د طلاق کچه اوس په المان کې ۱۳۷٪ ته پورته شوې ده.(البته دا تر دوه زرمو کلونو پورې دا احصائه ده اوسنی حالت له دې څخه هم خراب دی) ددې کلونو په منځ کې د واده فیصدي نیږدې ۲۸٪ سلنه راښکته شوې ده. په همدې ډول په هرو سلو کورنیو کې ۲۵ کورنۍ بې اولاده دي دیرش کورنۍ فقط یوازې یو ماشوم لري او زیږوي، ۳۵ کورنۍ دوه ماشومان لري او ۸ کورنۍ

---

1 Was Kommt Nach der-page9-10

بیا فقط یوازې درې ماشومان لري او زیږوي. او فقط دوه کورنۍ بیا څلور ماشومان یا له دې ډېر ماشومان زیږوي.1

ددغه احصایې له مخې ویلی شو زموږ په غربي هیوادونو کې کورنۍ او واده د نړیدو په لور روان دي. زموږ د ټولنې متخصیصین وایي چې ددې بدمرغۍ علت دادی چې زموږ د ټولنې ډېر خلک واده ته تیار نه دي ځکه چې دوی د کورنۍ په تړاو غلط پوه شوي دي.

اروپا کې حکومتونه په دې پوه شوي دي چې کورنۍ نظام یې نړیږي هلته یې بیړنۍ حالت اعلان کړی دی،دا په دې خاطر چې خپله مریضه کورنۍ وژغوري او د نورې اروپا په شمول اوس د المان حکومت غواړي چې داسې قانون رامنځ ته کړي چې هغه له ځوانانو سره مرسته وکړي ترڅو کورنۍ جوړه کړي.2

دا بحث همدلته پای ته رسوم، ځکه چې په دې اړه مې کافي بحث وکړ.

Grundlagenkrise der Familie und das neue jugendhelfe Gesetz: page5-6 [1]

Grundlagenkrise der Familie und das neue jugendhelfe Gesetz:5-6. [2]

# دوهم فصل.

## واده په اسلامي او غير اسلامي هيوادونو کې.

په لومړي فصل کې مې دکورنۍ په تړاو بحث وکړ،اوس په دې فصل کې غواړم چې د واده بحث تر څېړنې لاندې ونیسم.

دلته به واده د اسلام له نظره او په غیر اسلامي هیوادونو کې د غرب له نظره تر څېړنې لاندې ونیسم،واده به د اسلامي لیدلوري له مخې هم در وپیژنم،له واده مخکې حالت باندې به هم بحث وکړم،د واده په ارکانو به هم تبصره ولرو او د واده په تړاو به په بیلابیلو بحثونو باندې تم شم.

## لومړی مبحث: دواده پیژندنه.:

دلته په دې مبحث کې دواده[1] په تعریف باندې بحث کوم. له دې علاوه دا هم واضح کوم چې په اسلام کې له واده مخکې هم مراحل شته دي او که نه؟ او که د واده څخه مخکې کوم مراحل دي نو هغه کوم شرائط لري؟ دا ټول دلته په دې لومړي مبحث کې پرې بحث کوم.

## لومړی مطلب: د زواج په پیژندنه او په اسلام کې یې تگلاره:

واده چې په عربي ژبه کې یې زواج بولي په لغت کې هو الاقتران.[2]مطلب په لغت کې نیږدې والی،پیوسته والي او یو ځای کیدلو ته وایي. په همدې مصداق کې د الله جل جلاله یو ایت دی چې فرمايي: {كَذَلِكَ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ}[3]

ژباړه:همداسې به وي(بې تغیره)او ملګري به کړو موږ دوی له پیغلو سپین پوستو (ښائسته)سترګو سره.[4]

امام ابن کثیر رحمهم الله[5] وایي:ای قرناهم بهن،مطلب دوی موږ جوړه کړي دي.

---

[1] چې یوه ښځه سړي سره د شرعي،دیني او ټولنیزو مراسمو په نتیجه کې یوځای شي،زواج بلل کیږي،لسان العرب،ج:۲،ص:۴۳۹.

[2] لسان العرب،ج:۲،ص:۲۹۳.

[3] سورة الدخان،ایت:۵۴.

[4] تفسیرکابلی سورة الدخان،ج:۲،ص:۱۰۳

[5] عماد الدین ابوالفدااسماعیل بن بن عمر القرشي ثم الدمشقي،په۷۰۰هـ کې په بصره کې زیږیدلی،په ۷۰٦هـ کې دخپل دپلار دمرګ نه وروسته دمشق ته لاړه اوهلته یې دجیدو علماووڅخه علم زده کړه،لکه الامدي اوابن تیمیه نه اوپه۷۷۴هـ کې وفات شوی ده،دډېروکتابونولیکوال ده،چې مشهوریی تفسیر ابن کثیر ده. الاعلام للزرکلي:ج۲/ص۲۳۱

نو په ټوله کې ویلای شو چې هر هغه شی چې یو یې په بل پسې پیوسته شي، هغه ته په عربي ژبه کې زوجان وايي.

په همدې ډول د زواج د لفظ اطلاق په صنف او نوع باندې هم کیږي الله جل جلاله فرمایي:
{وَأَنْبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ}1

ژباړه: او زرغونه کړي له هرقسم نباتاتو څخه ښایسته تاند تنکی تیغ.2

دلته له زوج څخه مراد نوعه او صنف دی همدا ده چې ځینې مفسرین وايي له دې څخه مراد هر ډول رنګ او هر ډول ښکلا چې نبات یې لري هغه ترې مراد ده.

په همدې ډول په یو بل ایت کې هم ازواج د نوعې او صنف په مانا سره راځي. الله جل جلاله په قران عظیم الشان کې په سورة الصاد کې فرمایي:

{ وَآخَرُ مِنْ شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ }3

ژباړه: او څه بل ډول(عذاب)له ډوله د هغه تیر عذاب راز، راز قسمونو.4

ای: أصناف العذاب وألونه5، مطلب د عذاب ډولونه او نوعې په همدې ډول د تزویج د لفظ اطلاق په نکاح باندې هم کیږي. اسلامي فقهاء هم ډیر وخت د نکاح په بدل کې تزویج استعمالوي یا د تزویج په بدل کې دنکاح لفظ استعمالوي.

اوس غواړم چې اصلي لفظ چې نکاح ده هغه هم وپیژنو. په لسان العرب کې راځي: قال الازهري: اصل النکاح في کلام العرب الوطء و قیل لتزوج نکاح لانه سبب للوطء المباح.6

---

[1] سورة الحج، ایت:۵.

[2] تفسیر کابلی، ج:۲، ص:۱۸۹.

[3] سورة ص، ایت:۵۸.

[4] تفسیر کابلی، سورة ص، ایت:۸۸۴.

[5] لسان العرب، ج:۲، ص:۲۹۳.

[6] مخکینی مرجع، ج:۲، ص:۲۲۶.

ازهري رحمه الله[1] وايي: په عربي ژبه کې اصل د نکاح د وطې لپاره استعماليږي چا ويلي دي چې تزوج ته هم ځکه نکاح وايي چې هغه د وطې مباح سبب دی.

د نکاح اطلاق په لغت کې د اختلاط په مانا هم کيږي په همدې ډول دغلبې په مانا هم راځي د ضم او پيوسته والي په مانا هم راځي.[2]

په شريعت کې:

اسلامي فقهاو نکاح ته بيلابيل تعريفونه کړي دي. زه نه غواړم چې دلته د بيلابيلو فقهي مذاهبو او فقهي فکري مکاتبو نظريات راوړو. بلکې غواړم چې يو داسې تعريف ذکر کړم چې د فقهي مذاهبو ټولو نظرياتو ته نيږدې وي. نو په دې اساس نه غواړم چې د ټولو مذاهبو نظريات دلته ذکر کړم، ځکه زما موضوع بيا بل اړخ ته ځي.

په اسلامي نړۍ کې ترټولو پخواني او معتمد فقهي مسلک، حنفي مذهب په دې اړه وايي: أنه عقد وضع لتملک المتعة بالانثی قصدا.[3]

هغه عقد دی چې ددې لپاره وضع شوی دی چې له ښځينه څخه په قصد سره ګټه پورته کړای شي.

البته مالکي علماء هم دې ته ورته تعريف ذکر کوي خو هغوئ په کې داشرايط ذکر کوي چې دا ښځه به غير محرمه وي، مجوسی به نه وي.[4]

---

[1] ابومنصور محمدبن احمد بن الازهري الهروي دی په کال: 282 هـ په هرات کې زيږيدلی او په کال 370 هـ په هرات کې وفات شوی دی، دنوموړي نسبت خپل نيکه ازهر ته کيږي په لغت او ادب کې ستر امام دی ددې ترڅنګ فقيه هم دی،لغت،تفسير،فقه او نورو فنونو کې يې کتابونه هم ليکلي دي: الاعلام للزرکلي: ۳۱۱/۵.

[2] معجم الوسيط،ص:۹۵۱.

[3] شرح فتح القدير,کمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي,سنة الولادة / سنة الوفاة 681هـ,الناشر دار الفکر مکان النشر بيروت,ج:3,ص:99.

[4] بلغة السالك لأقرب المسالك المعروف بحاشية الصاوي على الشرح الصغير (الشرح الصغير هو شرح الشيخ الدردير لكتابه المسمى,أقرب المسالك لِمَذْهَبِ الْإِمَامِ مَالِكٍ),المؤلف: أبو العباس أحمد بن محمد الخلوتي، الشهير بالصاوي المالكي (المتوفى: 1241هـ)الناشر: دار المعارف,الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ,ج:1,ص:347.

البته دنورو فقهي مذاهبو تعريفونه تر ډيره سره ورته دي او هغه اتفاقي شرايط يې په کې ذکر کړي دي چې د ټولو ترمنځ منلي دي. لکه مجوسی او مشرکه به نه وي اوکه کتابی وي نو په کومو شرايطو بايد وي!

دلته بايد يوه بله خبره هم واضح کړم؛ په اسلام کې واده په قران،سنت او اجماع سره يو مشروع عمل دی. په قرانکريم کې هم ډيری ايتونه شتون لري چې هلته ترې معلوميږي چې واده مشروع عمل دی. يو شمير احاديث هم شته دي چې هلته په کې امر شوی دی چې بايد مومن مسلمان واده او نکاح وکړي او دامت اجماع هم د واده په مشروعيت باندې موجوده نو په دې اساس اړتيا به نه وي چې موږ د هرې برخې څخه بيلابيل دلايل راوړ او زواج او واده ترې ثابت کړو،ځکه دا موضوع د مسلمانانو ترمنځ روښانه ده او تر اوسه پورې پرې نيږدې پنځلس پيړی د مسلمانانو ترمنځ دا يو منل شوی حقيقت دی او تر اوسه پورې پرې مسلمانانو عمل کړی دی.

## دوهم مطلب:په اسلام کې له واده مخکې حالت..!

په اسلام کې له واده مخکيني حالت ته خطبه وايي. زموږ په ټولنه کې يې خواستګاري بولي چې يوه کورنی بلې کورنی ته د خپلوئ لپاره ورځي. عموما زموږ په ټولنه کې دهلک کورنی د جلی کور ته ورځي،د هلک مور او پلار يا خپلوان د هلک په نمايندګی د جلی کورنی ته ورځي هغه ګوري،شرايط يې بيا ګوري او که خوښه يې راغله بيا خواستګاري کوي. همدا ده چې په اسلام کې هم د واده عقد يو له ډيرو مهمو پړاونو څخه دی،ځکه چې دا په اسلامي ټولنه او بل خصوص په افغاني ټولنه کې د ټول ژوند عقد او تړون دی. همدا لامل دی چې اسلام د واده او زواج عقد لپاره مقدمات مشروع کړي دي تر دې چې ښځې او نارينه دواړو ته دا واک ورکوي چې يو بل وګوري نارينه ته جواز ورکوي چې د ښځې مخ وګوري او بيړه ونکړي.

د واده مقدمات چې اسلام مشروع کړي دي يو په هغې کې خطبه ده. خطبه دې ته وايي چې د سړي کورنی خپله کورنی او خپلوان دښځې کورنی ته ورليږي ترڅو ښځه ترې ددې هلک او نارينه لپاره وغواړي. په دې خطبه(خواستګاري)کې د ښځې کورنی د هلک دکورنی او دهلک کورنی دښځې دکورنی له حالت،وضعې او ژوند څخه خبروي. کله چې ښځه او دهغې خپلوان د هلک له کورنی سره توافق ته ورسيږي او دا اړيکه ومني،نو بيا خطبه تماميږي.

البته دا د خطبې موضوع کوم اجباري مسله نده فقط دومره خبره ده چې دواړه لوري يو بل وپيژني، نور دواړه لوري دا حق لري چې د يو بل غوښتنه رد کړي او يا يې هم ومني.

بله موضوع داده چې خطبه يا خواستګاري داسې کوم عقد نه دی  چې نارينه او ښځينه يو بل ته حلال کړي يا  په کې  څه حرام شي،البته دومره ده چې مخطوبې(هغه جلۍ چې هلک غواړي په نکاح يې کړي)ته کتل ورته شرعيت جواز ورکړی دی. دا جواز په همدې موخه دی چې اسلام دواړو لورو ته حق ورکړی دی چې يو بل په درست ډول ووينې.

په دې مورد کې احاديث هم شته دي،غواړو چې يو دانه يې دلته راوړو:

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ[1] قَالَ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَظَرْتَ إِلَيْهَا قَالَ لَا قَالَ فَاذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا)[2]

له ابو هريرة رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره زه وم په دغه وخت کې يو سړی راغی،نبي صلی الله عليه وسلم ته يې خبر ورکړ چې ده له يوې انصاري ميرمن سره نکاح کول غواړي،رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: ايا تا هغې ته کتلي دي؟هغه صحابي ورته وويل: نه! رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: ته لاړ شه! هغې ته وګوره! ځکه چې د انصارو په سترګو کې څه شته دي.

دا خو نبوي برخه وه چې په دې اړه نبي کريم صلی الله عليه وسلم څه ويلي دي،له دې اخوا فقهاء بيا په دې متفق دي  چې کتل خو يې جايز دي،خو کتل او خبرې کول به يې په داسې ځای کې نه وي چې هلته څوک وجود ونلري،مطلق په خلوت کې به سره نه غږيږي.

[1] پوره نوم يې أَبُوْ هُرَيْرَة عَبْدِ ٱلْرَّحْمَٰنِ بْنُ صَخْرَ ٱلدَّوْسِيّ دی،يو جليل القدر محدث صحابي دی،فقيه دی،حافظ دی،په اووم هجري کال يې اسلام راوړی دی،او له نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره يوځای شوی دی،ډير احاديث يې ترې زده کړي دي،تر دې چې د حفظ په برخه کې ډير احاديث دده زده وو،له ده څخه ډيرو تابعينو هم روايتونه کړي دي،عمر رضی الله تعالی عنه د خپل خلافت پرمهال د بحرين والي کړی وو،په همدې ډول په ۴۰ هجري کال کې د مدينې منورې والي هم وو،دی په ۵۹ هجري کال کې وفات شوی دی. سير اعلام النبلاء،ج:۱،ص:۳۹۲.

[2] الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم,المؤلف : مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى : 261هـ),دارالکتب العلمية،لبنان،بيروت،ج:۷،ص:251.

نو په ټوله کې ویلای شو چې اسلام نارینه ته حق ورکړی دی چې ښځې ته وګوري، د هغې مخ لاسونو، قدمونو څټ او سر وګوري او دا په شرعي لحاظ کوم مشکل نلري ځکه چې اسلام نه غواړي د واده او زواج تړون په پټو سترګو رامنځ ته شي، ځکه چې که چیرته داسې هرڅه اسلام منع کړي او خلک په پټو سترګو مجبور کړي چې هغوئ دې له لیدلو پرته واده وکړي نو په کورني ژوند کې سخت مشکلات پیښیږي او دا هغه څه دي چې اسلام یې نه غواړي نو په دې اساس اسلام له واده وړاندې مرحله رامنځ ته کړه چې هغه د خطبې او خواستګارۍ مرحله ده.

## دریم مطلب: دخطبې شروط..!

مخکې ما خبره وکړه چې خطبه [1] یو مشروع عمل دی او په دې کې هلک جلۍ کتلای شي. دا اسلام په دې خاطر جواز ورکړی دی چې ددوی راتلونکی ژوند سره تړلی دی نو په دې ژوند کې باید له ډیر احتیاط څخه کار واخیستل شي. بل دا چې خطبه د واده لپاره یو مهم پړاو دی نو په دې اساس په هغه ښځه باندې خطبه جایز ده چې هغه د واده وړ وي او في الحال وړ وي، خو که چیرته ښځه د یو سړي لپاره په کوم سبب حلاله نه وي، نو په داسې ښځه باندې خطبه کول هم جایز نده ځکه چې له دې ښځې سره اصلا واده نه دی جائز.

همدا لامل دی چې یو شمیر فقهاء وایي دخطبې د صحت په شرایطو کې دا لازمه ده چې دا خطبه به په داسې ښځه باندې کیږي چې هغه به په سړي باندې حرامه نه وي، که چیرته ابدي حرمت وي او که موقت حرمت وي. نو له داسې ښځې باندې خطبه کول ناروا دي.

په هغه ښځو خطبه او خواستګاري ناروا ده چې هغه ښځه خاوند او في الحال د چا په نکاح کې وي.

په همدې ډول په هغه ښځه باندې هم خطبه جایز نده چې هغه تازه طلاقه شوي وي.

په همدې ډول په هغه ښځه باندې هم خطبه ناروا ده چې دهغې خاوند وفات شوي وي او ښځه په عدت کې وي دا ځکه چې کومه میرمن په عدت کې وي هغه باندې د میړه له حقوقو

[1] خطبة په کسرې د خاء سره، یوې انجلۍ غوښتلو پسې خلک ورلیږلو ته خطبه وایي. لسان العرب، ج:۳، ص:۷۲۸.

ځخه یو حق دادی چې هغه به دعدت موده تیروي او په دې حق باندې یې تجاوز کول جائز نه دی .

## دوهم مبحث:د واده ارکان او اساسات.!

په دې مبحث کې په دې اړوند بحث کوو چې د واده ارکان[1] څه دي او د واده د عقد محل څه شی دی او د واده شروط څه دي. دا او دیته ورته نور مسائیل د څېړنې لاندې نیسو،ترڅو د واده او زواج په تړاو بحث ښه واضح شي.

## لومړی مطلب:د واده(نکاح) ارکان.!

فقهاء د نکاح په ارکانو کې اختلاف لري احناف علماء وآیي: د نکاح رکن یو دی چې عبارت دی له ایجاب او قبول ځخه.[2]

مالکیان بیا ویي:د نکاح ارکان عبارت دي له:ولي،محل د نکاح(میړه او ښځه او ایجاب او قبول ځخه.[3]

شافعیان وآیي چې دنکاح ارکان پنځه دي:صیغة د نکاح(ایجاب او قبول)خاوند،ښځه،شاهدان او ولي.[4]

امام احمد بن حنبل رحمه الله وایي[5] وایي:د نکاح ارکان دري دي. ښځه او خاوند،ایجاب[6] او قبول.[7]

---

[1] ارکان جمع د رکن ده،هر هغه شي ته وایي چې د یو کار شتون په هغې پسې تړلی وي،او دا کار پرې استوار وي،د یو شي عمده برخې ته هم وایي.لسان العرب،ج:١ص:٨٩٢.

[2] بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع،ج:٢،ص:٢٢٩.

[3] شرح الصغیر،ج:٢،ص:٣٤٣.

[4] مغني المحتاج،ج:٣،ص:١٣٩.

[5] ابو عبدالله أحمد محمد بن بن حنبل الشیباني نوموړی په کال: ١٦٤هـ په مروه کې زیږېدلی او په کال: ٢٤١هـ کې وفات شوی دی نوموړی له څلورو امامانو څخه یو دی، د مسند احمد کتاب لیکوالی دی چې په (٤٠٠٠٠) احادیثو مشتمل دی: الأعلام للزرکلي (1/ 203)

[6] ایجاب لومړي قول ته وایي،یا په بل تعبیر هغه کس چې غوښتنه کوي یا طلب کوي،ایجاب بلل کیږي.لسان العرب،ج:١،ص:٨٣٩.

[7] کشاف القناع عن متن الإقناع,منصور بن یونس بن إدریس البهوتي,تحقیق هلال مصیلحي مصطفی هلال,الناشر دار الفکر سنة النشر 1402,مکان النشر بیروت,ج:٥،ص:١٣٧.

البته ایجاب لومړۍ خبرې ته وايي. په دې مانا که خاوند اول خبره وکړي او که میرمن اول خبره وکړي قبول[1] هغه خبرې ته وايي چې د دواړو لورو څخه هر یو یې ووايي.

البته هغه الفاظ چې په هغې باندې ایجاب او قبول سمیږي نو په دې اړه اسلامي فقهاء په جلا ډول دریځونه لري شوافع او حنابله وايي: یوازې په دوه الفاظو باندې د نکاح عقد سمیږي چې هغه د نکاح او زواج الفاظ دي. له دې پرته نورو الفاظو باندې نکاح سمه نده.[2]

حنفي فقهاء بیا په دې کې پراخ نظر لري، په دې مانا چې دوی وايي: نکاح په ټولو هغه الفاظو باندې تړل کیږي چې په دیو عین په تملیک او ملکیت باندې دلالت کوي. لکه د هبة لفظ، صدقې لفظ، تملیک، بیع او ټولو هغه الفاظو باندې سمه ده چې هغه د عین[3] په تملیک باندې دلالت کوي.[4]

البته دا هم بیا سمه ده چې د نکاح الفاظ له عربي پرته په عجمي کې وویل شي چې هغه دنکاح معادل وي البته دا دهغه چا لپاره چې هغوئ عربي نه شي تلفظ کولای، څوک یې چې تلفظ کولای شي نو دهغوئ لپاره غوره ده چې عربي ووايي البته فقاء جواز د نکاح ورکوي.

نور د لومړي عقد په اړه بحث نه اوږدوم ځکه چې دلته لا هم داسې موارد شته دي چې د بحث لاندې یې ونیسم خو که چیرته دغسې وکړم نو بحث به مو بیخي بل لوري ته لاړ شي.

د نکاح په بل رکن هم لږ تم کیږم چې هغه عاقدان[5] دي.

له دې څخه مې موخه هغه کسان دي چې اصالة او یا نیابة د ناوې او شاو لپاره ایجاب او قبول کوي.

د لومړني عاقد چې هغه خاوند او میره دی، هغې کې شرط دادی چې خاوند باید اهلیت ولري، عاقل، بالغ باید وي. خو که چیرته اهلیت ونلري، لکه لیونی، کوچنی او غیر ممیز نو دا عقد ددوی له طرفه نه سمیږي، بلکې ددوی ولي به یې کوي. خو که چیرته اهلیت یې ناقص وي

[1] د نفس میلان او په یو شي راضي کیدل عبارت دی له قبول څخه.لسان العرب،ج:۱۱،ص:۱۹۹.

[2] مغني المحتاج،ج:۴،ص:۲۳۷.مغني لابن قدامة،ج:٦،ص:۵۳۳.

[3] عین سلعة یا جنس،دلته ترې موخه هغه مال دی چې دپیسې او ثمن په بدل کې ورکول کیږي.لسان العرب،ج:۹،ص: ۳۲۰.

[4] شرح فتح القدیر،ج:۳،ص:۱۰۵.

[5] هغه کسان چې په یو عقد کې اصالة او یا نیابة ایجاب او قبول کوي.

لکه ماشوم ممیز، دا که چیرته د خپل ځان لپاره عقد وکړي، نو دا عقد به تر هغې پورې ځنډېدلی وي چې ولي اجازه ورکړي، که ولي اجازه ورکړه نو عقد سم دی خو که چیرته اجازه یې ورنکړه، نو بیا باطل دی. جمهور علماء بیا په نکاح کې کالت مني او وایی چې سم دی.[1]

بله خبره داده چې زوج باید مسلمان وي، ځکه چې دمسلمانې نکاح له غیر مسلمان سره سمه نده. په دې اړخ کې د ټولو مسلمانانو اجماع ده، ددې لپاره دیل د قرانکریم هغه ایت دی چې په کې راځي:

{فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ وَآتُوهُمْ مَا أَنْفَقُوا وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَاسْأَلُوا مَا أَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْأَلُوا مَا أَنْفَقُوا ذَلِكُمْ حُكْمُ اللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ}[2]

ژباړه:ای هغه کسانو چې ایمان راوړی دی کله چې راشی تاسې ته مومنانې ښځې هجرت کونکې وطن پریښوونکې نو وه یې ازمویې تاسئ هغوئ،الله ته ښه معلوم دی ایمان دهغې نو که وپیژنې تاسو هغې(مومنانې)نو بیرته مه لیږئ هغوئ د کفارو طرف ته،نه دي دغه(مومنانې ښځې)حلالې هغو(کفارو سړیو )لره او نه دي هغه (کافران)حلال دې (مومنانو ښځو)لره او ورکړئ تاسې(هغه کافرانو)ته (چې میړونه دهغه ښځو دي)هغه څه چې لګولي یې دي(له مهره)او نه شته هیڅ ګناه پر تاسې باندې چې نکاح وتړئ تاسې له دې ښځو سره په شرط ددې کله چې ورکړئ تاسې هغو(ښځو)ته مهرونه ددوی او منګولې مه نښلوئ د کافرانو ښځو په عصمتونو(مه یې ساتئ په خپله نکاح کې)او وغواړئ تاسې هغه څه چې خرڅ کړي دي تاسې(په دغه کافرانو)او وه دې غواړي دغه کفار هم هغه څه چې خرڅ کړي وي هغوئ له (مهرونو)پر دغه مهاجرانو دا (مذکور احکام)حکم د الله دی(حکم کوي الله په دغې سره)ستاسې کې او الله جل جلاله ښه علم والا دی او ښه حکمت والا دی.

---

[1] بداية ا لمجتهد،ج:۲،ص:۱۳.

[2] سورة الممتحنة،ايت: ۱۰.

البته مسلمان ته دا جائز نده چې په خپله نکاح کې کافر وکيل ونيسي په هغه صورت کې چې کله دا مسلمان له بلې مسلمانې سره نکاح کوي. البته که چيرته مسلمان له کتابۍ سره نکاح کوي نو بيا ورته جائز ده.[1]

دلته يوه بله مهمه خبره ده چې،ايا ښځه کولی شي چې د خپل واده عقد خپله مخکې يوسي او که نه؟ نو دلته احناف وايي: چې هره بالغه،عاقله ښځه کولی شي چې ځان د ولي له اذن او اجازې پرته په نکاح ورکړي،لکه څرنگه چې کولی شي بل څوک په نکاح کړي.

د احنافو دليل دادی چې الله جل جلاله فرمايي: {فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ}[2]

ژباړه: نو(وروسته له دې دوه طلاقو څخه)که بيا يې طلاقه کړه دا ښځه(دريم ځل)پس بيا حلاله نده(دابنځه)ده لره(پس له دې نه)تر هغې پورې چې په نکاح واخلي دابنځه(ميړه)پرته(علاوه)له ده نه،نو که طلاقه کړه دوهم ميړه يا همدا ښځه(او عدت يې تير شو)پس نشته هيڅ گنا په په دغو دواړو ښځه او لومړي خاوند چې بيا سره رجوع وکړي دواړه که گومان وي ددې ميړه(خاوند)او ښځې په دې چې اقامة به کړي دوی احکام دالله(او په ځای به يې کړي)او دا(ذکر شوي احکام)حکمونه دالله جل جلاله دي چې بيانوي يې(دهغه)قوم لپاره چې پرې پوهيږي(او په مقتضی دعلم يې عمل کوي)[3]

وجه د استدلال دلته داده چې الله جل جلاله دلته دعقد اضافت خپله ښځې ته کړی دی نو دا په دې دلالت کوي چې دا ښځه مستقيما عقد کولی شي.[4]

په همدې ډول په احاديثو کې يو حديث هم شته دی چې له بخاري پرته نورو محدثينو روايت کړی دی: ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمايي:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم،(الايم أحق بنفسها من وليها،والبکر تستأذن في نفسها و اذنها صمتها.))[5]

---

[1] الروضة،ج:۷،ص:٦٦.

[2] سورة البقرة،ايت: ۲۳۰.

[3] تفسير کابلی،ج:۱،ص:۱۸٦.

[4] شرح فتح القدير،ج:۳،ص:۱۵۹.

[5] رواه مسلم،ج:۹،ص:۲۰۴.

کونډه کولی شي چې خپله ځان په نکاح ورکړي او باکره به د خپل ځان اجازه له خپل ولي څخه اخلي او ددې اجازه چوپ والی هم دی.

جمهور علماء بیا وايي: ښځې ته جائز نه دي چې خپل ځان په خپله په نکاح ورکړي بلکې ولي به یې ورکوي، که چیرته یې خپله ځان په نکاح ورکړ، نو نکاح یې باطله ده.[1]

دلیل یې: عن أبي موسی[2] رضی الله تعالی عنه، قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم (لانکاح الا بولي)[3]

نکاح سمه نده مگر د ولي او خپل په اجازه.

په همدې ډول نور هم ډیر احادیث لري چې دوی وايي چې ښځه په خپله سر نکاح نه شي کولای بلکې ددې په نکاح کې د ولي اجازه شرط ده.

## دوهم مطلب: د واده د عقد محل.!

د نکاح د عقد[4] محل چې دی هغه میړه او ښځه ده دواړه په یو ځای د نکاح د عقد محل دی. دا د جمهورو په نزد دنکاح ارکان هم دي، احناف یې ارکان نه بولي په دې اړه مخکې تفصیلي خبره تیره شوه. فقهاء په دې باندې موافق دي چې ښځه او خاوند به یو بل ته حلال وي او دې دواړو کې به یو هم داسې مانع نه لري چې دهغې له امله نکاح منع شي داسې مانع چې دنکاح په موانعو کې راځي همدا ده چې د محرم نکاح له بل محرم سره سمه نده، رضاعي خور سره هم سمه نده، مجوسی، بوت پرستې، مرتدې، هغه ښځه چې خاوند یې ژونه دی وي، درې طلاقه ورکړل شوې ښځې، هغه ښځه چې په عدت کې وي دې ټولو سره نکاح سمه نده. په همدې ډول دا هم

---

[1] بدایة المجتهد، ج:۲، ص:۸. الروضة، ج:۷، ص: ۵۰، مغني المحتاج، ج:۴، ص:۲۳۹.

[2] پوره نوم یې عبارت دی له، عبدالله بن قیس بن سلیم بن حرب بن عامر بن الأشعري دی چې په ابو موسی الاشعري مشهور دی، مور یې ظبیة بنت وهب نومیږي، اسلام یې راوړی وو او په مدینه کې وفات شوې ده، ابو موسی په مکة کې اسلام راوړ، بیا یې حبشې ته هجرت وکړ، او هغه مهال بیرته راغی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خیبر فتح کړ، نوموړی په کوفة کې وفات شوی دی، چا ویلي دي چې په مکة کې وفات شوی دی، په کال ۴۲ هـ کې او دی خپله ۶۳ کلن وو. اسد الغابة لابن الاثیر، ج:۳، ص:۲۶۳.

[3] رواه الترمذي، ج:۳، ص:۴۰۷.

[4] عقد تړلو ته وايي، دپرانیستلو ضد دی، لسان العرب، ج:۱۲، ص:۴۹.

شرط ده چې د زوجینو دواړو تعین به شوی وي چې دا ښځه د هغه ځانګړي شخص میرمن ده که چیرته دا تعین ونشي نو نو نکاح سمه نده نو په دې اساس باید ښځه د نارینه په نوم شي.[1]

مالکیان وایي: په ښځه او خاوند کې دا هم شرط ده چې داسې ناروغي به نلري چې له هغې مري او د مرګ په مرض اخته وي، که چیرته داسې وي، نو بیا یې نکاح سمه نده، نو دا نکاح به په ټولو حالتونو کې فسخ کیږي، خو که چیرته مریض جوړ شو، نو بیا به نه فسخ کیږي، که چیرته ددې مرض په حالت کې مړ شو، نو بیا به دې بل ژونه دي پاتې شوي لپاره میراث نه وي.[2]

البته مالکیان، شافعیان او حنابله بل شرط هم وایي: په نکاح کې یو شرط دا هم دی چې یو د زوجینو ځخه به په احرام کې نه وي چې، حج یا عمرې ته هم تللی وي او نکاح هم وتړي.[3]

دا وو په ټوله کې د واده د محل په تړاو خبره چې موږ دلته په مهم ډول ترې مهم ټکي بیان کړل چې د واده محل ښځه او خاوند دي. یو شمیر فقهاء بیا دا ښځه او خاوند د نکاح په ارکانو کې شمیري او یو شمیر نور یې بیا په ارکانو کې نه شمیري. اوس غواړو چې د نکاح شروطو باندې بحث وکړو، چې نکاح کوم شرائط لري.

## دریم مطلب: دنکاح او واده شروط.

فقهاء مني چې د نکاح لپاره یو شمیر شرایط اړین دي، حنفي فقهاء بیا وایي چې یو شیمر شرایط د انعقاد دي، یو شمیر نور یې د نفاذ او یو شمیر نور یې د لزوم دي.

د انعقاد شرایط یې په دوه ډوله دي:

یو ډول یې عاقد ته راجع کیږي چې هغه عقل دی نو اساسًا ویلی شو چې دلیوني ماشوم چې عقل نه لري نکاح یې نه منعقد کیږي، دا ځکه چې عقل داسې یو شرط دی په اهلیت کې اړین دی.

یو شمیر نور شرایط دي چې هغه د عقد مکان ته راجع کیږي چې هغه د مجلس یو والی دی کله چې دواړه عاقدین حاضر وي، هغه دادی چې دا ایجاب او قبول به دواړه په یو مجلس کې وي خو که چیرته مجلس مختلف شي، نو بیا نکاح نه منعقد کیږي.

---

[1] بدائع الصنائع،ج:٢،ص:٢٥٦،شرح الصغیر،ج:٢،ص:٣٧٢،روضة،ج:٧،ص:٤٣،کشف القناع،ج:٥،ص:٦٦.

[2] شرح الصغیر،ج:٢،ص:٣٧٣.

[3] شرح الصغیر،ج:٢،ص:٣٨٧،ص:مغني المحتاج،ج:٣،ص:٤٩٣،المغني،ج:٢،ص:٢٣٩.

د جواز او نفاذ شرايط يې دادي چې: عاقد بايد بالغ وي، ځکه چې د عاقل ماشوم نکاح اگر که شوې او منعقده ده، خو نافذه نده. بلکې ددې نکاح نفاذ د ولي اجازې پورې منعقد دی. ځکه چې ماشوم ددې شيانو په ارزښت باندې اگاه نه دی  او دا مهال په خپلو مصلحتونو باندې نه پوهيږي.

په همدې ډول دا هم  په کې  شرط دی چې دا به ازاد انسان وي، نو په دې اساس هغه کس چې بالغ وي او عاقل وي، خو غلام دی دده نکاح دده د بادار له اجازې پرته سمه نده.

د لزوم شرايط:

د کوچني نارينه او يا هم دکوچنۍ ميرمنې ولي پلار او يا هم نيکه دی، له دې پرته چې نور کوم اولياء دي لکه ورور او کاکا، ددوی  نکاح نه لازميږي تر دې چې کوچنۍ ماشوم او ماشومه بالغ شوي نه وي. مطلب دا ماشومان خيار بلوغ لري. په همدې ډول بل شرط دادی چې خاوند بايد د ښځې سره کفاءة يا برابر والی ولري.[1]

مالکيان وايي: د نکاح د صحيح کيدو شروط دادی چې دا نکاح به د مهر په بدل کې وي. که چيرته مهر دعقد پر مهال ونه ټاکل شي نو بايد د خول پر مهال خو بايد وټاکل شي. يا دې مهر مثل مقرر شي. په همدې ډول دا هم وائي چې ددوه عادلانو خلک شهادت هم  په کې  شرط دی او دا دواړه به له اولياؤ پرته نور خلک وي. که چيرته يې شاهدان له عقد څخه وروسته  او له دخول څخه وړاندې راوستل، نو نکاح نه صحيح کيږي، ځکه چې نکاح له شهادت پرته سمه نده. يا به په شهادت کې يو سړی او دوه ښځې وي، ترڅو په دې نکاح باندې گواهي ورکړي.

د فاسق شهادت او گواهي په نکاح کې درسته نده او گواهي يې نه صحيح کيږي.[2]

تر دې ځايه مې واده د اسلامي نړۍ ليد له مخې وڅيړه. په دې تړاو مې د اسلامي فقهاؤ نظريات او لارښووني راوړلې. له دې وروسته غواړم چې واده د غرب له عينکو او لارښونو سره هم تاسې ته بحث کړم. دا څه به په راتلونکو کرښو کې وکړم ان شاء الله.

---

[1] بدائع الصنائع، ج:۲، ص:۲۳۲-۲۳۳.

[2] شرح الکبير، ج:۲، ص: ۲۲۰.

## دریم مبحث:واده په غرب کې:

په دې مبحث کې دا خبره د څیړنې لاندې نیسم چې واده په غرب کې د کومو اصولو له مخې کیږي؟هلته د خطبې اړوند خبره هم کوم او د مدني زواج عقد په تړاو هم وضاحت کوم.دا ځکه چې په مخکې مبحثونو کې زواج،دهغې ارکان او شرائط د اسلام له نظره وپیژندل شول.اوس یې وخت دی چې د غربي نظام له ادرسه هم د کورني نظام دا مهم بنسټ معرفي کړو او په دې تړاو د غرب لیدلوری هم واضح کړم.

## لومړی مطلب:په الماني قانون کې دخطبې أحکام:

د خطبې په اړه دلته اوس په غرب کې عام قوانین تر څیړنې لاندې نیسم.

د خطبې په اړه، الماني قانون پوه Herbert Crziwot وآیي:دا هغه دوه جانبه وعده ده چې د ښځې او سړي ترمنځ د راتلونکي واده په اړه کیږي.1

خطبه یا خواستګاري څه ډول بشپړیږي.؟

مطلب دا چې څنګه باید پوه شو چې خواستګاري او خطبه منل شوې ده،نو په دې تړاو

دې پوښتنې ته ښاغلیHerbert Crziwot داسې ځواب وایي:که چیرته یوه کوچنۍ جلۍ د بیلګې په ډول لیزا خپل ملګري جان سره په یوه بستره کې ویده شي،لیزا ته دا هم څرګنده شي چې د جان نیت څه شی دی او څه غواړي له دغه کار څخه او دوی دواړه د واده کولو په اړه هم جدي وي،نو دا دواړه په دې حالت کې په پټه د خطبې او خواستګارۍ غوښتونکي دي او دا د پټې خواستګارۍ او خطبې یوه برخه ده.بیا د لیزا ملګری جان له لیزا څخه مخ وګرځوي او لیزا ته ووایي چې زما نیت خو خواستګاري نه وه،بلکې بس یوه عاطفي اړیکه وه چې جریان یې ونیوه،له دې وروسته د خطبې د پای اړوند کومې خبرې ونشي،نو بیا دې ته خطبه نه شو ویلای.2

Wichtige Rechtsfragen.Writer: **Herbert Crziwot,printing:Muneekh.Page:14** [1]

Wichtige Rechtsfragen.Writer: **Herbert Crziwot,printing:Muneekh.Page:14** [2]

دا خو یوه فرضیه ده چې د یو مشهور قانون پوه له لورې مطرح کیږي ،هغه په غرب کې دخطبې او خواستګارۍ یوه نوعه او ډول واضح کوي چې هلته ښځه او خاوند د یو بل لپاره څه ډول خواستګاري کوي.البته د همدې فرضیې په تړاو یو شمیر نور حقوق پوهان نور نظریات هم لري.د همدې نظریې په تړاو د المان د قانون یوه برخه راخلو چې دا ډول اړیکه خطبه او خواستګاري بولي او که نه.دالمان قانون وایي چې خطبه او خواستګاري کوم ځانګړي الفاظ نلري او کوم محدود شکل او ډول هم نلري.کله دا خطبه پټه وي او کله ښکاره وي،بس چې دوه خلک په کوم ډول یې خوښه وي خطبه کولای شي.او په خطبه کې دا هم مهم نه دي چې هغه کله خطبه کې د دواړو طرفینو ترمنځ د اړیکې په سر هوکړه وشي نو،دا په کې شرط نده چې خلکو ته یې اعلان کړي،خلکو ته ځان هم وښایي چې موږ دواړه یو دبل خواستګاران یو،دا او دې ته ورته نور شیان په خطبة کې مهم نه دي .1

دلته که د المان د قانون دا برخه چې د خطبې او خواستګارۍ په تړاو یې وضاحت کړی دی تحلیل کړم نو څرګنده به شي چې څومره لوی نقصان د خطبې په برخه کې شتون لري.

دلته یوه لویه ګډوډي رامنځ ته کیږي او په ټوله کې دلته د زنا او اخلاقي فساد دروازه خلاصیږي.ځکه چې المانی قانون په دې باندې صراحت لري چې که چیرته یو نارینه ښځینه ته خپل نیت اظهار کړي چې زه له تاسره په راتلونکې کې نکاح کوم،نو بیا که ورسره هرډول جنسي اړیکه ونیسي،نو دا جائز عمل دی.اوس دلته یوه لویه اخلاقي ستونزه رامنځ ته شوه،هغه دا چې ټول ځوانان به له دې لارې خپلې نامشروع اړیکې له ځوانو انجونو سره ټینګوي،کله چې خپله جنسي تنده او اشباع رامنځ شي،نو بیا به بیرته د خپلې خواستګارۍ له غوښتنې څخه تیریږي.بله مهمه جدي قضیه چې دلته رامنځ ته کیږي هغه داده چې په دې صورت کې ناجائزه او نامشروع اولادونه رامنځ ته کیږي،هغه چې زموږ ټوله ټولنه له ګډوډۍ او خطر سره مخ کوي.همدا لامل دی چې نن ټوله اروپا په اخلاقي فساد ککړه ده،دا ځکه چې دوئ دې ناروا چارې ته د شخصي ازادۍ عنوان کیږدي او ددې عنوان لاندې بیا دومره بدې رامنځ ته کیږي چې په اروپا کې ټولې تنکۍ پیغلې په اخلاقي فساد ککړیږي او له وخت وړاندې دا بیا ډیرې نامشروع اړیکې نیسي.2

---

[1] Wichtige Rechtsfragen.Writer: **Herbert Crziwot,printing:Muneekh.Page:15**

[2] ظلام من الغرب,المؤلف : محمد الغزالي,الناشر : دار نهضة مصر,الطبعة : الأولي,ص:138.

په دې تړاو دکتور سالم بن عبدالغني الرافعي [1]په خپل کتاب احکام الاحوال الشخصية للمسلمين في الغرب کې وايي:کله چې اروپا د شخصي ازادۍ لاندې ټولې اخلاقي پولې ونړولې،کله چې په تعليمي اداراتو کې اخلاقي فساد اوج ته ورسيده،نو په دې اساس باندې بيا ډيره مشکله ده چې په اروپا کې دې يوه داسې نامسلمانه ښځه پيدا شي چې اتلس کلنۍ ته رسيدلي وي او د هغې بکارت دې پاتې وي.ددې سبب دادی چې هلته په اروپا کې تر لسو کلونو پورې تعليم اجباري دی او په دې لسو کلونو کې ددې انجلۍ ښونځی ددې ضامن دی چې ددې پيغلې انجلۍ بکارت به په دې لسو کلونو کې نه پاتې کيږي.هلته په درسي ځايونو کې د انجونو او هلکانو ترمنځ ګډ او مختلط سيستم دی،په دې مختلط سيستم کې بيا د جنسي زده کړې لپاره ځانګړي درسونه هم شته دي چې نارينه او ښځينه يې له اوه کلنۍ وروسته لولي.له دې پس بيا د لامباء زده کړې مرحله هم ددې درسونو رسمي برخه ده او دا لامبا هم ګډه او مختلطه ده.بيا عامه او ازاده فضاء هم له فحشاء او عريانۍ ډکه ده او په پايله کې نتيجه دا راووتله چې د نړۍ علمبرداره اروپا کې اوس اخلاق په دې حال دي چې هلته زنا کول او زنا ته تشويقول يوه بهترينه چاره ده.بلکې حالت هلته دومره بد ځای ته رسيدلی دی چې که چيرته د يو اروپايي غير مسلمان انسان يوه مراهقه لور داسې وي چې هغه ملګری ونه لري،نو پلار او کورنۍ يې دې ته هڅوي چې د ځان لپاره يو داسې څوک پيدا کړي چې له دې سره ملګرتيا وکړي.[2]

اوس د خطبې په تړاو يوه بله مهمه مسله بحث کوم،هغه دا چې په غرب کې دا خطبة لازمه ده او که نه.

دلته هربرټ وايي:اصلا خطبه او خواستګاري يو داسې وعده ده چې په راتلونکي کې به واده کوي او دا وعده لازمه نده،کله چې د دواړو لوريو څخه د يو لوري نيت تغير شي نو کولای شي چې دا خطبه پريږدي او پای ته يې ورسوي،نو په دې اساس له دغه دوه طرفونو څخه يو طرف هم نه شي کولای چې په بل لوري باندې محکمه کې دعوه پرانيزي.همدا لامل دی چې په

[1] پوره نوم سالم بن عبد الغني بن أحمد بن عبد القادر الرافعي،په طرابلس لبيا کې زيږيدلی دی،په کال ١٨١٦ ميلادي کې،لومړنۍ زده کړې يې له شيخ مصطفى الحفار سره وکړې،بيا يې دمشق ته سفر وکړ،له هغې وروسته مکې معظمې ته په علمي سفر لاړه،هلته يې حج هم وکړ،نوموړي عثماني خلافت ته هم ډير خدمتونه کړي دي او يو بهترين صوفي او عصري عالم وو، يو پياوړی ليکوال دی چې خپل روح يې بيا په مکة مکرمة کې خپل خالق ته وسپاره.البته د وفات دقيقة نيټه يې نده معلومه.ويکيپيډياء

[2] آحکام الاحوال الشخصية،للمسلمين في الغرب،ص:٣٥٥.

واده کې اجبار د د المان دقانون،۱۲۹۷ مادې، په همدې ډول د ۸۸۸ مادې، په همدې ډول په ۸۹۴ مادو کې راغلي دي چې اجباري واده جائز نه دی .1

د خطبې اثار..!

په الماني قانون کې په خطبې باندې یو شمیر اثار مرتبیږي.

الف: خطبه کوم قانوني حق په میراث کې نه شمیرل کیږي او نه یې په نفقه کې حق شمیرل کیږي.

که چیرته دې میرمن او سړي دخطبې په حالت کې ماشوم وزیږوه، نو بیا به دا غیر شرعي اولاد شمیرل کیږي.

ج: خاطب(هغه کس چې ښځې پسې په خواستګارۍ کې راغلی وي)مقابل طرف سره د یو خپلوان په توګه تعامل کوي، نو په دې اساس په حقوقي لحاظ دده شهادت د مقابل طرف په حق کې نه په جنائي او نه په مدني حقوقو کې قبلیږي.2

## دوهم مطلب:د واده شرایط:

په غرب کې د واده شروط واضح دي.

لومړی شرط:

ښځه او خاوند به د واده قدرت ولري، په دې مانا چې دا به په بدني او صحي لحاظ داواړه واده ته اماده وي، که چیرته دغسې اماده ګي ونلري، نو بیا دا دواړه د عدم قدرت لرونکو کې شمیرل کیږي.

نو اساسا ویلی شو چې غرب کې هم د واده لپاره لومړنی شرط قدرت او توان دی.

نو هر ځوان او میرمن چې د واده په برخه کې قدرت ونلري، هغه نشي کولای چې واده وکړي.3

1 Wichtige Rechtsfragen.Writer: Herbert Crziwot,printing:Muneekh.Page:17

2 مخکیني مرجع.ص:۱۷.

3 Wichtige Rechtsfragen.Page:22.

دوهم شرط:

هغه کس چې واده غواړي هغه به د رشد سن او عمر ته رسیدلی وي،دا شرط د المان د اساسي قانون د واده د برخې لومړۍ ماده کې ذکر شوی دی.د رشد څخه موخه هلته بلوغ دی.1

مطلب که څوک وغواړي چې واده وکړي هغه باید بالغ وي اوکه بالغ نه وي محکمه ورته اجازه نه ورکوي چې واده وکړي.

البته په غرب کې دبلوغ لپاره ځانګړی سن او عمر دی چې هغه اتلس کلني ده.دوی وایي :هر څوک چې عمر یې له اتلسو کلونو څخه ښکته وي، هغه ماشوم شمیرل کیږي،اګر که د عمر په لحاظ بالغ هم وي بیا هم د نابالغو په کتار کې راځي.

دوئ وایي چې د انسانانو اهلیت هله کامل کیږي چې کله د اتلس کلنۍ عمر ته ورسیږي، کله چې انسان اتلس کلن شي بیا ورته ټولې قانوني او حقوقي لاربښونې، هغه چې لویانو ته متوجې دي متوجې کیږي او مسولیت یې ډیریږي.

د المان د اساسي قانون د واده او مدني قانون د برخې دویمه ماده د بلوغ او رشد لپاره اتلس کلني ټاکلې ده.2

دریم:د واده اهلیت به لري:

په دې مانا چې هغه څوک چې واده غواړي دا به د واده لپاره اهل وي.اهلیت کې یې یو قانوني عمر دی،البته هغه څوک چې غواړي له قانوني سن او عمر وړاندې چې هغه اتلس کلني ده واده وکړي،نو دوی په خپل سر نه شي کولای چې واده وکړي،بلکې دوی ته محکمه هله د واده اجازه ورکوي چې کله ددوی اولیاء یا مور او پلار موافقه وکړي.که چیرته اولیاء موافقه ونکړي،نو بیا به دا کس چې عمر یې اتلس کلنۍ ته نه دی رسیدلی خو واده غواړي،نو دا به محکمې ته عارض کیږي او له محکمې به غوښتنه کوي چې زه غواړم واده وکړم، خو اولیاء مې مخالفت کوي،بیا به محکمه ددغه شخص عمر ته ګوري،که چیرته یې مناسبه وبلله،نو واده

---

1 مخکینی مرجع،ص:۲۲.

2 Wichtige Rechtsfragen**.Page:23.**

به کوي او بیا یې د اولیاؤ موافقه شرط نده او که چیرته یې لازمه ونه بلله نو بیا واده نه شي کولی.1

په ټوله کې ویلی شو چې واده په المان کې هم شرایط لري او دا شرایط یې موږ پاس واضح کړل، خو دا شرایط یو شمیر ستونزې او مشکلات هم لري.

غواړم چې په دې برخه باندې یې یوه کوچنۍ تبصره هم وکړم.

هر کله چې د قانون له مخې یوازې اتلس کلن انسان واده کولای شي او له دې پرته که چیرته جلۍ په څوارلس کلنۍ یا دیارلس کلنۍ کې بالغه شوي وي، نو اوس که چیرته یو څوک په خپله خوښه وغواړي چې خپله حیاء خوندي کړي، نه غواړي چې نا مشروع اړیکې ونیسي بلکې قانوني جنسي اړیکې ونیسي، نو دالمان او په ټوله کې د غرب قانون ددې لپاره حل لاره نه لري.

دلته سوال دا پیدا کیږي چې کله دوه کسان هلک او جلۍ په خپله خوښه په څوارلس کلنۍ کې جنسي اړیکې ټینګولی شي، قانون ددوی دا اړیکې جرم نه بولي او یو مشروع کار یې بولي، نو دا دوه کسان ولې په خپله خوښه بیا په څوارلس کلنۍ کې واده ونه شي کړلای؟کله چې ددوی په ژوند باندې قانون داسې پابندي لګوي چې دوی له اتلس کلنۍ وړاندې واده ته نه پریږدي، نو په دې صورت کې خو دلته خپله قانون دفرد ازادي سلب کړه، نو ولې؟همدا قانون په څوارلس کلنۍ کې څکه د دوه کسانو په خوښه د جنسي نامشروع اړیکو مخه نه نیسي او دلیل ورته دا وایي چې که چیرته موږ دلته د دوه کسانو د جنسي اړیکو مخه ونیسو نو دلته فردي او شخصي ازادي سلبیږي او له منځه ځي.خو همدا قانون بیرته فرد له مرۍ نیسي او دهغه ازادي سلبوي او ورته وایي چې له اتلس کلنۍ وړاندې واده نه شي کولی.دا هغه تناقض دی چې د الماني قانون په شمول یې د ټولو غربي هیوادونو قانونه لري.

البته که همدا د واده شرائط یې لږ نور هم وڅیړو، نو دومره نیمګړتیاوې به څرګندې شي چې تصور یې هم شونی نه دی .دا اوس چې غر بي ټولنه له کومو ستونزو سره مخ ده، تر ټولو ستر لامل یې همدا دای چې دلته د خالق د قانون پرځای د مخلوق قانون د تطبیق وړ دی او د مخلوق جوړ شوی قانون خو ډیرې نیمګړتیاوې لري.

---

1 Wichtige Rechtsfragen**.Page:23.**

## دریم مطلب:د مدني واده د ترسره کیدلو عقد.!

په المان کې چې کله په ۱۸۷۵ میلادي کال کې د وینځو مسله منع شوه،نو په همدغه کال باندې یې عام قانون صادر کړ او ټول پخواني قوانین یې منع کړل.د دغه قانون له مخې یوازې یو رسمي واده پاتې شو او دا رسمي واده یې د دولت په ټولو رسمي ځایونو کې په مدني زواج او واده سره ونوموه.ددې عقد د ترسره کولو لپاره باید د قانون له مخې داسې اجرات ترسره شي:هغه څوک چې غواړي واده وکړي،نو هغه باید خپل غوښتنلیک،خپله او هغه ښځه چې غواړي نکاح ورسره وکړي،نو هغه به هم ځان سره راولي او د فامیلي معاملاتو په دفتر کې به د خپلې غوښتنې په تړاو وضاحت ورکړي.ددغه دفتر موظف مامور او مدیر به له دغه دواړو څخه د هویت اړوند اسناد،د اوسیدو د ځای اړوند کاغذونه او د کار او روزگار اړوند اسناد ټول به له دې ښځې او خاوند څخه وغواړي.بیا به دا مامور دغه اسناد او ورقې د استئناف محکمې ته ولیږي،ترڅو چې هلته یې داته اونیو په موده کې سمه پلټنه وشي.

که چیرته دا اسناد او ورقې قانوني وي،پوره وي،نو بیرته یې احوال شخصي یا دکورنۍ اړوند حقوقي دفتر ته لیږي،چې هلته ي(Standes Amt)بولي.بیا د استیناف محکمه دې جوړې(ښځې او خاوند) ته یو خط او رساله لیږي او له هغوئ څخه به ددې عقد د قبول والي په هکله معلومات حاصلوي،که چیرته یې اوکی وکړه،نو بیا به دوی باندې پنځوس مارکه لازمیږي چې تحویل یې کړي.بیا به بیرته د احوال شخصي دفتر ته دوه ورځې پس مراجعه کوي.بیا به دا اداره د ورقو له اخیستلو او تسلیمولو وروسته یوه یا دوه میاشتې پس دوی ته د واده نیټه ټاکي،له واده څخه یوه اونۍ وړاندې بیا همدا اداره اعلان کوي چې په دغه نوم کس چې دپلار نوم یې دادی،له دغه نامې جلۍ سره د الماني قانون د ۱۲ مادې موافق واده کوي،ددې اعلان څخه یې موخه دا وي چې دا خبره ښه کره کړي چې ددې واده په وړاندې کوم مشکل او خنډ نشته،البته د المان قانون کې چې کله وروستی تعدیل وشو،نو دغه اعلان ترې حذف شو،بیا په ټاکل شوې نیټه کې دواړه ښځه او خاوند حاضریږي،البته په دې ورځ ددوی شتون اړین او ضروري دی او ددوی په ځای باندې وکیل نه شي راتللی.

دلته بیا ټاکل شوی کس خاوند یا میړه ته وایي:ایآ ته غواړې چې له فلانۍ سره واده وکړې؟نو هغه د هو! په ډول ځواب ورکوي.بیا له دې وروسته همدا سوال له مخطوبې یا میرمنې کوي:ایا ته له فلاني سره واده کول غواړې؟ هغه هم په هو سره ځواب ورکوي.

دغه مهال ټاکل شوی کس اعلان کوي چې دا دواړه د المان دقانون د۱۲ او ۱۳ مادې له مخې ښځه او خاوند شول.

دا ټول هر څه ددوه شاهدانو په مخکې اداء کیدل،البته د ۱۹۹۸ کال په تعدیل کې ترې د شاهدانو لزوم ختم شو او بیا وویل شول چې د شاهدانو شتون یوه اختیاري چاره ده،که د چا خوښه وي شاهدان دې راولي او که خوښه یې نه وي،نو له شاهدانو دې تیر شي.

دواړه ښځه او خاوند اختیار لري چې د خپلې کورنۍ لپاره نوم ددواړو په اتفاق سره وټاکي.په همدې ډول په الماني قانون کې وکالة واده جایز نه دی ،چې خپله خاوند نه وي اووکیل راولیږي،یا دا چې میرمن نه وي او دځان په ځای وکیل راولیږي،نه بلکې د ښځې او خاوند شتون اړین او ضروري دی.په همدې ډول بله خبره په کې داده چې په دې واده کې د مور او پلار موافقت لازم نه دی ،ځکه چې دالماني قانون له مخې له اتلس کلنۍ وروسته بلوغ دی او د بلوغ په حالت کې ځوانان اړتیا نلري چې له مور او پلار څخه اجازه واخلي.1

البته یوه بله خبره داده چې په کلیساء کې هم واده کول هلته جایز دي،خو دا رسمي او مدني واده نه بلل کیږي،که چیرته چا په کلیسا کې وکړ،نو دالمان دقانون د ٦٧ او ۸۸ مادې له مخې پرې لازم ده چې بیرته دوباره مدني واده وکړي.2

نو په ټوله کې ویلای شو چې په المان کې دوه ډوله ودونه دي چې یو یې غیر رسمي واده بلل کیږي چې هغه په کلیساء کې ترسره کیږي او بل یې رسمي واده دی چې هغه مدني واده بولي او هغه د المان دقانون له مخې دواړه ښځه او خاوند باندې لازم ده چې دا واده په محکمه کې وکړي.نو په ټوله کې موږ دلته په المان کې د مدني واده په تړاو بحث وکړ چې د هغې د کولو طریقه څه ډول ده،موږ دا بحث همدلته پای ته رسوو.

---

1 Wichtige Rechtsfragen.**Page:20-21.**

2 Wichtige Rechtsfragen.**Page:20-21.**

## دریم فصل !

## (د طلاق بحث په اسلامي او غیر اسلامي هیوادونو کې).

په دې فصل کې د اسلام او غير اسلامي هيوادونو ترمنځ څېړو،دا واضح  کوو چې  اسلام کې طلاق څه  ډول احکام  لري او په غير اسلامي هيوادونو کې د طلاق احکام څه ډول دي.

## لومړی مبحث:طلاق په اسلام  او غير اسلامي هيوادونو کې:

په دې مبحث کې  به ان شاء الله طلاق[1] د څېړنې لاندې ونيسو،دا به واضح کړم چې په اسلام کې طلاق حکم څه  دی،ډولونه يې څه دي او نور ډېر څه به هم واضح کړو،په همدې ډول دا به هم واضح  کړو چې غرب کې د طلاق  مسله په کوم ډول ده.

## لومړی مطلب:طلاق په  اسلام کې

په دې مطلب کې دا واضح کوو چې طلاق څه ته وايي،حکم يې څه دی،ډولونه يې څه دي او شرطونه يې څه دي.

دطلاق حکم او دهغې پيژندنه

طلاق په لغة کې:رفع القيد سواء كان حسيا او معنويا.[2]

قيد لرې کول،برابره خبره  ده چې دا قيد حسي وي او که معنوي.

اسلامي فقهاء بيا طلاق په دې ډول تعريفوي: (رَفْعُ قَيْدِ النِّكَاحِ فِي الْحَال أَوِ الْمَآل بِلَفْظٍ مَخْصُوصٍ أَوْ مَا يَقُومُ مَقَامَهُ)[3]

د نکاح تړون له منځه وړل،برابره خبره ده کې دستي وي او يا په راتلونکي کې وي،په خاصو الفاظو سره،يا په داسې څه سره چې ددې الفاظو قايم مقام وي.

دطلاق حکم:

دطلاق تکليفي حکم دادی چې دا مشروع دی او په دې باندې ټول فقهاء اجماع او اتفاق لري،د مشروعيت دليل يې:

1 - قَوْله تَعَالَىَ: {الطَّلاَقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ}[4]

ژباړه:(رجعي)طلاق دوه ځله دی،نو بيا ساتنه دښځو(ده)(په رجوع سره)معروف(ښه وجه)يا پريښودل دي(ددې ښځو)په ښه وجه سره.[5]

---

[1] د نکاح د عقد له منځه وړل او ازالې ته طلاق وايي.لسان العرب،ج:٨،ص:٥٣٩.

[2] معجم الوسيط،ج:١،ص:٦٨٨.

[3] الدر المختار،ج:٣،ص:٢٢٦،الشرح الكبير،ج:٢،ص:٣٤٧،المغني لابن قدامة،ج:٧،ص:٢٩٦،مغني المحتاج،ج:٣،ص:٢٧٩.

[4] سورة البقرة،ايت:٢٣٩.

[5] تفسير کابلی،ج١،ص:١٨۴.

2 - قَوْله تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ}[1]

ژباړه:ای پیغمبره (ووایه امت خپل ته)کله چې اراده وکړئ،طلاقوئ تاسې ښځې(خپلې چې مدخول بها وي او صغیره،آیسه،چې حامله نه وي)نو طلاقوئ(وخت )دعدت ددوی کې.[2]

په نبوي احادیثو کې هم ډیر احادیث شته دي چې د طلاق په مشروعیت باندې دلالت کوي،زه یې دلته یو دانه باندې اکتفاء کوم:

عن ابن عمر رضی الله تعالی عنه[3] قال،قال رَّسُول - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: مَا أَحَل اللَّهُ شَيْئًا أَبْغَضَ إِلَيْهِ مِنَ الطَّلَاقِ)[4]

په حلالو شیانو کې چې د الله جل جلاله ډیر بد راځي، هغه طلاق دی.

البته دطلاق په اصلي حکم د فقهاؤ اختلاف دی،جمهور علماء وايي:اصل په طلاق کې اباحت دی،یو شمیر نور یې بیا وايي چې اصل په کې ځان ساتل دي له طلاق څخه،خو په هر حال بیا فقهاء وايي چې کله دا طلاق مباح وي،کله مندوب وي،کله واجب وي،کله مکروه وي او کله حرام وي،چې د هغې لپاره خپل حالتونه دي او هغه د انسان ظروفو ته په کتلو بیا طلاق ځانګړی حکم اخلي.[5]

دطلاق ډولونه:

طلاق په خپلو بیلابیلو ډولونو له مخې انواعو ته تقسیمیږي،د صیغې په اعتبار سره په دوه ډوله دی،صریح او کنائي.په اعتبار د اثر او نتیجې سره هم په دوه ډوله دی:رجعي او بائن.د صفت له حیثیته بیا په دوه ډوله دی،سني او بدعي،په همدې ډول په یو بل تقسیم کې بیا فقهاؤ منجر،یو شرط پسې تړلی یا معلق او هغه طلاق چې راتلونکي او مستقبل ته یې اضافت شوی وي،تقسیم کړی دی.

[1] سورة الطلاق،ایت:۱.

[2] تفسیر کابلی،ج:۲،ص:۱۴۵۳.

[3] پوره نوم یې عبد الله بن عمر بن الخطاب بن نفیل، القرشي العدوي، دی،نوموړی په مکة کې د بعثت په دریم کال زیږیدلی دی،کنیه یې ابا عبدالرحمن دی،دی د اسلام ددوهم خلیفه عمربن الخطاب زوي دیومور یې زینب بنت مظعون نومیږي،ده په کوچني والي کې اسلام راوړی دی،د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د سنتو کلک پیرو وو،په بدر او احد کې کوچنی وو،خو په خندق غزا کې چې کله ۱۵ کلن شو اجازه ورته د قتال وشوه،له دې وروسته یې په ټولو غزواتو کې ګډون وکړ.تر دې چې د مصر په فتحې او د افریقا د شمال په فتحو کې هم ده ګډون کړی دی.
دی په مکة کې وفات شوی دی سیر اعلام النبلاء،ج:۲،ص:۴۲۷.

[4] سنن أبي داود،المؤلف : أبو داود سليمان بن الأشعث السجستاني،الناشر : دار الكتاب العربي ـ بيروت،عدد الأجزاء : 4،مصدر الكتاب : وزارة الأوقاف المصرية وأشاروا إلى جمعية المكنز الإسلامي،ج:۲،ص:۲۳۱.(د حدیث حکم الباني صیب د همدې طبعې په لمنلیک کې وايي:دا حدیث ضعیف دی)

[5] در المختار،ج:۳،ص:۲۲۷،المغني،ج:۷،ص:۲۹٦،مغني المحتاج،ج:۳،ص:۲۷۹.

هر يو يې بيا جلا ،جلا تعريف لري او دهر يو په واقع کيدلو کې بيا بيلابيلې ډلې خپل نظريات او توجيهات لري.1

دطلاق ورکونکي سړي او طلاق و رکونکې ميرمنې شروط:

اسلام د طلاق واک سړي ا و نارينه ته ورکړی دی، ځکه چې نارينه د ښځې په نسبت د ګټو او تاوانونو په توازن ښه پوهيږي، بل دا چې سړی د واده په کولو کې له ډير تکليف او ستونزو سره مخ کيږي، په مالي لحاظ تاوانونه کوي، نو په دې اساس په اسانۍ سره طلاق نه ورکوي، ځکه چې واده باندې يې ډير مصرف شوی دی، نو ځکه په دغه برخه کې احتياط کوي. البته ښځه بيا د واده په برخه کې دومره بوج او تکليف نه پورته کوي، لکه څومره چې سړی پورته کوي، نو که چيرته اسلام د طلاق اجازه ښځې ته هم ورکړې وه، نو بيا به يې په لومړۍ لانجه کې طلاق اخيسته او په دې ډول به نارينه په دغه قضيه کې تر ټولو بد بايلونکی وو.

البته اسلام په ټوله مانا سړی هم د طلاق په قضيه کې خلاص مټ نه دی پريښی، بلکې يو شمير قيودات يې پرې وضع کړي دي، تر څو چې دغه جسارت په اسانۍ سره ونکړي او که دا کار کوي بايد سم فکر وکړي. نو په دې اساس موږ غواړو چې دلته د طلاق ورکونکي سړي او ښځې دواړو شرائط ذکر کړو.

هغه کس چې طلاق ورکوي هغه بايد د لاندې شرايطو درلودونکی وي:

اول: بلوغ:

په مطلق يا طلاق ورکونکي سړي کې شرط د ادی چې دا بايد بالغ وي، که چيرته مشاوم وي اوغير مميز وي، نو ددې طلاق نه واقع کيږي. او په دې مسله کې د علماؤ ترمنځ د نظر اختلاف هم نشته دی. بلکې د مميز ماشوم په طلاق کې اختلاف شته دی، چې دې اختلاف ته موږ نه ور داخليږو.2

دوهم: عقل:

---

[1] الدر المختار، ج:۳، ص: ۲۲٦، الشرح الكبير، ج:۲، ص:۳۴۷، المغني لابن قدامة، ج:۷، ص:۲۹٦، مغني المحتاج، ج:۳، ص:۲۷۹.

[2] المغني، ج:۷، ص:۱۱٦.

په همدې ډول په مطلق کې بل شرط دادی چې دا به عاقل وي، په دې باندې اهل علمو اجماع کړې ده چې هغه کس چې عقل یې له نشې پرته زائل شوی وي، ددې کس طلاق نه واقع کیږي.[1]

دریم:اختیار:

بل شرط دادی چې مطلق او طلاق ورکونکی به اختیار هم لري، که چیرته پرې اکراه او جبر شوی ووبیا په دې کې بیا تفصیل شوی دی. که چیرته اکراه په حق سره وه، لکه یو مالک چې خپل غلام باندې اکراه راولي نو بیا ددې غلام طلاق واقع کیږي. خو که چیرته اکراه ناحقه وه، بیا نو په دې کې فقهاء اختلاف لري او څوک یې واقع کوي او څوک یې نه واقع کوي.[2]

البته دا یې هغه شروط وو چې د اسلامي فقهاؤ ترمنځ اتفاقي دي، یو شمیر نور یې بیا ځینې نور شروط هم ذکر کوي چې له هغې تیریږو، ځکه چې بیا دا بحث له حده ډیر اوږدیږي.

د مطلقې(هغه ښځه چې طلاقه کړای شوي وي)شروط!

هغه ښځه چې په هغې باندې طلاق واقع کیږي په هغې کدا شرط ده چې هغه به د طلاق محل وي، مطلب دا چې ددوی او خاوند ترمنځ به نکاح او زوجیت شتون ولري او دا شتون به یې حقیقي او یا حکمي وي.[3]البته ددې موضوع په جزیاتو کې هم فقهاء بیلابیل نظریات لري، خو موږ یې همدومره ذکر کوو چې فقط زموږ موضوع ترې روښانه شي. نورو جزیاتو او دفقهاؤ نظریاتو پسې نه ګرځو، ځکه چې بیا زموږ دا بحث نور هم اوږدیږي.

## دوهم مطلب: دطلاق صیغه

طلاق د الفاظو ترڅنګ په لیکلو، د ګونګي په اشاره او یو شمیر نور باندې هم واقع کیږي.

د طلاق الفاظ کله صریح وي اوکله داسې وي چې هغه کنائي الفاظ وي، په صریحو الفاظو باندې له نیت پرته طلاق واقع کیږي او په کنائي الفاظو باندې تر هغې طلاق نه واقع کیږي ترڅو چې نیت یې نه وي کړی.[4]

---

[1] شرح فتح القدير،ج:٣،ص:٣٤٣،مغني المحتاج،ج:٤،ص:٤٥٥،الشرح الكبير،ج:٢،ص:٣٦٥،الروضة،ج:٨،ص:٦٢،بدائع الصنائع،ج:٣،ص:٩٩.

[2] المغني،ج:٧،ص:١١٨،الروضة،ج:٨،ص:٥٦،شرح فتح القدير،ج:٣،ص:٣٤٤،الشرح الكبير،ج:٢،ص:٣٦٩،بدائع الصنائع،ج:٣،ص:١٠٠.

[3] الروضة،ج:٨،ص:٦٨،مغني ا لمحتاج،ج:٤،ص:٤٧٦،المغني،ج:٧،ص:٥٩،حاشية الدسوقي،ج:٢،ص:٣٥٦حاشية ابن عابدين،ج:٤،ص:٥٥٠.

[4] المغني،ج:٧،ص:١٢١.

د صریح الفاظ په برخه کې هم بیا یو شمیر فقهاء یو ډول الفاظ ذکر کوي او یو شمیر نور یې بیا څه کموي او څه اضافه کوي، خو د ټولو ترمنځ یوه خبره اتفاقي ده چې د طلاق لفظ او یا هغه لفظ چې د طلاق لپاره استعمالیږي، هغه صریح دی.

کنائي الفاظو کې هم د مسلمانو فقیهانو ترمنځ نظریات مختلف دي، یو شمیر یې یو ډول الفاظ کنایي بولي او یو شمیر نور یې بل ډول الفاظ کنائي بولي، خو مطلب دومره ده چې دلته کیسه ټوله په نیت پورې تړلې ده، هغه څه به واقع کیږي چې د ویونکي نیت وي.

په همدې ډول طلاق په کتابت او لیکلو سره هم واقع کیږي، دا نظر دجمهورو فقهاؤ دی، دوی وايي چې که چالیکل وکړل او نیت یې هم ترې طلاق وو، نو دده طلاق واقع کیږي.امام مالک، شافعي او احمد رحمهم الله وايي چې په لیکلو او کتابت باندې هله طلاق واقع کیږي چې کله یې نیت کړی وي. که نیت یې نه وي کړی نو بیا نه واقع کیږي، دا ځکه چې لیکل د ډیرو احتمالاتو امکان لري، ممکن له دې لیکلو څخه یې نیت د طلاق نه وي کړی بلکې د خپل خط د ښایسته والي په موخه یې کړي وي.امام احمد بن حنبل رحمه الله وايي چې په کتابت او لیک سره طلاق واقع کیږي، اگر که نیت یې هم نه وي کړی.البته احناف وايي چې که چیرته یې دا لیک دخطاب او رسالې په ډول لیکلی وو، مثلا:اما بعد، ای فلانی، ته دې طلاقه وې، نو دلته طلاق له نیت پرته هم واقع کیږي. که چیرته دې سړي بیا دعوه وکړه چې له دې څخه مې د طلاق نیت نه وو، نو دده تصدیق به نه کیږي.1

## دریم مطلب:طلاق کې دقاضي حکم او خلع

په ټوله کې د واده اړیکه د مینې او صمیمیت اړیکه ده، خو کله چې له دې اړیکې څخه عذاب جوړ شي، ښځه بله لاره نه لري او خاوند یې تنگوي، حقوق یې نه ورکوي او طلاق هم نه ورکوي، نو بیا قاضي حق لري چې دې ښځې ته طلاق ورکړي. سمه ده چې طلاق  دسړي په لاس کې دی، خو که چیرته ورسره داسې ظلم روان وو، نو ښځې ته اسلام جواز ورکړی دی چې خپل حق د قاضي په مټ وغواړي.البته دلته د ضرر مانا دا هم نده چې میړه خپله ښځه وهي، بلکې دلته د ضرر مانا عامه ده، لکه دهغې نفقه ورته نه ورکوي، یا خاوند عیب لري، یا دا چې اوږده موده غائب وي، نو قاضي کولای شي چې دغه مهال ښځې ته طلاق ورکړي.البته دلته د غیاب د مودې په هکله د فقهاؤ بیلابیل نظریات شتون لري چې دلته ترې موږ تیریږو.2

---

[1] المغني،ج:۷،ص:۲۳۹،شرح فتح القدير،ج:۳،ص:۴۰۳،مغني المحتاج،ج:۴،ص:۴۶۳،الروضة،ج:۸،ص:۴۰.

[2] شرح فتح القدير،ج:۴،ص:۱۲۷،الروضة،ج:۷،ص:۱۷۶،بداية المجتهد،ج:۲،ص:۵۰.

البته موږ دطلاق په هکله خبره وکړه چې اسلام سړي ته اجازه ورکړې ده چې که چیرته یې ښځه بده راتلله، نو کولای شي چې ښځې ته طلاق ورکړي، البته که چیرته اوس ښځه داسې وه چې له سړي سره یې وخت نه تیریده او له هغې څخه یې کرکه کوله، له هغې سره یې ژوند بد وو، نو اسلام ورته دا حق ورکړی دی چې له دې خاوند څخه د خلاصون لاره ولري، هغه لاره خلع ده، د خلع[1] حق ټول فقهاء مني او څوک یې ددین په معتبرو امامانو کې مخالف نه دی .خلع مطلب دادی چې ښځه خپل خاوند د معلوم او ټاکل شوي اندازه مال په بدل کې ځان له خاوند څخه ازاد کړي.[2]

نو ددې توافق په اساس ښځه کولی شي چې د خاوند له شر څخه ځان وژغوري او خپل ژوند د مال په بدل کې له خاوند څخه وژغوري.

## دوهم مبحث:طلاق په غیر اسلامي هیوادونو او غرب کې:

طلاق په په غیر اسلامي هیوادونو او غربي تمدن کې د نورو دینو شیانو په څیر تغیر وکړو، داځکه چې مخکې کلیساء د طلاق اجازه نه ورکوله او کلیساء ویل چې طلاق ناروا دی، ځکه چې ددوی په باور هغه څه چې الله جل جلاله جمع کړي دي، د هغې جلا کول انسان ته جائز نه دي .خو دا په نوي غربي تمدن کې تغیر شول او د طلاق دروازه پرانیستل شوه، داځکه چې نوی اروپایي انسان او تمدن وایي چې دین باید د بل انسان په شخصي ژوند کې لاس وهنه ونکړي، دولت داړئ سره هم باید کار ونلري، بلکې انسان باید هغه قوانینو ته ژمن وي، کوم چې دولت په خلکو منلي دي.نو د غربي انسان په باور دین دا حق نه لري چې د انسان په ژوند کې لاس وهنه وکړي.بل دا چې یو سړی په یوې ښځه پسې لازم کول او د تل لپاره یو ځای کول، یا یوه ښځه د تل لپاره په یو سړي پسې پیوسته کول، داسې چې ټول عمر ورسره وي اوبیخي ترې نه جلا کیږي، دا د انسان شخصي ازادي او خپلواکي له منځه وړي، نو په دې اساس غرب وایي چې طلاق دښځې او نارینه دواړو منل شوی حق دی.

[1] چې یوه ښځه د مال په بدل کې له خپل خاوند څخه ځان ازادوي، مطلب ښځه مال ورکړي او خاوند یې په بدل کې له دې سره د نکاح فسخه وکړي.لسان العرب،ج:۵،ص: ۲۱۰.

[2] شرح فتح القدیر،ج:۴،ص:۱۲۷، الروضة،ج:۷،ص:۱۷۶، بدایة المجتهد،ج:۲،ص: ۵۰.

## لومړی مطلب:څوک په غیر اسلامي هیوادونوکې طلاق واقع کولی شي؟

په غربي ادبیاتو او ټولنه کې طلاق د اسلامي ادبیاتو په څیر ډیر ډولونه نه لري چې طلاق سني او بدعي،یا مغلظ او بائن او یا نورو ته تقسیم شي،غرب په یو طلاق باور لري او کله چې دښځې او خاوند ژوند تنګ شي،بس جلا کیږي.

په غرب کې طلاق د محکمې په حکم واقع کیږي،البته هله چې ښځه او خاوند دواړه، یا فقط خاوند او یا فقط ښځه د طلاق غوښتنه وکړي.په غرب کې دطلاق په قضیه کې ښځه او خاوند یو ډول او مساوي حق لري،خو البته په خپل سر طلاق نه شي ورکولی بلکې د محکمې او قاضي په حکم به جلا کیږي.نو غرب کې طلاق هله نافذیږي،کله چې محکمه پریکړه وکړي.1 نو په ټوله کې ویلای شو چې په غرب کې طلاق دښځې او خاوند دواړو په لاس کې دی،البته هغه مهال نافذیږي چې کله قاضي ددواړو ترمنځ تفریق واقع کړي.نور هلته دا مهمه نده چې لامل یې څه دی،بس چې له ښځې او خاوند یو هم غوښتنه وکړه نو قضیه یې قبلیږي او منل کیږي او محکمه یې ترمنځ طلاق واقع کیږي.

## دوهم مطلب:دطلاق دواقع کیدو شرطونه

په غرب کې هله طلاق واقع کیږي کله چې له ښځې او خاوند څخه یو د طلاق غوښتنه وکړي،البته محکمه هله دا طلاق واقع کوي کله چې دې نتیجې ته ورسیږي چې ددوی ګډ ژوند نور ممکن نه دی ،نو په دې اساس محکمه ګوري که چیرته یې ژوند ناممکن وو،نو بیا یې ترمنځ طلاق واقع کوي.اوس داسې خبره ده چې په غرب کې دا څنګه معلوم شي چې ددې ښځې او خاوند ترمنځ نور ګډ ژوند ناممکن دی؟نو محکمه وایي چې دا به داسې معلوموو چې که چیرته دا ښځه او خاوند له یو بل څخه یو کال جلا واوسیدل،نو له دې څخه معلومیږي چې یوځای اوسیدل یې ناممکن دي.اوس یوه بله خبره داده که چیرته یو طرف د طلاق مخالف وو،نو بیا په دې صورت کې محکمه درې کاله وخت ورکوي، که له درې کلونو پس هم ښځه او خاوند سره یوځای نشول،نو مانا یې داده چې کورنی ژوند یې شړیدلی دی،نو بیا به محکمه ددوی ترمنځ طلاق غورځوي،په دې اړوند د المان قانون په ١٥٦٦ ماده کې تصریح کړې ده.هغه چې موږ پورته ذکر کړه،البته دا خبره هم ذکر کوي چې که چیرته د ښځې او خاوند ترمنځ د جلا کیدلو یو کال نه وو پوره شوی نو،له دې وړاندې محکمه طلاق نه شي غورځولی.2

---

[1] أحکام الاحوال الشخصیة للمسلمین في الغرب،ص:٥٩٨.

[2] Trennung,scheidung,unterhalt von A bis.writer;u Khayam,Page;18.

## دريم مطلب: دمطلقاتو احکام

په اسلامي شرعيت کې دمطلقې په احکامو کې دا هم ده چې مطلقه ښځه به عدت تيروي، خو غربي قوانين او په ځانګړي ډول د المان، ډنمارک او فرانسې قانون دا شرط نه مني او په ښځه باندې عدت نه تيروي، البته د نفقې په تړاو دومره وايي چې نفقه په قوي جهت باندې ده، مطلب دا چې که چيرته ښځې کار کوه نو د طلاق څخه په وړاندې موده کې به ښځه سړي ته نفقه ورکوي اوکه چيرته ښځې دنده نه درلوده او سړي دنده درلوده، نو دا وخت به نفقه د سړي په غاړه وي، خو که چيرته دواړو دنده درلوده، نو بيا نفقه په هغه جهت باندې ده چې ډير مال ورسره وي او مالداره وي.1

په غرب کې دا نفقه هغه مهال پيليږي چې کله دښځې او خاوند ترمنځ اړيکه پای ته ورسيږي، خو دښځې او خاوند څخه يو يې نفقې ته اړتيا لري، نو دا مهال يو لوری حق لري چې له بل لوري څخه نفقه وغواړي او هغه بل لوری به هم د جلا والي په موده کې په دې باندې مصرف کوي اودا نفقه د جدا کيدو له ورځې پيل کيږي او دطلاق تر واقع کيدو پورې وي. 2

## څلورم مطلب: د غير اسلامي طلاق په اړه داسلام حکم

په ټوله کې اسلام د طلاق لپاره خپل احکام لري او همغه معتبر دي، له دې پرته د غربي طلاق هغه احکام چې د اسلام سره په ټکر کې دي، د هغې له مخې طلاق ناسم دی او نادرست دی. دا ځکه چې دلته اسلام له غربي طلاق سره په ټکر کې دی، ځکه چې په اسلام کې د طلاق واک له سړي سره دی خو په غربي طلاق کې واک بيا له ښځې سره هم شته دی. په همدې ډول په اسلام کې بيا دښځې او خاوند ترمنځ ديو کال موده يا هم ددرې کالو موده نشته، خو غربي قوانين بيا ددرې کالو موده ورکوي، هغه څه چې په اخلاقي ډول نورو بد اخلاقيو ته لاره برابروي، نو په دې اساس غربي طلاق د اسلام له مخې ناسم دی او مسلمانان نه شي کولای چې له دې لارې په خپلو منځونو کې تفريق راولي.

## پنځم مطلب: دمسلمانانو ترمنځ طلاق

اصلا خو مسلمان ته مناسبه نده او جائز هم ورته نده چې غير اسلامي محکمو ته خپلې پريکړې او فيصلې يوسي، ځکه چې دا د اسلام د دين تقاضا ده چې بايد مسلمان په اسلام

---

1 قانون اساسي فرانسه، نسخه فارسي، مصوبه ۱۹۵۸، با آخرین اصلاحات تا ۲۰۰۸، ص:۴۲.

2 Trennung, scheidung, unterhalt von A bis.writer;u Khayam, Page;20.

مبارک دین باندې خپلې پریکړې وکړي، خو دومره ده چې په غرب کې اوسیدونکي مسلمانان چې دي دوی شرعي او اسلامي محکمې نلري، ترڅو د هغوئ مشکلات حل کړي، دهغوئ قضايي او کورنيو مشکلاتو ته رسيده گي وکړي، نو په دې موخه باندې هلته د مسلمانانو د شرعي مسائيلو د حل په موخه په غرب کې يو شمير مراکز شتون لري چې هلته د مسلمانانو ستونزې او مشکلات حل کړي، خو دومره ده چې دا ديني مراکز په يو شمير شخصي مسائلو کې قانوني حق نلري چې هغه ترسره کړي، لکه د قانون له مخې طلاق ورکول يوازې د محکمې حق دی او محکمه به يې تنفيذوي، په همدې ډول زواج او نکاح هم همدغسې ده چې دا يوازې د محکمې په حکم نافذيږي او دغه اسلامي مراکز په کې کوم رغنده رول نلري.نو هغه عقدونه چې دغه اسلامي مراکز يې جاري کوي دا قانوني بڼه او رنگ نه لري، دا نه په غربي هيوادونو کې قانوني بڼه لري او حتی په يو شمير هغه اسلامي هيوادونو کې هم قانوني جنبه نلري چې هغه هيوادونه دسيکولرانو په لاس کې دي او هلته اسلامي شريعت معطل دی او ځای يې وضعي قوانينو نيولی دی.البته دومره ده چې مسلمانان خو کولای شي چې ددغه مراکزو له لارې د واده ستونزه حل کړي، ځکه چې واده بيا داسې دی چې په شرعي لحاظ نارينه ښځې سره د جوړه کيدولپاره شرط پوره کوي اومحکمې پورې ډيره اړه هم نلري، خو د طلاق موضوع بيا جلا او مهمه ده، ځکه چې هلته مال وي او د مال په حق کې چې کله جنجال او لانجه وي، دا قاضي او حکومت ته اړتيا لري ترڅو هغه حل او فصل کړي.نو همدا لامل دی چې دغه اسلامي مراکز له دې څخه عاجز دي چې هغوئ د طلاق قضيه نافذه کړي، په همدې دول له دې هم عاجزه دي چې د نفقې موضوع حل کړي او د اولاد د روزنې قضيه هم نشي حلولی ځکه چې دا داسې قضايا دي چې دولت او نظام په کې مستقيما مداخله کوي.نو په دې اساس ښځه يا هم خاوند دې ته اړ کيږي چې غربي محکمو ته لاړ شي ترڅو خپله ستونزه حل کړي، ځکه له دوی سره ددې ستونزې د حل لپاره بله حل لاره نشته دی.نو په دې صورة کې بيا يو شمير معاصرو علماؤ فتوی ورکړې ده چې ددې محکمې طلاق نه واقع کيږي او دوی خپل دا قول له تفصيل پرته ذکر کړی دی، يو شمير نور بيا وايي چې مطلقا درست دی.[1]

خو دومره ده چې دا مسله داسې په مطلق ډول هم سمه نده، بلکې دا تفصيل ته اړتيا لري، که چيرته دې محاکمو کې د اسلامي شريعت موافق طلاق واقع کړی شو، نو بيا دا حکم

[1] أحكام الاحوال الشخصية للمسلمين في الغرب، ص:٦١٨.

نافذ دی او طلاق واقع دی، خو که چیرته یې د اسلامي شرعیت مخالف حکم وکړ، نو دا حکم یې لغوه دی او هیڅ تاثیر نه لري، ځکه چې په دې اړه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو حدیث دی چې فرمايي: عَنْ عَائِشَةَ[1] رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ أَحْدَثَ فِى أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ ».[2]

ژباړه: چا چې زموږ په دين کې نوی څه شی پیدا کړ، نو هغه د منلو وړ نه دی .

نو له دې ځایه داسې معلومیږي چې داسې پریکړې اسلام ته د منلو نه دي ،نو دلته اوس څوک دا هم نه شي ویلای چې هلته مسلمانان اوسیږي او دهغوئ د شتون له امله باید دغرب ټول قوانین او پریکړې ومنل شي، ځکه چې دا کوم عذر نه شي کیدلای، داځکه چې الله جل جلا هغه کسانو ته کافر وايي چې په غير شرعي محاکمو باندې فیصلې کوي.

{فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجاً مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيماً}[3]

ژباړه:پس قسم دی په رب ستا چې نه مومنان کیږي دوی  تر هغې پورې چې حکم(منصف)کړي دوی  تا په هغه جګړه کې چې پیښه شوې ده په منځ ددوی  کې، بیا ونه مومي دوی  په نفسونو یا(زړونو)خپلو کې خپګان(تنګي)له هغه شي چې حکم(فیصله)کړې وه تا(او تاوه وه یې مني دوی )په منلو سره((بې له جګړې په خوښۍ سره))[4]

البته  دلته  ضرورت  شته دی، خو داسې ضرورت نه دی ،چې د هغې لپاره دې شرعي احکام د پښو لاندې کړای شي، دلته غواړو چې دلته منځلای قول ذکر کړو.

که چیرته داسې وه چې د یوې مسلمانې ښځې ټول ژوند، په خطر کې وي اود ژوند له مهم نعمت څخه بې برخې کیږي، نو که په دې صورت کې دا مسلمانه میرمن کولای شي چې ددغه محکمو حکم ته غاړه کیږدي او خپله قضیه ورته یوسي، دا ځکه چې دا مسلمانه میرمن اوس د اظطرار په حالت کې ده او د اظطرار پر مهال ان مسلمان ته اجازه ورکړل شوې ده چې د

---

[1] عائشة بنت أبى بكر : الصديق التيمية ، أم المؤمنين ، أم عبد الله  یې پوره نوم دی.د مومنانو دا مور ام رومان بنت عامر بن عويمر بن عبدشمس بن عتاب لور ده، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یواځینۍ پیغله میرمن ده، چې د اسلام د لومړي خلیفه ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه لور ده، په اسلام کې د ستر منزلت څښتنه ده، دا په صحیح قول سره په ۵۷ هـ ق کال کې وفات شوې ده، چا ویلي دي چې په ۵۸ کې وفات شوې ده.ددې روایتونه په صحاح الستة ټولو کې شته دي.الاعلام للزرکلي، ج:۱، ص:۱۷۳.

[2] سنن ابو داود، ج:۴، ص:۳۲۹.(د حديث حکم:الباني صيب د همدې کتاب په لمنلیک کې په دې حدیث بادې حکم لګولی دی او دا حدیث یې صحیح بللی دی.)

[3] سورة النساء، ایت:٦٥.

[4] تفسیر کابلی، ج:۱، ص:٦۴۵.

خنزیر غوښه وخوري، نو دلته هم اظطرار شتون لري چې د یوې میرمنې ټول ژوند له خطر سره مخ دی، نو کولای شي چې دغه محاکمو ته لاړه شي او خپل حق ترې وغواړي، ترڅو خپل راتلونکی خونه دي کړي.خو که چیرته داسې یوه چاره وه چې له طلاق پرته حلیدله، نو بیا پکار داده چې دا ستونزه له محکمې پرته د خبرو اترو له لارې حل کړای شي.

خو بیا هم یو څو صورتونه یې دلته ذکر کوم چې په ټوله کې مسله لا ښه واضح شي.

اول صورت: چې سړی د طلاق ورکولو رغبت ولري:

نو په دې صورت کې سړی غربي محکمې ته هم لاړشي، نو په ده لازم ده چې ښځې ته نفقه سکنی دعدت په موده کې ورکړي.او ټول هغه حقوق ورته خونه دي کړي چې هغه شرعیت ښودلي دي.

دوهم صورت: چې ښځه د طلاق غوښتونکې وي، که چیرته دې وخت کې سړي ورسره بد وضعیت نه وو کړی، نو بیا به ددې حکم د خلع وي.دې وخت کې به ښځه له خپل میړه څخه د خلع په صورة کې ازادیږي.خو کله چې دښځې او سړي ترمنځ خلع کیږي، نو هومره مال به ترې اخیستل کیږي چې خاوند ورسره پرې موافقه کړي وي، خو که چیرته ښځې د طلاق غوښتنه کړې وه او غربي محکمې طلاق واقع کړ او خپله فیصله یې دښځې په حق کې وکړه، نو دلته به پام کوو، نو که چیرته سړي هم طلاق ورکړی وو او په طلاق یې تلفظ هم کړی وو، نو طلاق واقع شو، ځکه چې طلاق خو په تلفظ سره واقع کیږي، په همدې ډول په لیکلو باندې هم طلاق واقع کیږي، په دې تړاو مخکې موږ لنډه خبره کړې وه، نو دلته اصلا طلاق که دسړي په خوښه او تلفظ سره واقع شوی دی، نو دطلاق واقع کیدل هم لازم شول، ځکه چې سړي د طلاق الفاظ په خوله باندې راوړل.خو که چیرته سړي دطلاق الفاظ په خوله رانه وړل، نو دا مهال واقع نه دی ،اگر که محکمې پرې پریکړه وکړه، ځکه چې دلته محکمه ظلم کوي اودا طلاق یې د اسلامي شریعت موافق نه دی .او ښځه هم دسړي له نکاح څخه خارج نده.[1]

## شپږم مطلب: دکافرانو ترمنځ طلاق

اسلام د کافرانو ترمنځ نکاح ته اعتبار ورکوي، چې دوی کولای شي چې خپلو منځونو کې نکاح وکړي، په همدې ډول ددوی ترمنځ طلاق ته هم اعتبار ورکوي.

[1] حکام الاحوال الشخصیة للمسلمین في الغرب، ص: ٦٢١.

نو په دې اساس ویلی شو چې په هغه کتابۍ چې په د غرب په مدني محکمه کې طلاق کړای شوي وي، نو له هغې سره واده سم دی، ځکه چې دا میرمن دکافرانو قوانین او تشریع مني.1 دې وخت کې به ددې طلاق د واقع کیدلو کیفیت ته نه کتل کیږي، کله چې په دې طلاق کې شروط متحقق شول، نو طلاق واقع شو او دا طلاق نافذ هم دی.

مخکې موږ خبره وکړه چې په غرب کې طلاق تر هغې نه واقع کیږي، ترڅو چې ددې ښځې او خاوند ترمنځ د انفصال موده نه وي پوره شوي. چې هغه له یو کال څخه نیولې تر درې کالو پورې ده. په همدې دول مسلمان ته حلاله نده چې له کتابۍ سره د انفصال او جدا کیدو په زمانه کې نکاح وکړه، ځکه چې دا میرمن د بل کافر په نکاح کې ده او اوس په قانوني لحاظ دا ښځه او خاوند د انفصال او جلا والي په زمانه کې دي او په قانوني لحاظ دا دواړه خپل دغه قانون ته ژمن دي، نو په دې اساس یو مسلمان ته جائز نه دي چې له دې کتابۍ سره نکاح وکړي.2

## دریم مبحث: د طلاق اړوند د غیر اسلامي محاکمو فیصلې:

د غیر اسلامي هیوادونو د طلاق هغه احکام چې د اسلام سره په ټکر کې دي، د هغې له مخې طلاق ناسم دی او نادرست دی. دا ځکه چې دلته اسلام له غربي او غیر اسلامي هیوادونو له طلاق سره په ټکر کې دی، ځکه چې په اسلام کې د طلاق واک له سړي سره دی خو په غیر اسلامي هیوادونو کې د طلاق کې واک بیا له ښځې سره هم شته دی. په همدې دول په اسلام کې بیا دښځې او خاوند ترمنځ دیو کال موده یا هم ددرې کالو موده نشته، خو غربي قوانین بیا ددرې کالو موده ورکوي، هغه څه چې په اخلاقي دول نورو بد اخلاقیو ته لاره برابروي، نو په دې اساس غربي طلاق د اسلام له مخې ناسم دی او مسلمانان نه شي کولای چې له دې لارې په خپلو منځونو کې تفریق راولي.3

## لومړی مطلب: که چیرته نامسلمان قاضي د مسلمانې ښځې او خاوند ترمنځ تفریق راولي څه به کیږي؟

د قاضي په صفاتو کې یو صفت عدالت دی، نو په دې اساس باندې که چیرته یو نامسلمان قاضي د مسلمانې ښځې او خاوند ترمنځ تفریق او جلا والی راولی یا یې طلاق ترمنځ

---

[1] نظام الاسرة بین المسیحیة والاسلام، ج:۱، ص:۱۷۹.

[2] أحکام الاحوال الشخصیة، للمسلمین في الغرب، ص:٦١٦.

[3] مجلة مجمع الفقه الاسلامي، العدد التاسع، الجزء الرابع، ص:۳۲۴.

واچوي،نو دا سم نه دی ،دا ځکه چې که چیرته یو نامسلمان قاضي ته په مسلمانه ټولنه کې دومره صلاحیت ورکړل شي چې طلاق واچوي او دښځې او خاوند ترمنځ تفریق راولي نو په دې صورت کې بیا ټوله اسلامي کورنۍ ړنګیږي او له یو ستر زیان سره مسلمانه ټولنه مخ کیږي،نو هغه مسلمان اقلیتونه چې په غرب یا هند کې اوسیږي، دوی شرعي محاکم نه لري،نو په دې اساس باندې دوی باید د خپل طلاق او تفریق قضیې دغسې محاکمو ته یونسي او په خپلو کې یې باید سره حل کړي،همدا ده چې مسلمانانو ددې ستونزې د حل لپاره اسلامي مراکز ایجاد کړي دي ترڅو ددغسې قضیو لپاره رسیده ګي وکړي.[1]

## دوهم مطلب:که چیرته مسلمان قاضي نه وي او اسلامي مراکزو ته رجوع وشي؟

که چیرته په غیر اسلامي هیوادونو کې مسلمان قاضي نه وي چې په شرع باندې پریکړې وکړي،نو په دې حالتونو کې په مسلمانې ښځې او خاوند واجب ده چې اسلامي مراکزو ته رجوع وکړي.بیابه خپل مشکلات دغه اسلامي مراکزو ته مخکې کړي،بیا به یې د دواړو په خوښه باندې حل کوي،که چیرته ددې اسلامي مراکزو په پریکړو باندې دوی راضي نه وي،نو بیا به دوه دانې حکمین ټاکي ترڅو ددوی ترمنځ پریکړه وکړي او څارنه به یې دغه مرکز کوي،نو کله چې دغه دواړه حکمان او فیصله کونکي کومه پریکړه وکړي نو دا به عملي کیږي.نو په ټوله کې ویلی شو چې په غیر اسلامي هیوادونو کې که چیرته ددوه مسلمانانو قضیه او یا هم د ښځې او خاوند قضیه پیښه شي،په داسې حالت کې چې دلته اسلامي محاکم نه وي،نو کولی شي چې دا قضیه دغه اسلامي مراکزو ته یوسي.په ډیرو حالتونو کې په غیر اسلامي هیوادونو کې مساجد هم فعال دي او دداسې شخړو په حل کې دوی رغنده رول لوبولی شي،نو ځکه دا چاره یوه مشروع چاره ده.[2]

## دریم مطلب:داسلام او غرب دطلاق ترمنځ مقارنة.

موږ مخکې د الماني قانون له مخې د طلاق او یو شمیر نور کورني مسائل تحلیل کړل،دا مسائیل تر ډیره د امریکا او نور غرب له قوانین سره په توافق کې دي،البته ډیر کم جزئي مسائیل یې مختلف دي،موږ ځای ځای هم په یو شمیر مسائلو هلته تبصره وکړله،اصلا دا

---

[1] الاحکام السیاسیة للآقلیات المسلمة في الفقه الاسلامي،المؤلف:سلیمان محمد توبولیاک،الناشر،دارالنفائس،مصر،قاهرة،الطبعة،الاولی،۱۴۱۸،ج:۱،ص:۴۷۹.

[2] أحکام الاحوال الشخصیة،للمسلمین في الغرب،ص:٦١٨.

به نامناسبه وي چې اسلامي قانون او غربي قانون او نړۍ لید سره مقارنه کړای شي، خو اوس یوه شدیده اړتیا ده، ځکه چې د اسلام مقابل حریف هغه غرب او دهغې قانوني جنبه ده، نو په دې اساس اړینه ده چې یو څو ټکي یې مقارنه کړو.1

د طلاق موده!

اول دا چې په غربي ټولنه کې په طلاق باندې له یوه کال څخه نیولې، تر درې کلونو پورې وخت نیسي او په دې ټوله موده کې بیا سړی په خپله خوښه طلاق نه شي واقع کولی، بلکې محکمه به دا طلاق واقع کوي.

دلته څو مشکلات دي.

اول: د نسل ګډوډي!

په دې ټوله موده کې چې درې کاله ده، په هیڅ صورة نارینه او ښځینه خپله اخلاقي سپیڅلتیا نه شي ساتلی او دا درې کاله چې ډیره ستره موده ده، یو لوی اخلاق بحران ته لاره هواروي، کوم چې په ټولنیز ډول باندې نسل ګډوډوي اوټوله ټولنه فاسدوي.

دوهم: د مال مصرفیدل.!

کله چې ښځه او خاوند بیا بیا محکمې ته ځي، نو په دې درې کلونو کې یې ډیر زیات مال مصرفیږي، دا بیځایه مال مصرفول د دواړو په زیان دي او دوی له مالي بحران سره مخ کولای شي. په دې تړاو موږ مخکې خبره کړې وه.

په داسې حال کې چې اسلام په دواړو اړخونو کې منځلاری دی، دطلاق ورکولو او عدت موده یې هم لنډه ده، ترڅو دښځې د اخلاقي فساد مخنیوی وکړي او اسلامي ټولنه له فساد او ګډوډۍ وژغوري او په همدې ډول دمال د بیځایه مصرفیدا مخه یې هم نیسي. اسلام ټول واک سړي ته ورکړی دی چې دا قضیه په لنډ ډول پای ته ورسوي اودغرب په څیر په کې محکمې شاهد او نور څه ته اړتیا نشته دی بلکې څو الفاظو باندې کولای شي چې طلاق واچوي.

پراخه نفقه!

موږ مخکې یادونه وکړه چې په غرب کې نفقه داسې ده چې که سړی مالداره وي، نو دښځې نفقه یې په غاړه ده او که ښځه مال او دنده ولري، نو دسړی نفقه بیا دښځې په غاړه ده2 او دا

---

[1] مخکینی مرجع، ص:٦١٩.

[2] Wichtige Rechtsfragen.**Page:22.**

ډېره کمه اندازه نفقه ده، بیا که سړی مال لري، نو په هغه باندې لازم ده چې خپل مال په منځ نیمایي کړي او نیم ښځې ته ورکړي او نیم خپله واخلي، داسې نو بیا ډېرې ښځې له خاوندانو څخه په دې موخه هم طلاق اخلي چې دخاوند مال لاسته راوړي، همدا دی چې ډېر سړي خپل مال له لاسه ورکوي، نو بیا ډېری نارینه خپل مال پټوي او یا داسې شي چې خپله میرمن ووژني او یا له ډېر غم او غوسې څخه خپله انتحار وکړي، نو همدا وي چې د یوې ستونزې حل بله ستونزه وزیږوي.[1]

نو په دې اساس غربي طلاق په خپل ذات کې د ستونزې حلونکی نه دی بلکې د یوې نوې او بلې ستونزې زیږونکی دی، په داسې حال کې چې په اسلام کې دطلاق فلسفه داسې ده چې ددوه انسانانو ترمنځ ستونزه پای ته ورسوي، نه دا چې بله ستونزه ورته وزیږي.

یوه بله مهمه مسله په غربي طلاق کې داده چې د طلاق واک یې ښځې ته ورکړی دی، په داسې حال کې ښځه په عاطفي او احساساتي لحاظ ډېره کمزورې ده، نو همدا دی چې په غرب کې د طلاق کچه په بیساري ډول ډېره ده، په داسې حال کې چې دطلاق موضوع بیا په اسلام کې له نارینه سره ده، میرمن په دې برخه کې دومره ډېره ونډه نه لري.

په اسلامي نړۍ لید کې یوه اساسي خبره داده چې کومه ځمکه دارالاسلام وبلل شوه او د اسلام نظام پرې حاکم شو، نو په دې ځمکه کې به بیا د الله جل جلاله شرعیت ټول پلی کیږي او دلته به بیا دهغې اوسیدونکي په نظر کې دومره نه نیول کیږي.

خو که کله دارالاسلام په دراحرب بدل شو، داسې چې کافران او مرتدین پرې واک تر گوتو کړي او دوی یې ونیسي او دکفر احکام په کې ظاهر شي، نو دلته دراالاسلام له منځه لاړه، په دې مانا چې دارالاسلام په دارالکفر تبدیل کیدای شي او خپل مفهوم تغیرولی شي.[2]

لکه په اوسنۍ نړۍ کې چې په اسلامي نړۍ کې گډوډي او سیکولر نظامونه حاکم دي، له افغانستان پرته په کې داسې ځای نشته چې هغه د دارالاسلام ریښتیني مصداق وي، بلکې نوره اسلامي نړۍ د مسلمانانو په ځمکه باندې یادیږي.

له اسلامي نړۍ پرته چې په نوره کفري نړۍ کې کوم مسلمانان اوسیږي، هغه د اسلامي نړۍ برخه ده، هغه مسلمانان چې د ضرورت له مخې غرب او غیر مسلمانو هیوادونو ته مهاجر شوي دي، دا لا هم د امت برخه ده او په دې تړاو مو مخکې خبره واضح کړې ده چې ایا دا

[1] أحکام الاحوال الشخصیة، للمسلمین في الغرب، ص: ٦٣١.

[2] الاحکام السیاسیة للاقلیات المسلمة، ج: ١، ص:٤٧٧

هجرت جائز دی او که نه،خو فقط دومره ده چې هلته اوسیدل یې جائز دي،البته داړتیا له مخې،یا داسې چې هلته داسلامي مصلحت له مخې ژوند او اوسیدل جائز دي،دا ځکه چې اوس په اسلامي نړۍ کې ډیری دولتونه داسې دي چې خپل نور مسلمان هیوادوال یې په منډه کړي وي اودوی مجبور دي چې غیر اسلامي نړۍ ته لاړ شي.1

البته که چیرته مسلمانان دکار لپاره غیر اسلامي هیواد ته ځي،دا تګ جائز نه دی ،ځکه چې په دې کې د مسلمان ذلت او سپکاوی دی،البته دومره ده چې که چیرته اسلامي مصلحت او اسلام یې تقاضاء وکړي،چې ددې مسلمان په واسطه د مفاسدو مخه نیول کیدای شي،دا حالت ترې بیا مستثنی دی.2

او په ټوله کې که ووایو چې هغه مسلمانان چې په غرب کې ژوند کوي، هغوئ ته جائز نده چې دکافرانو په صف کې د مسلمانانو په وړاندې باندې جګړه وکړي،ځکه چې دا جګړه داسلام نړول کوي،نو ځکه جائز نده.

د یو مسلمان هیواد په توګه اسلامي نړۍ ددغه مسلمانو اقلیتونو په وړاندې مسولیتونه لري. هغه دا چې په اسلامي نړۍ باندې واجب ده چې دا مسلمان اقلیتونه چې په غرب کې ژوند کوي، ددوی اړتیاوې ورپوره کړي، هرڅه ته چې اړتیا ولري، هغه ورته حل کړي.

اسلامي نړۍ او اسلامي هیواد باندې لازم ده چې له دغه مسلمانو اقلیتونو سره مالي،سیاسي، او پوځي مرسته وکړي،ځکه چې دا مسلمانان د اسلامي نړۍ جسد دی او دمسلمانانو برخه ده،ځکه چې له دې مسلمانانو سره د نورې اسلامي نړۍ اړیکه دعقیدې،ایمان او اسلامي اخوت ده، همدا ده چې باید ددوی ملاتړ وکړای شي.

په بالمقابل اړخ کې په دغه مسلمانانو هم واجب ده چې د اسلامي هیوادونو مرسته وکړي،داسې مرسته چې دوی یې وسه ولري، هغه که مادي مرسته وي چې اسلامي نړۍ ته خپل زکاة ورکړي او نور هغه څه چې دوی یې له مسلمانانو سره کولی شي،باید له دوی یې ونه سپموي.3

---

[1] هماغه مرجع،ج:۱،ص:۴۷۸.

[2] هماغه مرجع،ج:۱،ص:۴۷۸.

[3] الاحکام السیاسیة للاقلیات المسلمة في الفقه الاسلامي ج:۱،ص:۴۷۹.

## ځلورمطلب:د میراث قضیة!

ایا کافر له مسلمان څخه میراث وړلی شي؟

په دې باندې د مسلمانانو اجماع ده چې کافر له مسلمان څځه میراث نه شي وړلی،ځکه چې د نبي کریم صلی ا لله علیه وسلم حدیث دی چې فرمآیي: (عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ[1] عن النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- : { أَنَّ الْمُسْلِمَ لاَ يَرِثُ الْكَافِرَ وَأَنَّ الْكَافِرَ لاَ يَرِثُ الْمُسْلِمَ }[2]

له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی چې مسلمان له کافر څخه میراث نه شي وړلی او کافر له مسلمان څخه میراث نه شي وړلی.

دا نظر د ځلورو امامانو په شمول د لویو صحابه کرام او تابعینو رضوان الله علیهم اجمعین هم دی.[3]

خو که چیرته کافر په داسې حال کې مسلمان شو چې له مړي څخه پاتې شوی مال نه وو تقسیم شوی او دا مړی هم مسلمان وو،نو دلته جمهور علماء وایي چې بیا یې هم نه شي وړلی،ځکه چې دلته په داسې حال کې دا د مړي په وارثانو کې شمیر شوی دی چې د مړي په ژوند کې کافر وو او له مرگ څخه وروسته یې اسلام راوړی دی او دا اسلام یې معتبر نه دی د میراث په برخه کې،دلیل یې هماغه پورتنی حدیث دی.[4]

حنابله او مالکیان په دوهم روایت کې وایي چې کله چې کافر د مال له تقسیم څخه وړاندې اسلام راوړ،نو دی له خپل مورث څخه میراث وړلی شي،خو کله که پاتی شوی مال تقسیم شو او دې کافر وارث اسلام راوړ،نو په دې مهال کې دا په میراث کې څه شی نه شي وړلی،خو که چیرته یې

---

[1] پوره نوم یې عبارت دی له: أسامة بن زيد بن حارثة بن شراحيل الكلبى الأمير ، أبو محمد و يقال أبو زيد و يقال أبو يزيد و يقال أبو حارثة ، المدنى څخه.دی جلیل القدر صحابي دی،کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم غلام زید بن حارثه زوی دی،رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل وفات څخه وړاندې د رومیانو په وړاندې د غزا مشري ورته وسپارله او ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه چې کله خلیفه شو،لومړنی کار یې دا وکړ چې د اسامة بن زید لښکر یې د رومیانو سره د جگړې لپاره ولیږه.دی په مدینه منوره کې په کال ۵۴ هـ کې وفات شوی دی.(سیر اعلام النبلاء،ج:۱،ص:۴۲۹.)

[2] صحيح البخاري,ج:۳,ص:۲۸۱.(دا حدیث صحیح دی،ځکه چې امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحیح البخاري کې په ځان باندې د صحیح احادیثو راوړولو التزام کړی دی.

[3] المبسوط للسرخسي،ج:۳۰،ص:۳۰.

[4] المبسوط للسرخسي،ج:۳۰،ص:۳۰،المغني،ج:٦،ص:۲۴٦،مغني المحتاج،ج:۳،ص:۲۳.

بعضې ترکه تقسیم کړې وه او بعضې پاتې وه او په دې وخت کې کافر وارث اسلام راوړ،نو دا کس په باقي پاتې مال کې میراث وړلی شي.[1]

دوهم:مسلمان له کافر څخه میراث وړلی شي؟

دلته لومړی نظر دجمهورو فقهاؤ دی چې مسلمان له کافر څخه میراث نه شي وړلی او دلیل یې هم هماغه پخوانی حدیث دی،په دې باندې امام مالک رحمه الله اجماع هم نقل کړی دی چې مسلمان له کافر څخه میراث نه شي وړلی.[2]

دوهم نظر دادی چې:مسلمان له کافر څخه میراث وړلی شي،البته دا نظر د یو شمیر صحابه کرامو او تابعینو دی.[3]

البته ددوی استدلال له عمومیاتو څخه دی چې اسلام انسان ته لوړتیا ورکوي نه ذلت او ښکته والی،نو ددغه لوړتیا له امله مسلمان له کافر څخه میراث وړلی شي.بل دوی دا قیاس هم کوي چې د مسلمان نکاح د اهل کتابو له ښځو سره جائز ده،خو یوې مسلمانې میرمنې ته جائز نده چې د اهل کتابو له میرمنو سره نکاح وکړي.[4]

البته دلته د جمهورو علماؤ نظر راجح دی.

د ترجیح دلیل:

چې جمهور د خپلې مدعاء لپاره صریح نص ر اوړي، خو برعکس د وهمه ډله په یو کمزوري قیاس باندې استدلال کوي،د جمهورو لپاره دلیل هماغه حدیث دی چې موږ مخکې ذکر کړ: :« أَنَّ الْمُسْلِمَ لاَ يَرِثُ الْكَافِرَ وَأَنَّ الْكَافِرَ لاَ يَرِثُ الْمُسْلِمَ »)[5]

دلته په صریح ډول وایي چې مسلمان له کافر څخه میراث نه شي وړلی او کافر یې له مسلمان څخه نشي وړلی.نو اساس دلته دوهمې ډلې علماؤ قیاس معتبر نه دی .

---

[1] المغني،لابن قدامة،ج:٦،ص:٢۴٩، حاشية الدسوقي،ج:٢،ص:۴٢٥.

[2] المبسوط للسرخسي،ج:٣٠،ص:٣٠،المغني،ج:٦،ص:٢۴٦،مغني المحتاج،ج:٣،ص:٢٣.

[3] المبسوط للسرخسي،ج:٣٠،ص:٣١.

[4] المبسوط للسرخسي،ج:٣٠،ص:٣١.

[5] صحيح البخاري,ج:٣,ص:٢٨١.(دا حديث صحيح دی،ځکه چې امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحيح البخاري کې په ځان باندې د صحيح احاديثو راوړلو التزام کړی دی.

څلورم: د مسلمان او مرتد ترمنځ میراث:

علماؤ د کافر او مرتد په میراث کې او مال کې فرق کړی دی،البته په دې برخه کې ټول علماء اتفاقي دي چې مرتد له هیچا څخه هم میراث نه شي وړلی،البته له مرتد چې کومه ترکه پاتې شوې ده،په دې کې بیا د نظر اختلاف شتون لري:

اول نظر: د مرتد څه پاتې شوی مال ټول مسلمانانو ته د مال فئ حیثیت لري،نو په دې اساس هیڅوک له مرتد څخه میراث نه شي وړلی،دا نظر د مالکیانو،شافعیانو او ظاهر روایت د امام احمد بن حنبل رحمه الله دی.[1]

دوهم نظر دادی چې مسلمان د خپل وفات شوي مورث [2]چې مرتد[3] وي مال وړلی شي،دا نظر د امام ابو حنیفه او احمد بن حنبل رحمهم الله دی.

ددوی دلیل دادی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د منافقانو د ریس عبدالله بن ابي ابن سلول مال د هغه مسلمانو ورثه ته ورکړ.[4]

بل دلیل دادی چې الله جل جلاله فرمایي: (وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ).[5]

ژباړه:او خاوندان دخپلوئ ځینې ددوی غوره دي(دمیراث په وړلو سره)په ځینو نورو په حکم د الله جل جلاله کې.[6]

## پنځم مطلب:د واده په عقد کې ددین د اختلاف اثر!

په دې برخه کې دا موضوع واضح کوو چې د دوه بیلابیلو ادیانو درلودونکي واده سره وکړي،په دې اړوند یو شمیر مسائیل واضح کوو.

د مسلمان واده له هغه چا سره چې کوم کتاب نه لري:

[1] مغني المحتاج،ج:۳،ص:۲۵.المغني،ج:٦،ص:۲۴۸،کشاف القناع،ج:٦،ص:۱۸۲.

[2] هغه کس چې مال ترې په میراث پاتې وي.لسان العرب،ج:۱۲،ص:۳۱۲.

[3] هغه کس چې یو دین او مذهب ته یې غاړه ایښې وي او بیا ترې وګرځي مرتد بلل کیږي،لسان العرب،ج:۱۱،ص:۹۷.

[4] المبسوط للسرخسي،ج:۳۰،ص:۳۱،المغني،ج:٦،ص:۲۴۸.

[5] سورة الانفال،ایت:۷۵.

[6] تفسیر کابلی،ج:۱،ص:۱۰۲۳.

الله جل جلاله واده مشروع کړی دی او دا واده د انساني نسل ترمنځ دنسل او بشر د بقاء لپاره یوه اړینه مسله ده.واده دی چې ددې په واسطه ارام او مینه د ښځې او خاوند ترمنځ پیدا کیږي، نو ددې لپاره چې دا ارام او مینه په پوره ډول حاصله شي، نو په دې اساس د ښځې او خاوند ترمنځ یوه اړینه موضوع داده چې ددوی ترمنځ باید د عقیدې یو والی وي، خو که چیرته د عقیدې یو والی نه وي، نو حد اقل باید د عقیدې نیږدې والی خو باید حتما شتون ولري.

نو ویلی شو چې اساسا ادیان دوه ډولو ته تقسیمیږي:

اول:اسماني ادیان:موخه ترې هغه دینونه دي چې له اسمان څخه نازل شوي دي د وحې په طریقه باندې په یو نبي باندې، دا ډیر ادیان وو، خو اوس وخت کې ترې فقط اسلام، یهودیت او نصرانیت پاتې دي.

دوهم:غیر سماوي ادیان:موخه مو ترې داده چې هغه ادیان چې انسان او بشر وضع کړي دي، چې یو شمیر له هغې څخه بوت پرستي، مجسوسیت او صابئیت دی.

اوس دلته موضوع داده چې دا خبره خو واضح ده چې اسلام له هغه ښځې سره واده ناجائز کړی دی چې هغه په کوم اسماني دین باندې باور نه لري، کوم نبي نه مني، په کوم کتاب باندې هم ایمان نه لري.دا ډول خلک په دیني لحاظ د مشرک حکم لري، ځکه مشرک هم له الله جل جلاله پرته د نورو شیانو لکه بوتانو، ستورو او دې ته ورته نورو شیانو عبادت کوي.په عربي نړۍ کې د جاهلیت پر مهال چې یو شمیر عربانو داسې عقیده درلود.نو اوس که چیرته یو انسان یو ډول عقیده لري، دبیلګې په ډول یو په نبوت، خدای، کتابونو او ملایکو ایمان لري او بل لوری له همدغه څه منکر دی، په داسې حال کې چې ښځه او خاوند دواړه د کورنۍ ستنې دي او ټوله کورنۍ په همدې دریږي، نو کله چې ددوی دواړو ترمنځ داسې تفاوت شتون ولري، نو ددواړو ترمنځ نفرت، کرکه او کینه رامنځ ته کیږي او دا کرکه او نفرت راتلونکی ګډ ژوند نړوي، نو کله چې د ښځې او خاوند ترمنځ نفرت وي، نو په دې صورت کې بیا کورنۍ ضایع کیږي او هغه کسان هم زیانمن کیږي چې هغوئ ګنا نلري.[1]

---

[1] الاحوال الشخصية، علي بن محمد الحاوي الماوردي، دارالکتب العلمية، بيروت، لبنان، چاپ کال۱۹۹۴ م، ص:۶۴.

البته د اهل السنة والجماعت دعلماؤ ترمنځ دا خبره واضح ده چې هغه ښځې چې کتاب نه لري، نو له هغې سره نکاح جائز نده، دلائیل یې له حده ډیر دي چې موږ یې دلته ځکه نه راوړو چې دا یو مشهور بحث دی او دلائیل یې هم واضح دي.

دکتور محمد أبو زهرة وایي: څنګه ممکنه ده چې ددوه داسې انسانانو سره ترمنځ به ژوند په ښه ډول دوام وکړي چې یو یې دا عقیده لري چې د غوا حلالول او د هغې صدقه کول ډیر خدای ته د نیږدې والي یوه وسیله ده، خو دوهمه یې بیا دا باور لري چې دا غوا زموږ خدای دی او باید عبادت ورته وکړو.[1]

نو اساسا دلته ویلی شو چې له هغه میرمنې سره نکاح کول جائز نه دي  چې هغه کتاب نلري او په کوم کتاب باور نلري.

او ددې موضوع په تړاو زموږ فقهي کتابونو ډیر تفصیلي بحث کړی دی او موږ یې دلته د دلائیلو او تفصیلاتو تیریږو.

نو دلته دا حکم واضح شو چې په غرب کې د هغه مسلمانانو لپاره جائز نده چې له داسې ښځې سره نکاح وکړي چې هغه په کوم دین باور نلري، لکه اوس په غرب کې داسې خلک هم شته دي چې هغه له خدای، انبیاو او ټول ادیانو څخه منکر دي، وایي چې انسان د طبیعت زیږنده ده. دوی وایي چې انساني نړۍ کوم لارښود ته اړتیا نه لري او د انسان ژوند باید د انسان په لاس وضعي قوانین تنظیم کړي، هغه کتابونه یې نه شي تنظیمولی چې هغه پیړۍ پیړۍ مخکې تیر شوي دي. نو دغه ډول میرمنې نه سره نکاح جائز نده.

نو ددین د اختلاف اثر په دې برخه کې په واده باندې دادی چې اسلام له هغه ازدواجي اړیکې مخنیوی کوي چې په هغې کې د دین توافق او یا هم تقارب(چې هغه کتابی سره نکاح ده)شتون ونلري.

---

[1] محاضرات في عقد الزواج واثاره، لیکوال: دکتور محمد ابو زهرة، مطبعة، دارالفکر العربي، لبنان، بیروت، ج: ۱۴۴.

د مسلمان نکاح له کتابۍ میرمنې سره!

اوس غواړو چې دا موضوع د څېړنې لاندې ونیسو چې ایا په غرب کې له میشتو اهل کتابو سره نکاح کول جایز دي او کنه؟

جمهور فقهاء، مالکیان، شافعیان او حنابله وایي: اهل کتاب یوازې هغه کسان دي چې په تورات او انجیل باندې ایمان لري، نو په دې اساس سامریان او یهوان د تورات منونکي دي او نصرانیان بیا د انجیل پیروان دي.[1]

احناف بیا وایي چې کتابي هغې ته وایي چې په یو نبي باندې باور ولري، یو کتاب لولي، نو یهود، نصرای او هغه څوک په زبور او داود علیه السلام یې ایمان راوړی وي، دا ټول په اهل کتابو کې راځي.[2]

البته شوافع بیا تفصیل کوي: که چیرته یې پلرونو په مسیحي او یهودي دین باندې له تحریف څخه وړاندې ایمان راوړی وو، نو دوی اهل کتاب دي او دوی اهل کتاب شمیرل کیږي، نو بیا په دې اساس نکاح ورسره جائز ده، ځکه چې دوی داسې کسا نه دي چې کتاب ورته په حقیقت کې ورکړل شوی دی او هغه کسان چې په تحریف شوي دین باندې ایمان راوړی دی، داسې ښځې سره نکاح بیا جائز نده، نو ددوی له انده اهل کتاب اسرائیلي یهود او نصاری دي، ځکه دوی اصلا او د پلار له مخې اصلي کتابیان دي، ځکه چې موسی او عیسی علیه السلام بني اسرائیلو ته لیږل شوي دي، البته هغه عربان چې یهودیان او نصرانیان شوي دي، نو دوی اهل کتاب نه دي، نو په دې اساس ددوی له ښځو سره نکاح جائز نده او نه ددوی ذبیحې خوړل جائز دي.[3]

نو د شوافعو ددې وروستي قول له مخې په غرب کې یوازې له هغه اهل کتابو سره نکاح جائز ده چې هغوئ د اصل له مخې اسرائیلیان دي، البته له هغوئ سره نکاح نده جائز چې هغوئ اسرائیلیان نه دي، ځکه ددوی په اند دا خلک وروسته له تحریف څخه دغه ادیان منلي دي. البته موږ غواړو چې دلته یو ځل له کتابۍ سره په دارالاسلام کې د نکاح په اړه یوه لنډه خبره وکړو، بیا به له دې وروسته په هغه برخه بحث وکړو چې په دارالحرب کې له کتابۍ سره نکاح څه حکم لري.

---

[1] المغني، ج:٨، ص:٤٣٩، ، مغني المحتاج، ج:٣، ص:٦٥، الروضة، ج:٨، ص:٦٤.
[2] شرح فتح القدير، ج:٣، ص:٢٢٩.
[3] الحاوي الكبير، للماوردي، ج:٩، ص:٢٢٣.

مسلمان فقهاء په دې برخه کې سره د نظریاتو ټکر لري، چې ایا د اهل کتابو له ازادو ښځو سره نکاح جائز ده که نه،نو په دې کې په ټوله کې درې نظريات دي:

اول نظر: په دارالاسلام کې له کتابۍ سره نکاح جائز ده، دا نظر دجمهورو علماؤ نظر دی، ابن نجیم رحمه الله [1]وايي چې په دې برخه کې د اهل علمو ترمنځ اختلاف نه شته دی.[2]

البته دا ډله علماء خپل دلائل لري، چې موږ يې دلته له دلائیلو تیریږو، ځکه بحث اوږدیږي.

دوهم: مسلمان ته جائز نده چې له کتابۍ سره نکاح وکړي، دا نظر د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه[3] دی، په معاصرو علماؤ کې شهید سید قطب رحمه الله[4] او شیخ محمد علي الصابوني رحمه الله هم تللی دی، دوی د خپل نظر لپاره هم ډیر دلائیل لري.[5]

دریم نظر: له هغه کتابۍ سره نکاح مکروه ده چې هغه په دارالاسلام کې اوسیږي.

دا نظر د شوافعو او حنابله دی، خو دوی ورسره یو قید هم لګوي، چې هغه مهال ورسره نکاح مکروه ده چې کله مسلمانه میرمن موندل کیږي او دا بیا هم له دوی سره نکاح کوي.[6]

---

[1] زین الدین بن ابراهیم بن محمد په ابن نجیم مشهور دی نوموړی په کال:.... په مصر کې زیږیدلی او په کال: ( 970 هـ - 1563 م) هم هلته وفات شوی دی، نوموړی حنفي فقیه او له سترو علماوو څخه دی د الاشباه والنظائر په څیر کتابونو لیکوال دی: الاعلام للزركلي: ١١٢/١.

[2] البحر الرائق شرح كنز الدقائق,تأليف:زين الدين بن إبراهيم بن محمد الشهير بابن نجيم الحنفي ت: 920هـ,دراسة وتحقيق:,احمد عزو عناية الدمشقي,الناشر:,دار احياء التراث العربي,الطبعة الاولى 1422هـ - 2002م,ج:3,ص:111.

[3] پوره نوم يې عبد الله بن عمر بن الخطاب بن نفيل، القرشي العدوي، دی،نوموړی په مکة کې د بعثت په دریم کال زیږیدلی دی،کنیه يې ابا عبدالرحمن دی،دی د اسلام ددوهم خلیفه عمربن الخطاب زوي دیومور يې زینب بنت مظعون نومیږي،ده په کوچني والي کې اسلام راوړی دی،د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د سنتو کلک پیرو وو،په بدر او احد کې کوچنی وو،خو په خندق غزا کې چې کله ١٥ کلن شو اجازه ورته د قتال وشوه،له دې وروسته يې په ټولو غزواتو کې ګډون وکړ.تر دې چې د مصر په فتحې او د افریقا د شمال په فتحو کې هم ده ګډون کړی دی.دی په مکة کې وفات شوی دی (سير اعلام النبلاء،ج:٢،ص:٤٢٧.)

[4] پوره نوم يې سيد قطب إبراهيم حسين الشاذلي دی،نوموړی په ١٩٠٦ میلادي کال کې زیږیدلی دی،دی یو اسلامي مفکر،شاعر او ادیب تیر شوی دی،نوموړی اصلا د مصر دی او په اسلامي نړۍ کې دفي ضلال القران،او معالم في الطريق په څیر د مشهورو کتابونو لیکوال دی،نوموړي ٢٤ کتابونو لیکلي دي،تر دې چې ٣٠ نور کتابونونه يې چاپ شوي ندي او دیو شمیر اسبابو له امله نه دي نشر شوي،ده تقریبا ٥٨١ مقالې هم لیکلي دي،دی په کال ١٩٦٦ میلادي کې د مصر حکومت د اخوان المسلمین سره د اړیکو په تور اعدام کړ.ویکیپېډیاء

[5] في ظلال القران،ج:١،ص:٢٤١،٢٤٠.

[6] الحاوي الكبير،للماوردي،ج:٩،ص:٢٢٣.مغني المحتاج،ج:٣،ص:٦٧.

په دراالحرب کې له کتابۍ سره نکاح:

موږ مخکې په دارالاسلام کې له کتابۍ سره د نکاح اړوند خبره کړې وه چې مو خه مو ترې ذمۍ ښځه وه، حربۍ نه وه، البته دومره ده چې په دارالحرب کې له کتابۍ ښځې سره د نکاح اړوند د اسلامي فقهاؤ نظريات مختلف دي، دا ځکه مختلف دي چې کله په دارالحرب کې مسلمان له کتابۍ ښځې سره نکاح وکړي نو دده اولادونه بيا په فتنة کې غالبا غورځيږي، ځکه چې دارالحرب چاپيريال ډير زيات مشکلات لري.

اهل الحرب او حربيون: هغه نامسلمانو ته وايي چې په درالحرب کې اوسيږي، دارالحرب نه موخه هغه دار دی چې په هغې باندې د کافرانو سلطه او حکومت وي، د دارالحرب په اړه مو مخکې تفصيلي بحث کړی دی.

اوس نو راځو دا مسله څیړو چې ايا يو مسلمان کولی شي چې په دارالحرب کې له يوې کتابۍ ميرمنې سره نکاح وکړي او که نه.

لومړی مذهب: جمهور احناف، مالکيان، شافعيان او حنابله وايي: دا نکاح جائز ده خو له کراهت سره.1

په دې معنا چې جمهور علماؤ په نزد د دار اختلاف د واده په موضوع کې اغيز او تاثير نه لري، ترڅو حلت او حرمت په کې رامنځ ته کړي.

فتح القدير کې راځي: له هغه کتابۍ سره نکاح مکروه ده چې هغه په دارالحرب کې اوسيږي او په دې خبره باندې د اسلامي فقهاؤ اجماع ده، دا ځکه چې له دې نکاح څخه فتنې راولاړيږي او دا د فتنو د دروازې خلاصون دی، ځکه چې امکان لري چې مسلمان هلته دارالحرب ته لاړ شي. که چيرته هلته ورغی نو دده ټول اولادونه به د حربيانو په اخلاقو ککړ شي.2

د جمهورو علماؤ استدلال: {وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ}3

---

[1] بدائع الصنائع، ج:٧، ص: ١٣٠ المغني، ج:٦، ص:٣٣٢، ، مغني المحتاج، ج:٣، ص: ١٥٠، الروضة، ج:٨، ص:٢١١.

[2] فتح القدير، ج:٣، ص:٢٢٨.

[3] سورة المائدة ايت:٥.

ژباړه:او(حلالې دي تاسې ته بې خاونده)اصیلې پاک لمنې ښځې او پاک لمنې له مومنانو ښځو څخه او پاک لمنې(بې میړه بې خاونده)اصیلې ښځې له هغه کسانو چې ورکړی شوی دی،دوی ته کتاب له تاسې پخوا.1

دا ایت عام دی، هره کتابیه ته شاملیږي،برابره خبره ده که دا کتابیه ذمیه وي او که حربي وي،نو په دې اساس د دار اختلاف د واده په موضوع کې اغیز او تاثیر نه لري،ترڅو حلت او حرمت په کې رامنځ ته کړي،خو دومره ده چې الله جل جلاله بیا په بل ایت کې فرمایي: {لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ }2

ژباړه:او نه به مومې ته(ای محمده او نه ښایي چې بیامومې)یو قوم چې ایمان یې راوړی وي په الله او په ورځې اخري(دقیامت)چې دوستي به کوي دوی له هغه چا سره چې مخالفت کوي له (الله)او دهغه رسول سره.3

جمهور علماء بیا د کراهت لپاره دا ایت دلیل ورته نیسي،وایي چې اصلا قرانکریم الله جل جلاله فرمایي چې نکاح د مینې او محبت لامل گرځي،په داسې حال کې چې په دې ایت کې الله جل جلاله موږ د حربیانو له محبت څخه منع کړي یو.

په همدې ډول دوی دا هم دکراهت په دلائیلو کې ذکر کوي چې کله مسلمان هلته واده وکړي نو په دې اساس د هغوئ ډله ډیریږي،نو له دې امله هم دا نکاح مکروه ده.4

دوهم مذهب:عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنه وایي:له حربي کتابي سره نکاح حرامه ده،دا ځکه چې دوی له مسلمانانو سره دښمني کوي،جگړې ورسره کوي،نو په دې اساس دا چاره حرامه ده5،دلیل یې دادی چې الله جل جلاله فرمایي: { قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ

---

1 تفسیر کابلی،ج:۱،ص:۵۱۵.

2 سورة المجادلة،ایت:۲۲.

3 تفسیر کابلی،ج:۲،ص:۱۳۷۹.

4 بدائع الصنائع،ج:۷،ص:۱۳۰المغني،ج:۶،ص:۳۳۲، ،مغني المحتاج،ج:۳،ص:۱۵۰،الروضة،ج:۸،ص:۲۱۱.

5 الجامع لأحكام القرآن = تفسير القرطبي,المؤلف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى: 671هـ),تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش,الناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة,الطبعة: الثانية، 1384هـ - 1964 م,عدد الأجزاء: 20 جزءا (في 10 مجلدات)ج:3,ص:69.

الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ }[1]

ژباړه: وه جنګیږئ تاسې له هغه کسانو سره چې نه راوړي ایمان په الله او نه په ورځ اخري باندې او نه حرام ګڼي دوی هغه څه چې حرام کړي دي الله جل جلاله او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم او نه قبلوي دوی دین حق،له هغو کسانو نه دي چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب(جنګ ورسره کوئ)تر هغې پورې چې ورکړي دوی جزیه له خپله لاسه،حال دا چې دوی ذلیل وي.[2]

دلته ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمایي چې له ایت څخه معلومیږي چې څا موږ ته جزیه راکړه نو د میرمنو نکاح یې هم له موږ سره جائز ده او څا چې جزیه رانکړه نو د میرمنو نکاح یې هم له موږ سره ناجائز ده.[3]

البته موږ دلته دومره ویلی شو چې د ابن عباس رضی الله تعالی عنه قول او نظر په احتیاط باندې بناء دی،بل دا چې د نکاح رابطه د بشر ترمنځ ترټولو پیاوړې رابطه ده،نو څنګه ممکنه ده چې دا دې داسې څا ترمنځ سمون ونیسي چې هغوئ په دیني او دنیوي دواړو حالتونو کې جلا اهداف لري او یو له بل سره په جګړه کې ښکیل دي.

نو په ټوله کې ویلی شو چې د جمهور علماؤ له انده د دار اختلاف د نکاح په برخه کې د حلت او حرمت راوستلو برخه کې موثر نه دی .خو د ابن عباس رضی الله تعالی عنه له انده موثر دی،دی وایي چې که څا جزیه راکړه نو د میرمنو نکاح یې هم له موږ سره سمه ده او که چیرته یې جزیه رانکړه نو د میرمنو نکاح یې له موږ سره ناسمه ده.

جمهور علماء بیا ابن عباس رضی الله تعالی عنه ته وایي چې موږ کوم دلایل ذکر کړل هغه عام دي او دتخصیص لپاره یې کوم دلیل نشت دی،چې ذمیانې ترې خاص شي او حربیانې ترې ووځي.بل دا چې د ابن عباس رضی الله تعالی عنه دا قیاس چې څوک جزیه راکوي نو نکاح یې هم حلالیږي او که نه یې راکوي نو نکاح یې هم له مسلمان سره درسته نده،دا قیاس همه سم

[1] سورة التوبة،ایت:٢٩.

[2] تفسیر کابلی،ج:١،ص:١٦٨.

[3] المصنف في الأحاديث والآثار,المؤلف : أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة الكوفي,الناشر : مكتبة الرشد - الرياض الطبعة الأولى ، 1409,تحقيق : كمال يوسف الحوت,عدد الأجزاء : 7,ج:3,ص:476.

نه دی ،ځکه چې الله جل جلاله خو مسلمان ته دا اجازه هم ورکړې ده چې هغه له مجوسی میرمنې جزیه واخلي،خو د جزیې له اخیستلو سره سره یې هم له هغې سره نکاح او تزویج حرام کړی دی،نو اساسا جزیه او نکاح دواړه جلا شیان دي او یو بل سره تړلي نه دي .[1]

د مسلمانې میرمن نکاح له غیر مسلمان نارینه سره:

نکاح په اسلامي نړۍ لید کې یوه داسې اړیکه ده چې د رب له لورې مشروع شوې ده،ترڅو په دې باندې ښځه او خاوند دواړه اطمینان حاصل کړي،دا په بشري ژوند کې تر ټولو سخت تړون دی چې ددوه انسانانو ترمنځ کیږي،دهمدې تړون له مخې الله جل جلاله ددوه انسانانو ترمنځ مینه او نرمي پیدا کوي،په همدې ډول د اسلام عمومي لارښونې هم دا دي چې خاوند باید له خپلې میرمنې سره نرمي وکړي،دا ځکه چې دا میرمن خپل ځان خاوند ته وقف کوي،د خاوند لپاره خپله کورنۍ،مور پلار ورونه او نور پریږدي او ځان د خپل خاوند په واک کې ورکوي.

کله چې دا په بشري ژوند کې یو قوي او پیاوړی تړون دی،نو ددې تړون مسولیت هم لوی دی،دا تړون بیا دا تقاضا هم کوي چې د ښځې او خاوند ترمنځ باید داسې تعامل او انسجام د واده په اړیکه کې شتون ولري ترڅو کورنۍ ونه فاشل شي او دواړه د یو بل په وړاندې خپل مسؤلیت سم اداء کړي،په همدې ډول د الله جل جلاله په وړاندې هم خپل مسولیتونه په درست ډول اداء کړی شي.

نو اساسا الله جل جلاله د واده او نکاح په برخه کې یو شمیر اساسي شرایط رامنځ ته کړي دي ترڅو دا اړیکه ښه پایښت ومومي،یو له دغه شرایطو څخه داده چې د عقیدې یو والی په کې ډیر زیات مهم دی،نو په دې اساس چې ښځه د خپل خاوند تابع ده،نو الله جل جلاله هم د مسلمانې ښځې او میرمن نکاح له غیر مسلمان سړي سره ناروا ګرځولې ده او دا موضوع په قطعي نصوصو ثابته ده،په دې برخه کې د قران کریم،نبوي سنت او دامت اجماع هم شتون لري چې ترې ثابتیږي چې یوه مسلمانه میرمن نه شي کولای چې له یو کافر نارینه سره نکاح وتړي.

الله جل جلاله په قرانکریم کې فرمایي: {وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا}[2]

---

[1] بدائع الصنائع،ج:۷،ص: ۱۳۰المغني،ج:٦،ص:۳۳۲، ،مغني المحتاج،ج:۳،ص: ۱۵۰،الروضة،ج:۸،ص:۲۱۱.

[2]سورة البقرة،ایت:۲۲۱.

ژباړه:او نکاح مه کوئ مشرکو سړیو سره تر هغې پورې چې ایمان راوړي.[1]

په دې ایت کې چې له نکاح څخه کومه منع او نهي راغلې ده،دا تحریم افاده کوي،نو د یوې مسلمانې میرمن نکاح تر هغې پورې له یو مشرک سره جائز نه ده ترڅو یې چې ایمان نه وي راوړی،دا شرک بیا خپلو ټولو انواعو ته شاملیږي،برابره خبره ده که چیرته د اهل کتابو مشرک وي،یا عام مشرکان وي،خو دوی  په الله جل جلاله او دهغه په رسول صلی الله علیه وسلم باندې کفر کړی وي،نو نکاح ورسره جائز نده.

په همدې ډول د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له فعل څخه هم معلومیږي چې یوه مسلمانه له نامسلمان سره نکاح نه شي تړلای.

عن جابر بن عبدالله[2] قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: (نتزوج نساء أهل الكتاب ولایتزوجون نساءنا[3])

جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي،موږ د اهل کتابو له میرمنو سره نکاح کولی شو او هغوئ زموږ میرمنې نه شي په نکاح کولی.

په همدې ډول ډیر صحابه کرام په همدې اند دي او په دې برخه کې یې فتوی ورکړې ده،عمر رضی الله تعالی عنه فرمایي: ( المسلم یتزوج النصرانیة ولا یتزوج النصراني المسلمة)[4]

مسلمان کولی شي چې نصرانۍ ښځه په نکاح کړي،خو نصراني نه شي کولی چې مسلمانه میرمن په نکاح کړي.

په همدې ډول نورو ډیرو صحابه هم ددې حرمت په اړه خبره کړې ده.

---

[1] تفسیر کابلی،ج:۱،ص:۱۷٦.

[2] جابر بن عبد الله بن عمرو بن حرام  الانصاري یو جلیل القدر صحابي دی،د بني غنم بن کعب له قبیلې دی چې اصلا خزرجیان دي،په دوهمه عقبة کې له خپل پلار سره وو خو دا مهال کوچنی وو،دی بدر او احد کې نه وو،ځکه چې پلار یې منع کړی وو،ځکه دی د ۹ خویندو یوازینی ورور وو.نوموړی په ۷۴ هجري کې د ۹۴ کلونو په عمر وفات شوی دی.سیر اعلام النبلاء،ج:۳،ص:۱۳۹..

[3] مصنف بن ابي شیبة،ج:٦،ص:۳۹۲.

[4] مخکینۍ مرجع،ج:٦،ص:۴۰۱.

له دې علاوه مسلمانو فقهاؤ په دې خبره باندې اجماع کړې ده چې مسلمانه میرمن نه شي کولی چې له غیر مسلمان سره نکاح وکړي، برابره خبره ده که مشرک وي، یهودي یا نصاراني وي، یا بوذي، شیوعي اونور اهل کتاب وي، له دوی سره د مسلمانې میرمن نکاح جائز نده.[1]

بدائع الصنائع کې راځي: د مومنې ښځې نکاح له کافر سړري سره جایز نده، دا ځکه چې دلته دا ډار شته دی که چیرته مومنه ښځه له کافر سړي سره نکاح وکړي نو ډیر امکان لري چې مومنه ښځه په کفر کې واقع شي، دا ځکه چې ښځې په عادتونو کې د سړیو تابع وي.[2]

امام شافعي رحمه الله وایي: په دې خبره باندې د علماؤ اجماع ده چې مسلمانه میرمن له کافر سره نکاح نه شي کولی.[3]

په کشاف القناع کې راځي: مسلمانې میرمنې ته جائز نده چې له کافر نارینه سره نکاح وکړي، ترڅو یې چې اسلام نه وي راوړی، تر هغې ورسره نکاح نه شي کولی.[4]

په دې ډول نور ډیر فقهاء هم په دې موضوع کې یوه خوله دي او دا موضوع د لمر په څیر روښانه او اتفاقي ده.

نو ویلی شو چې په ټوله کې قران کریم، نبوي سنت او د مسلمانو فقهاؤ اجماع په دې باندې دلیل ده چې مسلمانه او مومنه ښځه نه شي کولی چې له کافر سړي سره واده وکړي.

د مسلمانې میرمن واده ولې له کتابي سره ناروا دی او د کتابې ښځې واده بیا ولې له مسلمان جائز دی؟ددې حکمت څه دی؟

الله جل جلاله مسلمانه میرمن په کافر باندې حرم کړې ده او دا کورنۍ د اسلامي لیدلوري له مخې د جوړیدو حق نه لري، بلکې دا مسلمانه میرمن باید له بل مسلمان سره واده وکړي، ترڅو دده غوښتنو ته رسیده گي وکړای شي او د واده دروند شرعي امانت په سم ډول وساتي.

---

[1] مجموع الفتاوى, المؤلف : تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (المتوفى : 728هـ), المحقق : أنور الباز - عامر الجزار, الناشر : دار الوفاء, الطبعة : الثالثة ، 1426 هـ / 2005 م, مصدر الكتاب : موقع الإسلام, ج:32, ص:٣٦.

[2] بدائع الصنائع، ج:٢، ص:٢٧١-٢٧٢.

[3] كتاب الام، ج:٥، ص:١۴٨.

[4] كشاف القناع، ج:٥، ص:٨۴.

اسلام په سرې کې دا شرط کړې ده چې دا به د مسلمانې میرمنې د واده لپاره اهل وي،دا یوه ثابته او نه تغیریدونکې چاره ده او دا خبره په قرانکریم باندې ثابته ده،نو هره هغه څه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له لورې له الله جل جلاله څخه راوړل شوي دي،برابره خبره ده چې هغه دربوبیت بحث دی که د الوهیت،یا هم د اسماء صفاتو بحث وي،یا د نبوت موضوع وي،یا د شریعت لاربښونې ردول وي،نو په دې ټولو شیآنو کې له یوه څخه هم انکار کول دا کفر دی،دا کفر بیا شرک ته هم متضمن کیدلای شي،ځکه د کفر ډیر اعمال داسې دي چې شرک پورې په یوه نه یوه ډول اړیکه لري،برابره خبره ده چې دا شرک داسې وي چې په هغې کې د ډبرو عبادت کیږي هم شرک بلل کیږي او که چیرته دا شرک د راهبانو او ملایانو عبادت وي،هم شرک دی،نو هرڅوک چې دا ډول شرک کوي هغه مشرک دی،په دې کې یهودي،نصراني او په دین ناباوره خلک ټول شامل دي.

په همدې ډول قرانکریم هم اهل کتاب په مشرکانو نومولي دي،الله جل جلاله فرمایي: {قَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۚ وَإِن لَّمْ يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ }[1]

ژباړه:خامخا په تحقیق کافران شوي دي چې وایي چې بیشکه الله دریم د دریو(معبودانو)څخه دی،حال دا چې نشته (بل)هیڅ لایق د عبادت مگر(خو شته)معبود یو(چې الله دی)او که منع نه شول دوی (له شرک توحید ته او)له هغې خبرې چې وایي نو خامخا به ورسیږي،هرومرو(خامخا)هغه کسانو ته چې کافرانو ته(پاتې)شوي دي له دوی ځنې عذاب دردناک.2

دا ایت کریمة او دې ته ورته نور ایتونه د اهل کتابو په شرک کې صریح دي او له دې څخه معلومیږي چې یهود او نصاری مشرکان دي او شرک یې کاوه.

بیا د دوستۍ او دوښمنۍ معیارونه دا تقاضاء کوي چې مسلمانه میرمن باید له غیر مسلمان کس سره نکاح ونکړي،دا ځکه چې واده او زواج په محبت باندې بناء دی،بل دا چې ښځه له خپلې میرمن څخه متاثره کیږي هم او ډیر وخت د هغې په تقلید کې هم راگیریږي.

---

[1] سورة المائدة،ایت:۷۳.

[2] تفسیر کابلی،ج:۱،ص:٦٧٩.

بل دا چې په میرمن باندې لازمه ده چې د خپل خاوند اطاعت وکړي، خبره یې ومني، له هغې سره مینه وکړي او دوستي ورسره وکړي، نو اوس که چیرته دا مسلمانه میرمن د خپل خاوند نصرت مرسته او کومک کوي، بیا نو دا خو د الله جل جلاله ددین د ښمنانو مرسته او کومک دی او دا مرسته او کومک په دیني لحاظ منع دی او د اسلامي عقیدې او احکامو سره په ټکر کې چاره ده.

نو که چیرته یوه مسلمانه میرمن له نامسلمان نارینه سره نکاح وکړي، دا نو بیا ددې میرمنې لپاره په دنیوي او اخروي دواړو لحاظونو په زیان ده.

ځکه چې په دنیا کې مسلمانه ښځه له خاوند څخه متاثره کیږي.

بل دا چې ددې نکاح د حرمت علت الله جل جل جلاله په قرانکریم کې داسې ښودلی دی: {وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ}1

ژباړه: او الله جل جلاله (او دوستان یې) بولي(خلک) په لورې د جنت او مغفرت په اذن(حکم ارادې) خپلې سره او بیانوي احکام خپلو خلکو ته ددې لپاره چې دوی نصیحت ومني(پند واخلي)2

دلته دبدائع الصنائع لیکوال وایي: اور ته دعوت دلته عام دی، اګر که دلته د مشرکانو په حق کې راغلی دی، خو دا ټولو کافرانو ته عام دی، برابره خبره ده چې هغه د اهل کتابو کافران وي او که دا نور مشرکان وي. په همدې ډول الله جل جلاله د کافرانو ولایت له مومنانو څخه قطع کړی دی، ځکه چې هغه جل جل جلاله فرمایي: {وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا}3

ژباړه: او له سره به ونه ګرځوي الله دپاره د کافرانو پر مومنانو باندې هیڅ لاره(دجنت او دبري)4

نو که چیرته د مسلمانې نکاح له کافر سره جایزه وه، نو کافر ته به پرې لاره هم ثابته شوې وه او دا څه له ایت کریمه سره په ټکر کې ده.5

---

1 سورة البقرة، ایت: ۲۲۱.

2 تفسیر کابلی، ج: ۱، ص: ۱۷۷.

3 سورة النساء، ایت: ۱۴۱.

4 تفسیر کابلی، ج: ۱، ص: ۵۵۳.

5 بدائع الصنائع، ج: ۲، ص: ۲۷۱-۲۷۲.

بیا په اسلامي شریعت کې نارینه او سړی د واک خاوند دی او د ښځې اطاعت د سړي په حق کې واجب دی او کافر خاوند خو ښځې ته په نیکیو امر نه کوي بلکې طبیعي ده چې د هغه ډیری غوښتنې به د شریعت سره په ټکر کې وي،نو په دې اساس دا هم جائز نده.

بل لامل چې مسلمانې ښځې ته اجازه نه ورکوي چې له کافر سره واده وکړي، هغه دادی چې د ښځې عزت او عرض وساتل شي، داسې ټولنه رامنځ ته شي، چې په هغې کې مور قوي حیثیت ولري، په داسې حال کې چې اولادونه د پلار تابع وي په دین او نسب دواړو کې، نو کله چې مومنه ښځه له کافر نارینه سره واده وکړي نو صالحه کورنۍ نه شي رامنځ ته کیدای ځکه چې دا به بیا کافر اولادونه زیږوي، نو په دې اساس مومنې ښځې ته اجازه اسلام نه ورکوي چې له کافر سړي سره واده وکړي.

خو مسلمان ته ځکه د کتابۍ ښځې په نکاح کول جائز دي چې مسلمان د کتابۍ دین ته احترام کوي، مسلمان په موسی او عیسی علیهم السلام برسیره ټول انبیاء کرام مني، په همدې ډول مسلمان د خپلې میرمنې مشروع حق پیژني، ظلم هم پرې نه کوي اودا کتابۍ ښځه له خپلو دیني شعائرو څخه نه منع کوي، البته کافر بیا د مسلمانې میرمن دین ته احترام نلري، دده په رسول باندې ایمان نه لري او ډیر احتمال دا هم لري چې مسلمانه د خپلو دیني شعایرو او عباداتو څخه هم منع کړي.بیا دا کافر سړی اسلامي احکامو ته هم ملتزم نه دی ،اسلامي ادابو سره هم بلد نه دی ،د بیلگې په ډول اسلام اجازه نه ورکوي چې په حیض کې ښځې ته نارینه ته نیږدې شي، خو کافر بیا ددې شیانو په کیسه کې نه وي، په همدې ډول له شرابو ځان ساتل، خنزیر غوښه نه خوړل، سود نه خوړل او نور ډیر منهیات نه کول دې ټولو شیانو ته دا کافر التزام نه لري.

هغه لاملونه چې د هغې له امله اسلام مسلمان نارینه ته اجازه ورکوي چې له کتابۍ ښځې سره نکاح وکړي:

اول:په دې خاطر دا چاره جائز کړې ده چې ددوه اسماني ادیانو د انسانانو ترمنځ نیږدې والی راشي، چې هغه یو اهل کتاب دی او بل مسلمان دی، دا ځکه چې د دواړو ادیانو د پیروانو د کتاب او قانون سرچینه له یو ځای څخه اخیستل شوې ده، په همدې ډول د سماوي ادیانو پیروان د الله جل جلاله په وحدانیت باور لري.

دوهم:چې مسلمانان له نامسلمانو سره وپیژني،ژوند یې ترمنځ اسانه شي،نو له دې لارې بیا کیدای شي چې اول میرمن مسلمانه شي او بیا د هغې له طریقه امکان لري د هغې ټوله کورنۍ اسلام راوړي او د هغې کورنۍ کولی شي خپلې نورې خپلوانې کورنۍ هم مسلمانې کړي او له دې لارې بیا کیدای شي چې ډیر بدلون راوستل شي.

دریم:بل دا چې هغه مسلمان چې په غربي ټولنه یا په دارالحرب کې اوسیږي،نو هغه بیا کولی شي چې د کتابۍ میرمنې سره په واده کولو خپل ځان له فحشاء او زنا څخه وساتي ،نو که چیرته داسې یو ځوان چې هغه واده نه دی کړی او موږ یې له کتابۍ سره هم له واده منع کړو،بیا به نو موږ په لوی لاس دوی په ګناه کې ښکیل کړي وي.

## شپږم مطلب:د تزویج په ولایت کې د دین د اختلاف اثر.!

کله چې د ښځې او خاوند دین جدا وي،نو په دې مسله باندې ډیر لوی اثار مرتب کیږي،داسې اثار پرې مرتبیږي چې له دې څخه غافله کیدل ډیر ستونزمن او ناممکن کار دی،دا اثار په ګډ ژوند او اولاد ټولو باندې اغیز هم لري.ډیر ځله یو مسلمان په نامسلمان هیواد کې اوسیږي او ددغه هیواد له اوسیدونکې سره یې واده کړی وي،نو په دې برخه کې اړینه ده چې په دې موضوع باندې اګاه شو.

د نامسلمان ولایت په مسلمانه میرمن،په همدې ډول د مسلمان ولایت په نامسلمانې میرمنې باندې!

د مسلمانو علماؤ په دې کې اختلاف نشته دی چې مسلمان نارینه په مسلمانې ښځې باندې ولایت درلودلی شي،مسلمان کولی شي چې خپله مسلمانه په نکاح ورکړي،برابره خبره ده چې ولي پلار وي،نیکه وي اوکه زوي وي،البته دا شیان که څه هم په جزیاتو کې یې اسلامي فقهاء بیلابیل تفسیرونه لري،خو دومره دده چې دا هغه مهال سمیږي چې کله مسلمانه میرمن د زواج او واده اراده ولري.که چیرته یوه مسلمانه میرمن وي،خو پلارېې نصراني وي،یا یې ورونه نصرانیان وي،یا یوه یهودي وي او بل مسلمان وي،نو دلته هغه چې مسلمان دی ددې میرمنې اصلي ولي دی او دا کولی شي چې د نکاح عقد وتړي،په دې سره د کافر پلار ولایت په خپلې مسلمانې میرمن باندې پای ته رسیږي.

په همدې ډول يوه بله مسله هم د مسلمانو فقهاؤ ترمنځ اتفاقي ده او هغه دا چې يو کافر کولی شي چې بله کافره په نکاح ورکړي، مطلب په کافره باندې ولايت درلودلی شي.

البته جمهور علماء دلته وايي چې مطلق کافر کولی شي چې بله کافره په نکاح ورکړي، برابره خبره ده چې ددوی دواړو ترمنځ دين يو وي او که جدا وي، يو په بل باندې ولايت کولی شي، مثلا که يو يهودي وي او بل عيسوي، خو حنابله وايي چې په کافرانو کې هم ددين يو والی شرط دی.[1]

يوه بله قضيه د ولايت په برخه کې داده چې د مسلمان ولايت په نامسلمانې باندې او د نامسلمان ولايت په مسلمانې ښځې باندې، چې دا يوه مهمه قضيه ده چې دلته به يې واضح کړو.

لومړۍ برخه کې خو دا خبره واضح ده چې نامسلمان سړي ته جائز نده چې د مسلمانې ميرمنې ولايت په غاړه واخلي، په دې موضوع باندې د اهل علمو اجماع ده، که چيرته يوه مسلمانه ميرمن وه، يو ورور يې مسلمان وو، بل نصراني وو، نو دې وخت کې د ولايت حق هغه ورور لري چې هغه مسلمان دی، نصراني ورور د ولايت حق نلري.[2]

دا ځکه چې الله جل جلاله په قرانکريم کې فرمايي: ( وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ)[3]

ژباړه:او سړي مومنان او ښځې مومنانې، ځينې ددوی دوستان دي د ځينو نور(او په ايمان کې تړول سره يو شان دي)[4]

په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: (وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً )[5]

ژباړه:او له سره به ونه گرځوي الله دپاره د کافرانو پر مومنانو باندې هيڅ لاره(دجنت او دبري)[6]

---

[1] مغني المحتاج،ج:٣،ص:١٥٦،بدائع الصنائع،ج:٢،ص:٢٣٩،المغني،ج:٩،ص:٢٠.

[2] بدائع الصنائع،ج:٢،ص:٢٣٩.

[3] سورة التوبة،ايت:٧١.

[4] تفسير کابلی،ج:١،ص:١١٠٣.

[5] سورة النساء،ايت:١٤١.

[6] تفسير کابلی،ج:١،ص:٥٥٣.

په یو بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ}[1]

ژباړه:ای هغه کسانو چې ایمان راوړی دی،مه نیسئ یهود او نصرانیان دوستان(چې له دوی سره مینه او دوستي وکړئ)(دوی یو تربله)ځینې دوستان دي دځینو نورو(ځکه چې ټول سره په کفر کې شریک دي او ګرد سره تاسې ته متفق دي)او هر چا چې دوستي وکړه له دوی سره له تاسې ځینې نو بیشکه چې دوی له همدوی ځینې دي(مومنان دې ځان وساتي ددوستۍ له کفارو)بیشکه چې الله جل جلاله ظالم قوم ته هدایت نه کوي.[2]

په نبوي سنتو کې راځي چې :ان النبى صلى الله عليه وسلم لما أراد أن يتزوج أم حبيبة بنت أبي سفيان وكان أبوها اخوتها كفارا،وهي مسلمة مهاجرة بأرض الحبشة تزوجها من اقرب عصباتها من المسلمين وهو خالد بن سعيد بن العاص.[3]

کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم غوښتل چې له ام حبیبې بنت ابي سفیان سره نکاح وکړي،په داسې حال کې چې دهغې پلار او وروڼه کافران وو او ام حبيبة خپله مهاجره مسلمانه وه او په حبشه کې اوسیدله،نو رسول الله صلی ته یې نیږدې خپلوان په نکاح کړه چې هغه مسلمان وو او خالد بن سعید بن العاص نومیده.

پورتني ټول دلایل دې ته اشاره کوي چې د کافر ولایت په مسلمان باندې حرام دی،تر دې چې که چیرته یې د مسلمانې میرمن مسلمان خپلوان په نسب کې لرې هم وي کولی شي چې دا یې په نکاح ورکړي خو کافر یې په نکاح نه شي ورکولی.تر دې چې امام ماوردي رحمه الله وايي چې په منکوحه باندې د ولایت په ثبوت کې د دین اتفاق شرط دی.[4]

په همدې ډول د دین یو والی په میراث کې هم شرط دی،په همدې ډول کافر او مسلمانه په خپلو منځونو کې میراث نه شي وړلی،ځکه چې په دې اړه صریح نصوص شته دي؟

دوهم:د مسلمان ولایت په غیر مسلمان باندې:

---

[1] سورة المائدة،ايت:٥١.

[2] تفسیر کابلی،ج:١،ص:٦٥٥.

[3] سنن الكبرى للبيهقي،ج:٧،ص:١٣٩ .(دحديث حكم:الباني صيب په سلسلة الاحاديث كې وايي:دا حديث صحيح دی،ج:١،ص:٣٢)

[4] الحاوي الكبير،للماوردي،ج:٩،ص:١١٥.

په دې برخه کې بیا مسلمان فقهاء مختلف دي، جمهور علماء چې احناف، د مالکیانو په راجح قول سره او دشافعیانو او حنابله په مذهب کې دوی ټول وایي چې مسلمان ته جائز نه دي چې د غیر مسلمانې ولایت وکړي، تر دې چې که چیرته ولي یې پلار هم وي نه یې شي کولی، دوی په هغه دلایلو باندې استدلال کړی دی چې هغه د کافر ولایت په مسلمانه باندې حراموي، هغه چې موږ پاس ذکر کړل.1

مالکیان په یو دوهم قول کې وایي: یو مسلمان ته جائز ده چې په خپلې نامسلمانې لور باندې ولایت ولري او کولی شي چې پلار یې په نکاح ورکړي، البته دا به بل نصراني ته نه ورکوي، دا ځکه چې دلته په مسلمان باندې کافر ته افضلیت راځي، نو دلته ده ته ولایت ثابت دی ځکه چې الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایي: { وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ}2

ژباړه: او خاوندان دخپلوئ ځینې ددوی غوره دي(دمیراث په وړلو سره)په ځینو نورو په حکم د الله جل جلاله کې.

دوی وایي چې دا ایت د مخکیني ایت لپاره ناسخ دی، مخکینی ایت {وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ}3

ژباړه: او سړي مومنان او ښځې مومنانې، ځینې ددوی دوستان دي د ځینو نور(او په ایمان کې ټول سره یو شان دي)4

دوی وایي چې ولایت د ذوي الارحامو لپاره ثابت دی، نو دلته د منطوق نسخه فحوی د کلام نسخ نه لازموي.5

خو کله چې کافره میرمن یو مناسب ولي پیدا نکړي، نو مسلمان حاکم به یې د خپل عام ولایت له مخې په نکاح ورکوي، ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: (السلطان ولي من لا ولي له )6

---

1 مغني المحتاج،ج:۳،ص:۱۵۸،بدائع الصنائع،ج:۲،ص:۲۳۹،المغني،ج:۹،ص: ۲۰.شرح الکبیر،ج:۳،ص:۴۳۸.

2 سورة الانفال،ایت:۷۵.

3 سورة التوبة،ایت: ۷۱.

4 تفسیر کابلی،ج:۱،ص:۱۱۰۳.

5 شرح الکبیر،ج:۳،ص:۴۳۸.

6 سنن الترمذي،ج:۳،ص:۴۰۷.

واکمن د هغه چا لپاره ولي دی چې ولي نه لري.

## اووم مطلب:د زوجيت په نفقه باندې د دين د اختلاف اثر!

خوراک، څښاک، د اوسيدو ځای او جامې او ټول هغه اړتياوې چې انسان ورته په ژوندې کې محتاج دی او ضرورت ورته لري او انسان ترې خلاصون نه لري او د انساني ژوند د وام لپاره اړين وي، ددې ټولو اړتياوو پوره کول په خاوند باندې لازم دي او د ميرمنې په شمول د اولادونو نفقه هم په خاوند باندې لازمه ده، دا موضوع په اسلامي فقه کې په نفقة الزوجية او نفقة[1] الاولاد باندې نومول شوې ده.

د فقهاؤ ترمنځ د نفقې په وجوب کې اختلاف نشته،دوی ټول وايي چې په د مسلمانې ميرمن نفقه د هغې په مسلمان خاوند باندې ده[2]، دا څه په قرانکريم باندې هم ثابت دي،الله جل جلاله فرمايي: {وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ}[3]

ژباړه:او ده پر هغه چا چې زيږول شوی دی ورته (يانې پلار)روزي ددوی (د مورگانو)کالي (جامې)ددوی (مورگانو)په نيکه طريقه(له عرف سره)سم.[4]

په همدې ډول نور ايتونه هم شته دي چې د نفقې وجوب ترې ثابتيږي.

په همدې ډول په نبوي سنتو کې هم ډير احاديث شته دي چې له هغې څخه معلوميږي چې د ښځې نفقه په خاوند باندې واجب ده.

عن عائشة رضی الله عنها قالت: (جاءت هند بنت عتبة[5] بن ربيعة فقالت: يا رسول الله ان أبا سفيان رجل شحيح لا يعطيني من النفقة ما يکفيني ويکفي بني الا ما أخذت من ماله بغير علمه

---

[1] هغه مال چې د شرعيت له لورې په خاوند باندې لازم شوی دی چې ښځې ته به يې ورکوي، يا اولادونو ته د ډوډۍ پيدا کول هم نفقه بلل کيږي،لسان العرب،ج:١٢،ص:٨٩.

[2] شرح الکبير،ج:٣،ص:۴٣٨.

[3] سورة البقرة،ايت:٢٣٣.

[4] تفسير کابلی،ج:١،ص:١٩٠.

5 هندبنت عتبة د ابو سفيان ميرمن ده او د عتبة لور وه،په ١٣ هـ کال کې په مکة کې وفات شوې ده،د امير المومنين معاوية مور ده،د مکې په فتحه کې يې اسلام راوړی دی.الاعلام للزرکلي،ج:٣،ص:٣٢۴.

فهل علی في ذ الک جناح؟فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم :خذي من ماله باالمعروف ما یکفیک ویکفي بنیک.1

له عایشې رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې هند د عتبة لور رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله ورته وه یې ویل:ای د الله جل جلاله رسوله،ابو سفیان یو بخیل سړی دی،موږ ته دومره نفقه نه راکوي چې زموږ لپاره کفایت وکړي او زما د اولادونو لپاره هم کفایت وکړي،البته کله چې زه د ابو سفیان2 له اجازې پرته په پټه مال واخلم،ایا په دې کې خو به ګناه نه وي،نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل:دده له مال څخه په نیکه طریقه دومره مال اخله چې ستا او ستا د اولادونو کافي کیږي.

په دې برخه کې نور احادیث هم شته دي خو موږ په همدومره باندې اکتفاء کوو.

مسلمانو علماؤ په دې اتفاق کړی دی چې د ښځې نفقه په خاوند باندې واجبه ده.3

کله چې میرمنې خپل ټول وخت خاوند ته ورکړی وي او ځان یې د خاوند خدمت ته فارغ کړی وي،نو په دې وخت کې په خاوند لازمه ده چې ددې نفقه ورکړي،ځکه ښځه خو نه شي کولی په یوه وخت کې هم د خاوند خدمت وکړي او هم د ځان لپاره نفقه پیدا کړي.

په همدې ډول په دې کې هم اختلاف نشته دی چې د کتابیه ښځې نفقه هم په مسلمان خاوند واجب ده،په دې باندې دلیل هم د مخکینیو نصوصو عموم دلالت کوي،دا ځکه چې دا نصوص یوازې په مسلمانې ښځې پسې خاص نه دي .نوځکه  په کې  کتابیه هم د عموم د نص له امله داخل ده،نو نفقه یې هم په خاوند باندې واجب ده.

البته دومره ده چې د مسلمانو فقهاؤ ترمنځ په دې موضوع کې اختلاف شته دی چې که چیرته یو د ښځې او خاوند کې مرتد شي،یا یو ددې دواړو څخه اسلام راوړي،نو په دې صورت کې په خاوند باندې نفقه واجب ده او که نه؟

---

[1] صحیح مسلم،ج:۳،ص:۱۳۳۸.

[2] أبو سفيان صخر بن حرب بن أمية بن عبد شمس بن عبد مناف،دی د مکې په فتحه کې مسلمان شوی دی،دقریشو له مشرانو څخه دی،د معاوية رضی الله تعالی عنه پلار دی او د هند بنت عتبة خاوند دی،ده له اسلام سره سخته دښمني هم کړې ده او د مشرکانو دلښکرو مشر هم پاتې شوی دی،د احزاب په غزا کې د پوځونو اعلا سر قوماندان وو،په حنین طایف او یرموک غزواتو کې یې هم شرکت کړی دی،دی په ۳۱ هـ کال کې وفات شوی دی.سیر اعلام النبلاء،ج:۴،ص:۵۹۴.

[3] بدائع الصنائع،ج:۴،ص:۱٦.

نو دلته دا موضوع په تفصلي ډول د څیړنې لاندې نیسو.

اول:که چیرته میرمن مسلمانه شي او خاوند یې مسلمان نه وي،نو دلته اوله نظر دادی چې کله چې د ښځې او خاوند ترمنځ جدا والی او فرقت د ښځې د اسلام له امله او یا د خاوند دانکار له امله فرقت راغی،نو په دې وخت کې د عدت د مودې په اندازه نفقه په خاوند باندې واجب ده،برابره خبره ده چې د عدة په موده کې یې خاوند اسلام راوړه،یا یې عدت پای ته ورسیده خو خاوند یې بیخي اسلام نه وو راوړی.نو د عدت د مودې هومره نفقه یې په خاوند باندې لازم ده.دا نظر زموږ د احنافو دی او د مالکیانو مختار قول،دشوافعو صحیح قول او د حنابله نظر هم دادی.[1]

ددوی استدلال دادی چې:دلته خاوند چې کله له اسلام څخه انکار کړی دی،نو د یوې لویې ګناه مرتکب شوی دی،نو دده د انکار له امله د ښځې او خاوند ترمنځ جدا والی راغلی دی،په داسې حال کې چې دې سړي که غوښتلی نو دا فرقت او جدا والی نه رامنځ ته کیده،نو که چیرته ده اسلام راوړی وو نو جدا والی به یې ترمنځ نه راته.نو چې کله دا فرقت دده د ګناه له امله رامنځ ته شو نو سزا به یې هم اوس ګالي او د ښځې نفقه به ورکوي.[2]

دوهم نظر:که چیرته د ښځې او خاوند ترمنځ جلا والی د یو په اسلام سره راغی،نو په دې صورت کې په خاوند باندې د ښځې د نفقې حق نشته دی،دا نظر دیو شمیر شوافعو او مالکیانو دی.

دوی وایي چې دلته اصلا جلا والی د ښځې له امله راغی،ځکه چې دا مسلمانه شوه،نو په دې اساس یې خپله ځان له نفقې څخه محروم کړ.[3]

دوهم:چې خاوند مسلمان شي او ښځه له اسلام څخه انکار وکړي:

دلته لومړی نظر دادی چې کله خاوند اسلام راوړ او ښځه یې له اهل کتابو پرته په بل دین وه او له اسلام څخه یې انکار وکړ،نو دلته احناف،مالکیان،شافعیان په یو قول کې او حنابله وایي چې په دې صورت کې په ښځه باندې واجب نده،البته د اوسیدو حق یې نه ساقطیږي،دا ځکه چې دا حق یو ثابت حق دی.

[1] مبسوط السرخسي،ج:۵،ص: ۲۰۰،مغني المحتاج،ج:۳،ص:۴۰۳،المغني،ج:۱،ص:۱۱۳،شرح الکبیر،ج:۳،ص:۴۷۸.

[2] مبسوط السرخسي،ج:۵،ص: ۲۰۰،مغني المحتاج،ج:۳،ص:۴۰۳،المغني،ج:۱،ص:۱۱۳،شرح الکبیر،ج:۳،ص:۴۷۸.

[3] مغني المحتاج،ج:۳،ص:۴۰۳،شرح الکبیر،ج:۳،ص:۴۷۸.

دلیل يې:دلته اصلا فرقت او جلا والی د ښځې د انکار له امله رامنځ ته شوی دی،ځکه که چیرته دې اسلام راوړی وو،نو ترمنځ به یې جلا والی نه راته،خو چې انکار يې وکړ،نو جلا والی هم راغی،نو په دې صورت کې ممکن نده چې ښځه نوره له خاوند سره پاتې شي،ځکه چې اسلام اجازه نه ورکوي،نو دلته اصلا ښځه د نافرمانه میرمنې په حکم کې ده او په شرعي لحاظ نافرمانه میرمنې لپاره د نفقې حق نشته،ځکه چې دلته دا دگناه مرتکبه شوې ده،داسې گناه چې د هغې له امله جدا والی رامنځ ته شوی دی.

دوهم نظر دادی چې:د ښځې نفقه په خاوند باندې واجب ده،برابره خبره ده چې که ښځه انکار وکړي او که اسلام ومني.دا نظر د شوافعو دی.

ددوی  دلیل دادی چې ددې خو گناه نشته دی،ځکه میړه اسلام راوړی دی او د میړه په اسلام راوړلو کې خو ښځه گنهگاره نده،نو دلته اصلا جلا والی د خاوند په سبب باندې راغلی دی.[1]

که چیرته یو د ښځې او خاوند څخه مرتد شي،یا هم خاوند مرتد شي:

دلته لومړی نظر دادی چې د ښځې نفقه بیا هم په خاوند باندې واجب ده،تر دې چې د ښځې عدت[2] پوره شي،البته ترڅو چې خاوند نه وي قتل شوی،دا نظر د جمهورو علماؤ دی چې په دې کې احناف،شوافعو او حنابله دی.

ددوی  دلیل دادی چې اصلا دلته جلا والی د خاوند له امله واقع شوی دی،ښځې ته گناه نشته دی،نو په دې اساس د ښځې نفقې ته به احترام کیږي.دښځې او خاوند ترمنځ د گډ ژوند اړیکه هم تر هغې پورې ځنډیدلې ده ترڅو چې خاوند له خپل ارتداد څخه نه وي راگرځیدلی.[3]

دوهم نظر:

د ښځې نفقه په خاوند باندې نده واجب،په هغه صورت کې چې کله ښځه مرتده شي،البته که چیرته ښځه په داسې حالت کې مرتده شي چې حامله وي،نو بیا ښځه د نفقې حق لري.

---

[1] مغني المحتاج،ج:۳،ص:۴۰۳.

[2] عدت هغه انتظار دی چې واده شوې ښځه يې د خپل میړه څخه د جلا والي او یآ هم دوفات څخه وروسته تیروي.لسان العرب،ج:۱۰،ص:۱۷۲.

[3] بدائع الصنائع،ج:۴،ص:۱٦،مغني المحتاج،ج:۳،ص:۴۰۳،المغني،ج:۱،ص:۱۱۳.

دلیل دادی چې ښځه کله مرتده شي نو له خپل خاوند څخه جلا کیږي،نو څوک چې بائن یا جلا کیدونکی وي، هغه د نفقې حق نه لري،البته دا نظر د مالکیانو دی.[1]

راجح نظر:

دلته د جمهورو علماؤ نظر راج دی چې دوی وایي چې ښځه د نفقې حق لري،ځکه چې دا خو د ګناه مرتکبه شوې نده،بلکې دلته جلا والی د خاوند د سرکشی او معصیت په نتیجه کې راغلی دی.[2]

په تیرو فصلو نو کې په نامسلمانو هیوادونو کې د میشتو مسلمانانو په یو شمیر ټولنیزو احکامو باندې بحث وشو،د بیلګې په ډول هلته د نکاح تړل او بیا د قاضي حکم د مسلمان په حق کې دا یوه ټولنیزه مسله وه.بله ټولنیزه مسله په کې د طلاق موضوع وه چې هلته طلاق باید محکمه وغورځوي،اوس د نامسلمان قاضي تفریق او طلاق د مسلمان په حق کې یوه موضوع وه چې دا یې هم یوه ټولنیزه مسله وه.په همدې ډول دا مسله هم واضح شوه چې که چیرته په نامسلمان هیواد کې یو لوری مرتد شي،برابره خبره ده که ښځه ده او که خاوند دی،بیا ورته کوم احکام متوجې کیږي.په همدې ډول یوه بله ټولنیزه مسله چې هغه د میراث وه،چې د میراث موضوع به څه ډول کیږي دا او دې ته ورته نور مسائل چې په غیر اسلامي هیوادونوکې میشت مسلمان ورسره مخ کیږي موږ په تیرو فصلونو کې واضح کړل اوس په دې فصل کې باقي پاتې نور نور ټولنیز مسائل روښانه کوو.

---

[1] حاشية الدسوقي،ج:٢،ص:٤٢٥.

[2] اثر اختلاف الدين في أحكام الزواج في الفقه الاسلامي.ليکوال:أميرة مازن عبدالله أبو رعد.دارالکتب،لبنان،بيروت، چاپ کال:٢٠٠٧،ص:١٤٧.

# څلورم فصل

**په په غیر اسلامي هیوادونو کې  د غیر مسلمو سره یو شمیر نور ورځني او ټولنیز تعاملات.**

په دې فصل کې په غیر اسلامي هیوادونو کې د میشتو مسلمانانو یو شمیر نور اړین ورځني او ټولنیز تعاملات د څیړنې لاندې نیسم، په دې فصل کې د اهل کتابو په مقبره کې د مسلمان دفن، اهل کتابو ته تعزیت، په کافرانو باندې سلام اچول او دې ته ورته نور مسائیل څیړل کیږي.

## لومړی مبحث: د اهل کتابو په مقبرو کې د مسلمان د فن:

په دې مبحث کې د اهل کتابو په هدیرو کې د مسلمان د دفن په اړه لیکنه کوم.

### لومړی مطلب: د بحث مناقشه:

له هرڅه وړاندې که مونږ له اسلام پرته انسان تر بحث لاندې نیسو گورو چې د نړۍ په ټولو ادیانو کې انسان ته په درنښت کتل کیږي، که هغه یهودیت دی، که نصرانیت، هندویزم دی که مجوسیت...

ددی ترڅنگ مونږ که اسلام ته راځو، په اسلامي دین کې خو په ښکاره ډول اسلام انسان ته درنښت ورکړی دی او د قدر په سترگه ورته گوري.

لومړی که قرآن کریم ته سر وربښکاره کړو هلته په سورت اسراء کې الله تعالی فرمایي:

{ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ}1

ژباړه: یقینا ما د آدم زوی ته عزت او درنښت ورکړی دی.

تفسیر ابن کثیر2 ددی ایت په شرحه کې د ابن عباس په روایت لیکي :يُخْبِرُ تَعَالَى عَنْ تَشْرِيفِهِ لِبَنِي آدَمَ، وَتَكْرِيمِهِ إِيَّاهُمْ، فِي خَلْقِهِ لَهُمْ عَلَى أَحْسَنِ الْهَيْئَاتِ وَأَكْمَلِهَا كَمَا قَالَ: {لَقَدْ خَلَقْنَا الإنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ} [التِّينِ: 4] أَيْ: يَمْشِي قَائِمًا مُنْتَصِبًا عَلَى رِجْلَيْهِ، وَيَأْكُلُ بِيَدَيْهِ -وَغَيْرُهُ مِنَ الْحَيَوَانَاتِ يَمْشِي عَلَى أَرْبَعٍ وَيَأْكُلُ بِفَمِهِ -وَجَعَلَ لَهُ سَمْعًا وَبَصَرًا وَفُؤَادًا، يَفْقَهُ بِذَلِكَ كُلِّهِ وَيَنْتَفِعُ بِهِ، وَيُفَرِّقُ بَيْنَ الْأَشْيَاءِ، وَيَعْرِفُ مَنَافِعَهَا وَخَوَاصَّهَا وَمَضَارَّهَا فِي الْأُمُورِ الدُّنْيَوِيَّةِ وَالدِّينِيَّةِ.3

---

[1] سورت اسراء، ایت: ۷۰.

[2] عماد الدین ابوالفدااسماعیل بن بن عمر القرشي ثم الدمشقي، په۷۰۰هـ کې په بصره کې زیږیدلی، په ۷۰٦هـ کې دخپل دپلار دمرگ نه وروسته دمشق ته لاړه اوهلته یی دجیدو علماووڅخه علم زده کړه، لکه الامدي اوابن تیمیه نه اوپه۷۷۴هـ کې وفات شوی ده، دډیروکتابونولیکوال ده، چې مشهوریی تفسیر ابن کثیر ده. الاعلام للزرکلي:ج۲/ص۲۳۱

[3] تفسیر ابن کثیر ۵، ص ۹۷.

پدی ایت کې الله تعالی د انسان د کرامت او د شرافت په هکله خبر ورکړی دی چې دی یې په نورو مخلوقاتو باشرفه پیدا کړی دی، لکه په پیدائښت کې په ښکلي هیئت او په کامل ډوّل یې پیدا کړی دی لکه د سورت التین په څلورم آیت کې چې الله تعالی فرمايي:په تحقیق سره ما انسان په ښایسته جوړښت سره پیدا کړی دی.

چې په خپو باندې په ولاړه تګ کوي، په لاسونو باندې خوراک کوي په داسې حال کې چې نور حیوانات په څلورو تګ کوي او په خوله خوراک کوي، او الله تعالی انسان ته سترګې،غوږونو، زړه او هرڅه ورکړي دي چې پدی باندې ګټ شیان پیژني او ګټه ترې اخلي، او د ګټو شیانو تر منځ دهمدی په توسط فرق کوي، او د یو شي منفعت، ځانګړتیا او دنیوي او اخروي ضرر دهمدی په توسط

له پورته مقدمی څخه وروسته زمونږ مخته پدی بحث کې دری موضوعات تر مخه راخي.

لومړی: مطلق د مړي خښول.

دویم: د مسلمانانو مړی د کفارو په مقبره کې خښول.

دریم: د کافرانو مړی د مسلمانانو په مقبره کې خښول.

څلورم:اطفال المشرکین یا د مشرکانو نا بالغه ماشومانو مړي د مسلمانانو په مقبره کې خښول.

چې هر یو موضوع به لاندې په جلا جلا مطالبو وویشو او بحث به پرې وکړو.

مطلق د مړي خښول:

دا یو ستر حقیقت دی چې انسان پدی دنیا کې مسلمان وي که کافر د همیشه اوسیدنې لپاره نه دی رالیږل شوی، بلکې یوه ورځ حتما لدی نړۍ یوې بلې دنیا ته چې هغه ابدي زنده ګي ده رحلت کوي.

خو داچې کله انسان مړ شي باید څه تعامل ورسره وشي؟

ایا همداسې پریښودل شي؟

وسوځول شي؟

سیند ته واچول شي؟

خښ کړل شي؟...

که مونږ د نړۍ ګڼ عقائد او افکار تر مطالعی لاندې نیسو، په کې وینو چې په نړۍ کې دا واقعیت هم شتون لري چې مړي د ګڼو مراسمو په ترڅ کې سوځول کیږي لکه دا معمول چې په هندوانو کې په لوړه کچه موجود دی او چې کله وسوځول شي بیا یې ایرې سیند ته غورځوي.

همدارنګه په ځینو ځایونو کې تر ډیره وخته ساتل کیږي لکه د پاکستان هیواد یوه سیمه چې د افغانستان له نورستان ولایت سره په سرحدي کرښه پرته دی، ددی خلکو عادت دادی چې مړی تر ډیره وخته نه خښوي بلکې ددوی په عادت مړي ته محافل جوړوي، نڅیړي او د خوښۍ مراسم پرې اجرا کوي.

خو که مونږ د نړۍ نورو اکثرو مذاهبو ته نظر اچوو وینو چې د نړۍ اکثر ادیان پدې قائل دي چې مړی باید خښ کړل شي.

په همدی اساس زمونږ د اسلامي فقهې علماؤ پدی اتفاق کړی دی چې د مړي خښوّل فرض کفایي دي، که په مسلمانانو کې یوې ډلې دغه عمل ترسره کړ د بلې ډلې ذمه ورسره فارغیږي، چې همدا د فرض کفایي معنا هم ده.

پدی د ټولو علماوو اتفاق دی د مړي دفن کول دا په خلکو باندې واجب دي او همداسې پریښودل یې شرعا جائز نه دی 1.

امام ابن حزم اندلسي ـ رحمه لله2 ـ فرمایي: دی هم فرمایي چې د مړو دفن کول لازم او واجب دي که هغه مسلمان وي که کافر ځکه چې د علی رضی الله عنه څخه نقل دی: واما جِلْدُ الْاِنْسَانِ

[1] الاجماع,أبوبکر محمد بن ابراهیم بن المنذر النیسابوري، تحقیق، د.فؤاد عبدالمنعم أحمد، الناشر، دارالدعوة الاسکندریة، الطبعة الثالثة، ج:۱، ص:۴۴.

[2] ابومحمد علي بن احمد بن سعید بن حزم الظاهري دی نوموړی په کال: 384 هـ اندلس قرطبه ښار کې زیږیدلی او په کال: 456 هـ همدلته په بادیة لیلة ښار کې وفات شوی دی، نوموړی داندلس لوی عالم او دخپل وخت لوی امام ؤ، په اندلس کې دنوموړي د مذهب ډیر پیراون هم ؤ چې حزمیه نومیدل، نوموړي ډیر ښه ښه کتابونه تصنیف کړي دي: الاعلام للزرکلي:۴ /۲۵۴.

فَقَدْ صَحَّ نَهْىُ رسول اللَّهِ (صلى‌الله‌عليه‌وآله‌وسلّم) عن الْمُثْلَةِ وَالسَّلْخُ اَعْظَمُ الْمُثْلَةِ فَلاَ يحِلُّ التَّمْثِيلُ بِكَافِرٍ وَلاَ مُؤْمِنٍ وَصَحَّ اَمْرُهُ (عليه‌السّلام) بِإِلْقَاءِ قَتْلَى كُفَّارِ بَدْرٍ فى الْقَلِيبِ.[1]

هرچه د څرمنې ويستل د انسان دي ددی په هکله رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نهی راغلی ده، چې د مثلی په هکله دی او تر ټولو لويه مثله هغه د انسان د څرمنې ويستل دي نو جائز نه دی مثله کول د کافر او مؤمن او همدارنگه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په هلکه ثابت دي چې د بدر په غزا کې د کفارو مړي په يوه کوهي کې وغورځول او دفن يې کړل.

نو له پورته نطرياتو څرگنه دی ږي د هر مړي خښول لازمي دي.

د مسلمانانو مړی د کفارو په مقبره کې خښؤل:

که څه هم په نړۍ کې د ګڼو اديانو خاوندان خپل مړي خښوي مگر د هر دين متبعينو د خښولو کيفيت مستقل او جلا دی.

لکه د مسلمانانو له مړي سره تعامل دادی چې کله يو کس مړ شي لومړی دوی هغه ته غسل ورکوي، بيا کفن ورکوي، لمونځ او جنازه پرې کوي، بيا يې په يوه مقبره کې په داسې شکل خښوي چې مخ يې د قبلی په طرف وي...

او دا څرگنده ده چې د نړۍ د ټولو اديانو پيروان جلا جلا مقبرې لري. لکه يهود ځانته مقبرې لري، نصارا همدارنگه، مشرکين ځانته. نو بايد مسلمانان هم په نړۍ کې يو جلا مقبره ولري.

نو په دې هکله چې د مسلمانانو مړي د کافرانو په هديره کې خښول جائز دي او که نه؟ په هکله د اسلامي فقهې علماوو څخه دری اقوال نقل دي.

لومړی قول: د ضرورت په اساس جائز دی چې مسلمانانو مړي د کفارو په مقبره کې خښ کړل شي.

په مجمع الفقه الاسلامي کې ذکر دی چې په مسلمانانو باندې لازمه ده چې دوی په غير اسلامي هيوادونو کې يوه جلا مقبره او ځای ولري، که چيرته دوی پدی قادر نه شول چې يو جلام مقبره

---

[1] المحلى بالآثار,المؤلف: أبو محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي القرطبي الظاهري (المتوفى: 456هـ),الناشر: دار الفكر – بيروت,الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ,عدد الأجزاء: 12,ج:٣،ص:٣٣٥.

ولري بیا   باید هملته د کفارو د مقبرې ترڅنګ یوه څنډه د مسلمانو مړو لپاره ولري ترڅو دوی هلته خپل مړي خښ کړي.

که پدې هم قادر نه شؤل بیا کولی شي چې هر چیرته چې مسلمان خښوي خښ دې کړي اګر که د کفارو په قبرونو کې هم وي.1

ددې ډلې دلائل په لاندې ډول دي:

۱-د مسلمان لپاره یوازې دهغې  عمل صالح په کار راځي او اماکن او ځایونه د یوه مسلمان په تنعیم او عذاب کې کوم رول نلري، ځکه خو الله تعالی فرمایي:{وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى} 2

د یو انسان لپاره هغه څه ګټه رسولی شي چې ده کړي دي.

۲- یو انسان که مقدس او غوره شخص ګڼلی کیږي هغه په نیک عمل او په تقوی سره غوره شخص ګڼلی کیږي نه په ځایونو سره، لکه الله تعالی چې فرمایي: {إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ}3

په تاسو کې تر ټولو غوره ماته هغه شخص دی چې ډیر تقوا دار وي.

همدارنګه سلمان فارسي4 ـ رضی الله عنه ـ فرمایي: إن الأرض لا تقدس أحداً، وإنما يقدس المرء عمله"5

---

[1] المجمع الفقه الإسلامي الدولي في دورة مؤتمره الثالث بعمان بالمملكة الأردنية الهاشمية 8-13 صفر 1407هـ، الموافق11-16أكتوبر 1986م، وذلك في رده على استفسارات المعهد العالمي للفكر الإسلامي بواشنطن. قرار رقم (23) ج 11: 3.

2 النجم 39 .

3 الْحُجُرَاتُ: 13

[4] پوره نوم یې عبارت دی له: سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ أَبُو عَبْدِ اللهِ، څخه، کله چې اسلام ته منسوب شو، نو خلکو به ورته ابن الاسلام ویل، دی د ایران د اصفهان اوسیدونکی دی، چا ویلي دي چې له اسلام وړاندې یې نوم عبارت وو له، مابه بن بودخشان بن مور سلان بن بهبوذان بن فیروزک بن شهرک څخه. دی په اصل کې مجوسي وو چې د اور عبادت به   یې کوه، دی یو له هغه مسلمانانو څخه دی چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په  پیل کې اسلام  راوړ، چاویلي دي چې مکه  کې  یې اسلام راوړی دی او  چا ویلي دي چې په مدینه کې یې اسلام راوړی دی، دی دبدر او احد په غزا ګانو  کې غلام  وو، له همدې امله یې پکې ګډون ونکړای شو، بیا یې ځان د مکاتب په ډول ازاد ک ړ او په خندق او له هغې وروسته په ټولو غزواتو کې یې شتون لره، په  دې غزا کې د خندق د کیندلو مشوره هم ده ورکړې وه.(معرفة الصحابه لابي نعيم  ج:1,ص:328)

5 كتاب الموطأ,الموطأ لامام الائمة وعالم المدينة مالك بن أنس رضى الله عنه ,صححه، ورقمه، وخرج أحاديثه، وعلق عليه محمد فؤاد عبد الباقي,دار احياء التراث العربي بيروت – لبنان, 1406 هـ - 1985 م،ج:٢،ص:٢١٨.

ځمکه څوک نه مقدسوي، بلکې تقدس د انسان هغه تر عمل صالح پورې تړلی دی.

۳- د مړي په تدفین کې تعجیل پکار دی نو په همدې اساس که دا مونږ خپل هیواد ته ستنوو نو د تعجیل اصل له منځه ځي.

۴- مړي ته د دعا رسیدنه دا تر مشخص ځای او مکان پورې خاص نده.

دویم قول: د غیر مسلمو په مقبره کې د مسلمان خښوؤل جائز نه دي .

ددی قول قائلین وایي چې د مسلمانانو مړی د کفارو په مقبره کې جائز نه دی ، دوی وایي کفار که هره نوعه وي، که هغه یهود وي، که نصارا، او که مشرکین.

په فتاوی لجنة الدائمه للبحوث و الافتاء والا لیکي چې د مسلمان کس د کفارو په مقبره کې خښوؤل جائز نه دي او نه د هغی تر څنګ په یوه بیله حصه کې، وایي ځکه چې دلته د ټول ځای څخه تعبیر په یوه مقبره کیږي نو ځکه دا جائز نه دی .1

همدارنګه ځنې نور علماء وایي چې د کفارو په مقبرو کې د مسلمان مړي خښوؤل ځکه نه دي جائز چې د کفارو په عذاب سره مسلمان هم په عذابیږي.

د فتاوالجنة الدائمه په بل ځای کې وایي کچیرته یو مسلمان کس مړ شي او د کفارو له مقبرو پرته بل هیڅ ځای نه وي، مسلمانان به خپل مړي په یوه صحرا کې خښوي خو د کفارو په مقبرو کې به یې نه خښوي.

ددی ډلې دلائل:

١- مسلمان د کفارو په مقبرو کې خښول نه د رسو الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ څخه ثابت دي، نه د صحابوو او نه د تابعینو څخه.

٢- مسلمان کس ته د کفارو تعذیب اذیت رسیږي.

---

1اللجنة الدائمة لبحوث العلمية والإفتاء جمع وترتيب أحمد بن عبد الرازق الدويش ج 7 ص 6، دار المؤيد[6]) .فتوى رقم 16057 ج 7 ص ځ392

دریم قول: دوی لږ تفصیل کوی او حالت په دریو برخو ویشي

الف: هغه حالت دی چې د کفارو په هیواد کې د مسلمانانو لپاره یوه جلا مقبره وي، پدې حالت کې خو د مسلمان کس د کفارو په مقبره کې خښوؤل جائز نه دي ، بلکې د مسلمانانو په مقبرو کې به خښوؤل کیږي.

۲- هغه حالت دی چې د کفارو په هیواد کې د مسلمانانو لپاره هیڅ مقبره نه وي، پدی حالت کې به مړی د مسلمانانو هیواد ته را انتقالیږي، خو پدی شرائطو چې ددی انتقال امکان ولري او جسد یې د خراپیدلو سره مخ نه شي.

۳- خو که پورتني شرائط پوره نه شوؤل بیا جائز ده چې د کفارو په مقبره کې خښ کړل شي، خو باید د کفارو د مقبرې په یو اړخ کې چې هلته د کفارو مړي په کې نوي خښ.

۴- کچیرته داسې ځای هم نه وو بیا ضرورتا د کفارو په مقبره کې خښوؤل هم جواز لري ځکه ضرورتونه منع شیان کله جائز کوي، خو پدی مورد کې شرط دادی چې د کفارو د کفر درجه باید په ذهن وساتل شي، نو د ضرورت پر مهال لومړی باید مسلمان مړی د نصاراو په مقبره کې خښ کړل شي، که د نصاراو مقبره کې ځای نه وو بیا د یهودو په مقبره کې، که دلته هم امکان نه وو بیا د مشرکینو او دلته هم نه وو بیا د ملحدینو او په همدی ترتیب هر هغه ادیانو مقبره به انتخابیږي چې اسلام ته یې تمایل په نسبت د نورو ډیر وي.[1].

کافر د مسلمانانو په مقبره کې خښوؤل:

اوس داچې ایا د کافر مړی د مسلمانانو په مقبره کې خښوؤل جائز دي کنه؟

پدی خبره د ټولو علماؤ اتفاق دی چې کافر، کتابي وي که مشرک دابه د مسلمانانو په هدیره کې نه خښول کیږي.

[1]فتاوی مجمع الفقه الاسلامي الدولی، ج۳، ص ۳۴۵.

که چیرته یوه سوالګره نصرانیه ښځه په دار اسلام کې هم وفات شي دابه هم د مسلمانانو په مقبره کې نه خښنؤل کیږي بلکې باید په یو جلا ځای کې خښنه کړای شي.چې هلته د مسلمانانو مقبره نه وي.[1]

په معاصرو علماوو کې شیخ ابن باز- رحمه الله- فرمایي چې د کافرانو مړی د مسلمانانو په هیواد کې خښنول جائز دي مګر د مسلمانانو په هدیره کې به نه خښنول کیږي[2]

همدارنګه امام شیرازی الشافعي- رحمه الله- فرمایي: د کافر مړي د مسلمانانو په خاوره خښنؤل جائز دي مګر شرط دادی چې دابه د مسلمانانو په مقبره کې نوي.[3]

اطفال المشرکین یا د مشرکانو نا بالغه ماشومانو مړي د مسلمانانو په مقبره کې خښنؤل:

که څه هم د اطفال المشرکینو په هلکه په اخروي لحاظ اختلاف شته دی خو په دنیوي لحاظ ددوی په هکله غوره قول دادی چې دوی په دنیا د خپل مور او پلار تابع دي او معامله به ورسره د نورو کفارو په څېر کیږي، خو داچې اخروي لحاظ دوی د چا تابع دي؟ پدې برخه کې د علماوو ګڼ شمیر اقوال نقل دي چې دلته یې بیا ن ضرور نه بولم.

## دوهم مطلب:ترجیح:

د پورته موضوع ټول دلائل که په هر اړخیز ډؤل وڅیړو، دی نتیجې ته رسیږو چې د هر مړي خښنؤل لازم او ضرور دي، خو د مسلمان مړي د کفارو په مقبره کې خښنؤل جائز نه دي مګر که ټولې لارې بندې او د کفارو له مقبرې پرته بل هیڅ مقبره نوه بیا به د کفارو د درجې په حساب په هماغه مقبره کې مسلمان خښنول کیږي چې دغه کفار د نورو کفارو په نسبت مسلمانانو ته نیږدی او په کفر کې ډیر سخت نه وي، چې لومړی نصاری، بیا یهود... لکه څرنګه چې پورته په ترتیب سره ذکر شول.

---

[1]موسوعة الفقه الاسلامیه، ج۲ ص ۲۲۵۳،

[2]مجموع فتاوی ومقالات شیخ ابن باز،ج ۳، ص ۱۶۳.

[3]المهذب في فقه الإمام الشافعي,أبو اسحاق ابراهیم بن علي بن یوسف الشیرازي،الناشر، دارلکتب العلمیة،ج۲،ص:۲۳۱.

دلیل د ترجیح دادی چې د اړتیا په صورت کې هغه شیان چې منع دي او په عادي حالاتو کې جائز نه دي  نو په داسې اضطراري حالتونو کې جائز دي او په دې اړه په شرعي نصوصو کې ډیر قواعد شته دي چې یو  په کې  دا هم دی چې: الضرورات تبیح المحظورات.

## دویم مبحث:اهل کتابو ته تعزیت او ددوی په جنازه کې ګډون.

په دې مبحث کې دا خبره واضح کوو چې د اهل کتابو په جنازه کې ګډون څه حکم لري او دوی ته تعزیت کول د اسلام له نظره څنګه دي

## لومړی مطلب: جنازی متابعت:

دلته دوه موارده دي

لومړی یوازې متابعت او کفارو د مړو پسې تګ کول دي.

دویم په کفارو باندې جنازه او لمونځ کول دا خو په اتفاق د علماوو حرامه دي او پدی باندې په قرآن کریم کې صراحتا ایت راغلی دی چې الله تعالی رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ په کفارو باندې له جنازه کولو څخه منع کړی دی او فرمایلي دي: {وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ}.1

ای پیغمبره ته لمونځ مه کوه په یو ددوی باندې هیڅکله او مه ودریږه په قبر ددوی باندې، بیشکه دوی کفر کړی دی په الله تعالی او دهغه په رسول باندې او دوی مړه شوي دي په داسې حال کې چې دوی کافران ول.

همدارنګه په بل ایت کې الله تعالی فرمایي: {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ}.2

---

1سورة التوبة،ایت:۸۴.

2سورة التوبة،ایت:۱۱۳.

مناسبه نده د نبي او دهغه کسانو لپاره چې ایمان یې راوړی دی چې دوی ببښنه وغواړي د مشرکینو لپاره، اګرکه دا مشرکین ددی نیږدی خپلوان هم وي وروسته له هغې څخه چې واضح شوې ده دوی ته چې دا خاوندان د اور دي.

امام نووي[1] ـ رحمه الله ـ په خپل کتاب المجوع کې لیکي : وأجمعوا على تحريم الصلاة على الكافر[2].

ټولو علماوو اجماع کړی ده په حرمت د لمونځ په کافر باندې.

او پاتې شوه لومړی موضوع چې اتباع د جنازی ده.

پدی کې هم د علماوو جواز او عدم جواز قولونه رانقل دي.

لومړی قول: د کفارو د جنازی پسې اتباع ناروا دی.

کوم علماء چې وايي چې جائز نه دی ددوی استدلال د قرآن کریم په ایتونو باندې دی چې پورته ذکر شول.

د کافر په جنازه کې مسلمان له ګډون څخه په دې خاطر منع شوی دی چې په دې سره اتباع د تعظیم او تطهیر د کافر کیږي،نو دا مشابه کیږي د لمانځه سره،په داسې حال کې چې په کافر باندې لمونځ ناروا دی نو په جنازه کې یې هم ګډون ناروا دی.[3]

دویم قول دادی چې اتباع د جنازی جائز ده او ددوی استدلال د سلفو صالحینو په عمل او په ځینو اقوالو باندې دی.

---

[1] ابوزکریا محیی الدین یحیی بن شرف الحوراني الشافعي دی نوموړی په کال631: هـ زیږیدلی او په کال: 676هـ په دمشق کې وفات شوی دی نوموړی لوي امام، حافظ،متقي او زاهد انسان ؤ نوموړي ډیر علوم زده کړي ؤ او ډیری غوره تصنیفات لري: الموسوعة العربية العالمية Global Arabic Encyclopedia

[2] المجموع شرح المهذب ,المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: 676هـ),الناشر: دار الفكر،ج:٢.ص؛٣٢٨.

3 كشاف القناع عن متن الإقناع,المؤلف: منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس البهوتى الحنبلى (المتوفى: 1051هـ)الناشر: دار الكتب العلمية,عدد الأجزاء:6, ج ١ ص ٢٥٥.

يو دليل ددوی دادی چې ځينو صحابوو د امم الحارث بن ابی ربيعه چې نصرانيه وه د جنازې اتباع يې کړی وه.

او دوی د قرآن کريم په ځينو عمومي ايتونو هم استدلال کوي، لکه الله تعالی په قرآن کريم کې مطلق حکم کړی دی چې: {وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا}[1] [البقرة: 83 تاسو وبنا کوئ خلکو ته وينا غوره او ښه.

نو پورته آيت کې لفظ مطلق د انسانانو راغلی دی او دا څرگنده ده چې د انسان د لفظ اطلاق په هر انسان کيږي، هغه کافر وي که مسلمان.

امام محمد رحمه الله  په کتاب الآثار يو روايت نقل کړی دی: أَخْبَرَنَا أَبُو حَنِيفَةَ، عَنْ حَمَّادٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ مَاتَتْ أُمُّهُ النَّصْرَانِيَّةُ، فَتَبِعَ جَنَازَتَهَا فِي رَهْطٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ مُحَمَّدٌ: لَا نَرَى بِاتِّبَاعِهَا بَأْسًا، إِلَّا أَنَّهُ يَتَنَحَّى نَاحِيَةً عَنِ الْجَنَازَةِ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ[2].

امام محمد بن الحسن الشيباني ـ رحمه الله ـ فرمايي چې ماته امام ابو حنيفه رحمه الله  خبر راکړی دی، چې هغې د حماد څخه روايت نقل کړی دی او حماد د ابراهيم څخه روايت نقل کړی دی، دی وايي چې کله د حارث بن ابی ربيعه[3] مور وفات شوه چې دا ښځه  نصرانيه وه نو ددی جنازی پسې يوې ډلې د صحابوو اتباع وکړه او جنازې ته يې لاړل.

امام محمد – رحمه الله ـ فرمايي: چې د کافر د جنازی پسې اتباع کوم باک نه لري، مگر داچې د جنازې لمونځ به پرې نه کوې او همدا قول د امام ابو حنيفه ـ رحمه الله ـ هم دی.

---

[1] البقرة،ايت:٨٣.

[2] الآثار,يعقوب بن إبراهيم الأنصاري أبو يوسف,  182,تحقيق أبو الوفا,الناشر دار الكتب العلمية,سنة النشر 1355,مكان النشر بيروت,ص:213.

[3] دا حارث بن عبدالله بن أبي ربيعة دی،لقب يې القباع دی،دی په کال ٨٠ هـ کې وفات شوی دی.الاعلام للزرکلي،ج:٢،ص:١٥٦.

او پورتنی روایت په نورو طرقو سره هم نقل دی لکه عن ابن أبي شيبة، وعبد الرزاق، عن الثَّوْرِيِّ، عَنْ حَمَّادٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ: مَاتَتْ أُمُّ الْحَارِثِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ، وَكَانَتْ نَصْرَانِيَّةً، فَشَيَّعَهَا أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1].

امام شعبي رحمه الله[2] وايي چې ام الحارث وفات شوه په داسې حال کې چې هغه نصرانۍ وه،نو د نبي كريم صلى الله عليه وسلم ملګري ورسره د خښولو په مراسمو کې ګډون وکړ.

ځينې علماء بيا بل قول کوي او هغه داچې که چيرته دغه کافر مړی نيږدی کس وي، لکه ګاونډی، يا يې غلام، مملوک او يا خپل خپلوان بيا يې اتباع د جنازی روا ده او که قريب نه وو بيا يې اتباع د جنازی ناروا ده.[3]

## دويم مطلب:اهل کتابو ته تعزيت:

جمهور علماء وايي چې مسلمان کولی شي چې کافر ته تعزية وکړي،سفيان الثوري رحمه الله[4] وايي چې مسلمان به کافر ته تعزيه کوي او تعزيه کې به ورته وايي: (لله السلطان والعظمة)خاص الله جل جلاله ته واک او لوی والی دی.حسن بصري رحمه الله[5] وايي چې که کافر ته تعزيه کوې نو هغې ته به داسې وايي:خدای دې تاسې ته له خير پرته بل څه نه رسوي.[6]

---

[1] مسند ابن أبي شيبة,المؤلف: أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي (المتوفى: 235هـ)

المحقق: عادل بن يوسف العزازي و أحمد بن فريد المزيدي,الناشر: دار الوطن – الرياض,الطبعة: الأولى، 1997م,,عدد الأجزاء: 2ج:2,ص:121.

[2] ابو عمرو عامر بن شراحيل بن عبد ذي كبار، الشعبي الحميري نوموړی په ۱۹هـ په کوفه کې زيږېدلی او په ۱۰۳هـ په کوفه کې نابېره مړ شوی، نوموړی ستر تابعي، فقيه او محدث وو، په حافظه کې مثال ګرځېدلی وو: الأعلام للزركلي (3/ 251)

[3] کتاب الاثار، ص:213.

[4] ابوعبدالله سفيان بن سعيد بن مسروق الثوري دی، په کال: 97 هـ په کوفه کې زيږيدلی او په کال: 161 هـ په بصرة کې وفات شوی دی نوموړی امير المؤمنين فی الحديث دی، دخپلې زمانې په خلکو کې دديني علومو او تقوی سردار ؤ په مکه او مدينه کې هم اوسيدلی دی: الاعلام للزركلي:3/ 104.

[5] ابو سعيدحسن بن ابي الحسن يسار البصری دی ، کنيت يې ابوسعيد دی ، مور يې خيرة نومېده چې ام سلمی ازاده شوې وينزه وه ، ابن سعد وايي : دحضرت عمر دخلافت په وروستيو دوو کلونو کې زيږيدلی دی ، ستر عالم ، غوره فقيه ، باوری ، عابد ، زاهد ، خطيب ، فصيح او ډېر ښايسته انسان وو ، په کتب ستة کې دنوموړي روايات شته دی، د ( ۸۹ ) کالو په عمر په (۱۱۰ هـ ق ) کې وفات شوی دی . سير اعلام النبلاء للذهبي: ۸/ ۱۳۵ مخ .

[6] المغني،ج:۲،ص:۴۰۹.

دوهم نظر د شافعيانو او يو روايت د حنبليانو دی:کافرانو ته تعزيت کول جائز نه دي ،البته هغه کافر ته تعزيت کول جائز دي چې د اسلام اميد او تمه يې وي.[1]

د کفارو د تعزيت او ورسره د عيادت په هکله د اسلامي فقه اکثرو او جمهورو علماوو رايه داده چې که چيرته کافر حربي وو بيا يې باالاتفاق تعزيت جائز نه دی .

اوکه کافر حربي نه وو بيا يې تعزيت جائزه ده او کوم مشکل نلري، په خاص ډول هغه مهال چې ديني مصلحت هم ورسره ګډ وي لکه ممکن ددی په تعزيت سره د هغوی د خپلوانو او قريبانو زړونه اسلام ته مايله شي.[2]

لکه امام بخاري رحمه الله چې يو حديث نقل کړی دی:عن أنس رضي الله عنه، أنّ غلاماً يهودياً كان يخدم النبي -صلىّ الله عليه وسلّم- فمرض، فأتاه النبي -صلىّ الله عليه وسلّم- يعوده: فقعد عند رأسه فقال له: (أسلم) فنظر إلى أبيه وهو عنده، فقال له: أطع أبا القاسم صلىّ الله عليه وسلّم، فأسلم، فخرج النبي -صلىّ الله عليه وسلّم- وهو يقول: (الحمد الله الذي أنقذه من النار).[3]

د انس رضی الله عنه[4] څخه روايت دی چې يو يهودي ماشوم وو د رسول الله – صلی الله عليه وسلم خدمت به يې کوه، يو مهال ياد ماشوم مريض شو نو رسول الله – صلی الله عليه وسلم – د ياد ماشوم عيادت ته راغی نو رسول الله – صلی الله عليه وسلم – ورته سرته نيږدی کياسته او ورته يې وويلې اسلام راوړه، ماشوم خپل پلار ته وکتل، پلار يې ورته وويل د قاسم د پلار(محمد) تابعداري وکړه نو ماشوم اسلام راوړه، کله چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – له دغه کوره ووته ويلې ثنا او صفت دی هغه ذات لره چې دا يې له اوره وژغوره.

که پورته حديث ته وګورو نو ددين هغه مصلحت چې ممکن په تعزيت او يا د يو مريض د پوښتنې سره ښايي الله تعالی مريض او دهغی کورنۍ ته هدايت وکړي.

[1] مغني المحتاج،ج:۳،ص:۳۲،المغني،ج:۲،ص:۴۰۹.

[2] المغني،ج:۲،ص:۴۱۰.

[3] صحيح البخاري,ج ۵ ۱۴۱ صفحه.

[4] انس بن مالك بن النضر بن ضمضم بن زيد بن حرام بن جندب بن عامر بن غنم بن عدى بن النجار الأنصارى النجارى ، المدني دی، نوموړی په ۹۲ يا ۹۳ هـ کې وفات شوی دی، لس کاله يې د رسول الله خدمت کړی د (ذو الأذنين) لقب ورکړل شوی:سير أعلام النبلاء :ج۳ ص۳۹۵ ،تاريخ البخاري الكبير :ج۱ ص۲۸، طبقات ابن سعد:ج۷ ص۱٦

## دریم مبحث:کافرانو باندې سلام اچول او هغوی ته دریدل

په دې مبحث کې دا خبره واضح کوو چې په کافرانو باندې سلام اچول څه حکم لري او هغوئ ته دریدل څه حکم لري.

## لومړی مطلب: په کافرانو باندې سلام اچؤل

ایا په کافر سلام اچول جائز دي کنه؟

که جواز ولري په کومو حالاتو کې جواز او په کومو حالاتو کې جواز نه لري؟

دا او دیته ورته نورې ګڼې پوښتنې په لاندې کرښو کې ځوابوو.

داچې ایا په کافر باندې سلام اچول جائز دي کنه؟ پدې هکله د علماوو څخه ګڼ اقوال نقل دي چې زه به یې لاندې ذکر کړم.

د اکثرو سلفو علماؤ رأیه داده چې په کافر باندې ابتداءا سلام اچؤل جائز دي، ځکه چې اسلام د وقار، عزت او لوړوالي دین دی او مسلمانان باید چاته محتاج نوي خو د سلام ځواب ورکول کافر ته هم لازم ګڼي، دا نظر د ابن مسعود رضی الله تعالی عنه[1]، ابن عباس او ابو امامة او عمر[2] بن عبدالعزیز هم دی[3] چې په دې اړه امام بخاري رحمه الله په کتاب الاستیذان کې احادیث هم راوړي دي[4]. او ابن مسعود به خپله هم دغسې کول.[5]

[1] بشپړ نوم یې عبارت دی له: عَبْدُ اللهِ بنُ مَسْعُوْدِ بنِ غَافِلِ بنِ حَبِيْبٍ الهُذَلِيُّ , ابْنِ شَمْخِ بنِ فَارِ بنِ مَخْزُوْمِ بنِ صَاهِلَةَ بنِ كَاهِلِ بنِ الحَارِثِ بنِ تَمِيْمِ بنِ سَعْدِ بنِ هُذَيْلِ بنِ مُدْرِكَةَ بنِ إِلْيَاسِ بنِ مُضَرَ بنِ نِزَارٍ.
نوموړی دامت ستر فقیه او محدث دی، نوموړی سابق في الاسلام دی، بدر ته هم حاضر شوی دی، دوه هجرتونه یې هم کړي دي، او په صحابه کې د ډیر فضیلیت خاوند دی.
له ده څخه ابو موسی، ابو هریرة، ابن عباس، ابن عمر، عمران بن حصین، جابر، انس رضوان الله علیهم اجمعین برسیره نورو صحابه کرامو هم روایتونه کړي، سیر اعلام النبلاء، ج:۲، ص:۳۸.

[2] ابو حفص عمر بن عبد العزيز بن مروان بن الحكم الأموي القرشي نوموړی په ٦١هـ مدینه کې زیږیدلی او په ۱۰۱هـ په شام دمشق کې وفات شوی، ستر تابعي، زاهد، عالم او پرهېزګار انسان وو، په شام کې د امویانو د وخت خلیفه وو او دپنځم خلیفه راشد لقب ورکړل شوی: الأعلام للزركلي (5/ 50)

[3] الآداب الشرعية والمنح المرعية,المؤلف: محمد بن مفلح بن محمد بن مفرج، أبو عبد الله، شمس الدين المقدسي الرامينى ثم الصالحي الحنبلي (المتوفى: 763هـ),الناشر: عالم الكتب,عدد الأجزاء: 3،ج:۱،ص:۴۱۲.

[4] من فقه الأقليات المسلمة (كتاب الأمة),المؤلف: خالد محمد عبدالقادر,الطبعة::العدد : 61 - رمضان 1418 هـ - السنة السابعة عشرة،الطبعة: الأولى رمضان 1418هـ كانون الأول(ديسمبر)1997م كانون الثاني(يناير)1998م،ج:۱،ص:۱۴۸.

[5] صحیح البخاري،ج:۷،ص:۱۲۸.

جمهور علماء وايي چې سلام اچول پرې جائز نه دي 1,دا نظر د ابن قیم2 رحمه الله هم دی.3

دوی استدلال د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- په هغه حديث دی چې امام بخاري او مسلم راويت کړی دی "لا تبدؤوا اليهود والنصارى بالسلام وإذا لقيتم أحدهم في الطريق فاضطروهم إلى أضيقه" 4

تاسو په يهودو او نصاراو ابتداء سلام مه اچوئ او کله چې په لاره کې ورسره مخ شوئ نو مجبور يې کړئ چې څنډې ته شي.

همدارنګه په بل حديث کې راځي: لا تبدؤوا اليهود ولا النصارى بالسلام، وإذا لقيتموهم في طريق فاضطروهم إلى أضيقه 5.

او په صحيح البخاري کې ورسره بيا دا الفاظ هم زيات شوي دي:

إذا سلم عليكم أهل الكتاب فقولوا وعليكم 6

يعنې تاسو يهودو او نصاراو ته ابتداء سلام مه اچوئ او کله ۱۴۲ چې تاسو ورسره په لاره مخ شوئ هغوی مجبور کړئ تنګ کړئ او څنډې ته يې کړئ.

او د صحيح البخاري د الفاظو معنا بيا داده چې کله اهل کتاب په تاسو سلام واچوي نو په ځواب کې ورته صرف وعليكم ووايئ.

او د ځينو علماوو قول بيا دادی چې ابتداء هم په کفارو باندې سلام اچولی شې

---

[1] العناية شرح الهداية,المؤلف: محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي البابرتي (المتوفى: 786هـ),الناشر: دار الفكر,الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ,عدد الأجزاء: 10,ج:٦،ص:٦٠.

[2] محمدبن بکر بن ايوب بن سعد الجوزيه،په کال ٦٩١هـ کې په دمشق کې زيږيدلی او په کال ٧٥١هـ کې وفات شوی، نوموړی داتمې پيړۍ لوي عالم ؤ دشيخ الاسلام لقب يې ترلاسه کړی دی، او ډيرو کتابونو ليکوال دی.الاعلام للزرکلي.ج/٣/ص٣٤٥.

[3] أحكام أهل الذمة،المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: 751هـ)،المحقق: يوسف بن أحمد البكري - شاكر بن توفيق العاروري،الناشر: رمادى للنشر – الدمام،الطبعة: الأولى، 1418 – 1997،عدد الأجزاء: 3،ج:١،ص:٤٢١.

[4] صحيح البخاري،ج:٧،ص:١٢٨.

5صحيح مسلم،ج:٣،ص:٢٦٣.

6صحيح البخاري،ج:٧،ص:١٣٢.

دا قول د ابن عباس ـ رضی الله عنه -، ابی امامه دی او همدا قول د امام شافعي – رحمه الله ـ خو دوی وايي چې که کافر یو کس و سلام به پرې په لفظ د مفرد اچول کیږي او که ډیر ول بیا به په لفظ د جمع پرې سلام اچول کیږي، په داسې حال کې چې په مسلمان باندې سلام په لفظ د مفرد او جمعې دواړو سمه ده.[1]

او د ځینو علماوو قول بیا دادی: شروع په کفارو باندې د ضرورت او حاجت په اساس سلام اچول جائز دی

او یا یو دیني مصلحت په خاطر.

دا قول د امام نخعی[2]، عکرمه[3] او د اوزاعي[4] ـ رحمهم الله ـ دی. [5]

په الولاء والبراء کې راځي : ابتداء په غیر مسلمو باندې سلام اچول ځکه حرام وو چې رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ فرمایلي دي: لا تبدؤوا اليهود ولا النصارى بالسلام، وإذا لقيتموهم في طريق فاضطروهم إلى أضيقه [6].

تاسې په یهودو او نصاراو باندې سلام مخکې مه اچوئ، کله چې ورسره په یوه لاره کې مخ شوی نو، نو دوئ مجبور کړئ چې څنډې ته شي.

مګر کله چې هغوی په مسلمانانو سلام واچوي بیا د سلام ځواب ورکول واجب دي او دلیل یې د قرآن کریم دغه دی چې دالله تعالی فرمایي: { وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا }[7]

---

[1] فتح الباري شرح صحيح البخاري,المؤلف : أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي,الناشر : دار المعرفة - بيروت ، 1379تحقيق : أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي,عدد الأجزاء : 13,ج:13,ص:283.

[2] ابو عمران إبراهيم بن يزيد بن قيس بن الأسود النخعي دی په ۴۶هـ کوفه کې زیږیدلی او په ۹۶هـ د حجاج نه تر پټېدو وروسته وفات شوی دی نوموړی ستر تابعي، د احادیثو حافظ او د عراق فقیه وو: الأعلام للزركلي (1/ 80)

[3] ابوعبدالله عکرمة بن عبدالله البربري المدني نوموړی په کال: 25 هـ کې زیږیدلی او په کال: 105 هـ په مدینه کې وفات شوی دی نوموړی دعبدالله بن عباس غلام دی، تابعي ،په تفسیر او مغازي کې ترټولو ډیر پوه ؤ: الاعلام للزرکلي: 4/ 244.

[4] ابوعمرو عبد الرحمن بن عمرو بن یحمد الاوزاعي، من قبیلة الاوزاع دی نوموړی په کال: 88 هـ بعلبلک کې زیږیدلی او په کال: 157 هـ په بیروت کې وفات شوی دی نوموړی په فقه او زهد کې د شامیانو امام ؤ او لوی محدث ؤ: الاعلام للزرکلي: 3/ 320.

[5] فتح الباري، ج:13,ص:283.

6صحیح مسلم،ج:۳،ص:۲٦۳.

7سورة النساء ۸٦ ایه.

او کله چې سلام واچي په تاسو يو څوک، يو سلام نو تاسو د سلام ځواب ورکړئ د سلام اچوونکي څخه غوره او يا د هغې برابر.[1]

معمولا يهودو به په رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ چې کله سلام اچوه ويل به يې « السام عليک يا محمد» او سام مرض ته ويلې کيږي، په همدې اساس رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ حکم وکړ چې کله په تاسو باندې يهود سلام واچوي تاسو ورته ووايئ «وعليکم» ځکه چې يهود په تاسو باندې د سام په لفظ سره سلام اچوی ، نو تاسو ورته وعليکم ووائي معنا داچې هر څه دې زما لپاره وغوښتل هماغه دې ستا لپاره هم وي.

په همدې اساس عبدالله ابن عباس، شعبي او يو شمير نور اهل علم وايي: کله چې يهود، نصارا او يا نور غير مسلم خلک په يو مسلمان باندې په صريح لفظ سره سلام واچوي مسلمان ته جائزه ده چې وعليکم السلام ورته ووايي، خو ليکن مسلمان نه شي کولی چې ابتداء په کافر باندې سلام واچوي لکه اهلا و سهلا لفظ ورته وکاروي يا ديته ورته نور الفاظ، خکه چې پدی کې د مقابل لورې اکرام او تعظيم دی مګر که هغوی پرمونږ سلام واچوي مونږ د هغوی په ځواب کې هماغومره ورته ويلی شو.[2]

لامل يې دادی چې اسلام په عدل او ا نصاف ولاړ دين دی او پکار ده چې هر چاته تر خپله حده حق ورکړل شي او دا څرګنده چې مسلمانان د الله تعال په نيز باندې د ډيرې اوچتې مرتبې خاوندان دي نو پکار نده چې دوی دې خپل ځانونه نورو ته کم اهميته او ذليله کړي او کفارو ته په سلام کې تقدم او مخکې والی وکړي.[3]

امام نووی رحمه الله فرمايي: کله چې يو ذمي په مسلمان باندې سلام واچوي نو مسلمان به ورته په ځواب کې يوازې وعليکم السلام وايي او لدی څخه زيادت به نه کوي او همدا قول د ټولو کفارو په هکله دی.[4]

---

[1] الولاء والبراء في الإسلام من مفاهيم عقيدة السلف،المؤلف: محمد بن سعيد بن سالم القحطاني،تقديم: فضيلة الشيخ عبد الرزاق عفيفي،الناشر: دار طيبة، الرياض - المملكة العربية السعودية،الطبعة: الأولى،عدد الأجزاء:1،ص:١٣١.

[2] احکام اهل الذمة، ج:١،ص:٤٢٥.

[3] مخکينی مرجع، ج:١،ص:٤٢٦.

[4] المجموع شرح المهذب،١ ص ٢٥٦.

ترجیح: که له پورته دلائلو او د دین مصلحت او د مسلمانانو په ځنو مواردو کې مجبوریتونو ته وگورو نو لاندې نتائجو ته رسیدلی شو.

هغه داچې که چیرته مسلمان په دار اسلام کې و، بیا ورته حکم دادی چې باید ابتدء په کافر باندې سلام ونکړي د وجه د حدیث د رسول الله – صلی الله علیه وسلم ـ څخه.

او که چیرته مسلمان په دارالحرب کې ؤ بیا هلته ورته جواز شته دی چې کفارو ته ابتداء هم سلام وکړي، ترڅو د کفارو له شره ځان بچ کړي، خو دلته هم پکار داده چې مسلمان له سلام پرته داسې یولفظ وکاروي چې د سلام افاده وکړي نه صریح لفظ د سلام.

## دوهم مطلب: کفارو ته ودریدل:

اسلام د ټولو ادیانو وروستی دین دی چې په انساني تاریخ کې د آدم اولاد ته رالیږلی شوی دی او دا دین الله تعالی د وروستي نبي محمد – صلی الله علیه وسلم – په لاس وروستي امت ته ورکړلی شوی دی.

دا د وروستي امت لپاره یو د افتخار او د فخر خبره ده چې دادین یې په برخه شوی دی.

دا دین په ټولو ادیانو باندې اعلی او اوچت دین دی او پیروان یې د ټولو ادیانو څخه غوره دي.

لکه الله تعالی چې ددی دین په هکله فرمایي {الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا}[1]

ژباړه: نن ورځ کامل مې کړ تاسو لره دین ستاسو او پوره مې کړ په تاسو باندې نعمت خپل او غوره مې کړ تاسو لره دین اسلام.

او همدا رنگه ددی په امت د غوره والي په هکله االله تعالی فرمایي: {كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ}[2]

---

[1] المائده،ایت:۳.

[2] ال عمران،ایت: ۱۱۰.

ژباړه: تاسو غوره امت یاست، چې ویستلي شوی یاست لپاره د خلکو، تاسو امر کوئ خلکو ته په نیکیو و منع کوئ خلک له بدیو څخه او تاسو ایمان لرئ په الله تعالی باندې.

نو کله چې دا دین غوره وي او ددی دین پیروان په ټولو ادیانو باندې غوره وي نو بیا داسې خلکو لپاره عقلا هم نه ښايي چې دوی دې د تعظیم سجدی نورو خلکو کیږدي او خپل د عروج او دنګو سرونو تنه دي دې نورو په تعظیم ټیټ کړي، نو په همدی اساس مسلمانانو ته جائزه نده چې کفارو ته ودریږي تر څو هغوی پر لاره تیر شي او بیا له هغی وروسته مسلمان تیر شي.

ځکه خو به رسول الله – صلی الله علیه وسلم – صحابوو ته دا تصور ورکوه چې کله تاسو پر لاره تیریږئ نو کوشش کوئ چې کفار تاسو ته ودریږي او که نه دریدل لاره پرې تنګه کړئ او مجبور یې کړئ دریدلو ته لکه رسول الله – صلی الله علیه وسلم – چې فرمايي: لا تبدؤوا الیهود ولا النصاری بالسلام، وإذا لقیتموهم في طریق فاضطروهم إلی أضیقه.[1]

ژباړه: تاسو یهودو او نصاراوو ته په سلام باندې مخکې والی مه کوئ او کله چې په لاره کې ورسره مخ شوی مجبور یې کړئ چې څنډې ته شي.

له پورته حدیثه څرګنه دي ږي چې مسلمان باید کافر مجبوره کړي چې دی ورته ودریږي او کله چې لومړی مسلمان تیر شي او بیا به کافر پر لاره لاړ شي.

لامل یې دادی چې دا ځمکه د الله تعالی ده او لومړی پرې د هغه چا حق دی چې هغه مسلمان او دالله تعالی د اوامرو منونکی وي او ځمکه اباده هم په همدغه مسلممانو ده او په حدیث کې ثابته ده چې (عَنْ أَنَسٍ

أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُقَالَ فِي الْأَرْضِ اللَّهُ اللَّهُ)[2] کله ددی دنیا په سر یو کلمه ویونکی هم ژونه دی وي الله تعالی به قیامت نه قائموي نو کله چې دغه ځمکه د مسلمان په اساس پایي نو ډیر حق پرې د مسلمان دی.

[1] صحیح مسلم، ج:۳، ص:۲۶۳.
[2] صحیح مسلم، ج:۱، ص:۳۵۴.

نو د مسلمان کافر ته دریدنه شرعا جائزه نده ځکه چې دا ده هغه دین سپکاوی دی چې په ټولو ادیانو باندې لوړ او اعلی دین دی او ددین پیروان باید په ټولو ادیانو باندې فکري او فزیکي لوړوالی ولري.

## دریم مطلب:په غیر اسلامي هیوادونو کې د ستر او پردې احکام:

غربپال، او سیکولریستان د حجاب په شرعي اړخ خبرې کوي او کوښښ کوي د حجاب شرعیت لا ختم کړي، دوی وایي: حجاب له دین او شریعت سره اړیکه نه لري بلکي دا رواجي شی دی وروسته خلکو دیني حیثیت ورکړی دی، اصلا دوی د موضوعاتو له دیني اړخ سره هیڅ گروهیزه او عقیدوي اړیکه نه لري، د دوی اصلي موخه استغراب او غربي تهذیب خپلول دي، څرنگه چې دوی مسلمانو ټولنو کې اوسي نو د مسلمانانو په شک کې غورځولو په نیت د ځیني موضوعاتو دیني اړخونو ته هم توجه کوي. او د دوی دیني معلومات او د موضوعاتو په اړه دیني استدلال د ختیځپوهانو او مستشرقینو په معلوماتو ولاړ او له هغو گټه اخلي، او د هغوی استدلال پوچ او بې اساسه ده.

د غرب په بربنډ او له فحشا، زنا او جنسي بېلاریو ډک تهذیب په ځانگړې توگه د ښځو اړوند موضوعاتو ته زیاته توجه لري، په ځانگړې توگه د اسلامي نړۍ هیوادونو کې دا موضوع له مختلفو لارو پر مخ وړي، زموږ په ټولنه کې الحمد لله د اسلام ریښې ژوري دي په ځانگړې توگه حجاب زموږ د کلتور او رواج برخه گرځېدلې ده خو غربپال او سیکولریستان دلته هم د بربنډتوب کوښښونه کوي او تر خپله وسه د حجاب پر ضد لگیا دي، بده یې لا دا چې په دې اړه د شرعي دلایلو کوښښونه هم کوي، دلته د حجاب او په ځانگړې توگه مخپټي په اړه په لنډه توگه د څلورو مذاهبو د معتمدو امامانو خبرې رااخلم.

د حجاب فرضیت:

لومړی د حجاب د فرضیت په اړه د حجاب ایت له لنډ تفسیر سره رااخلو، قرانکریم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وایي: اې پیغمبره! (صلی الله علیه وسلم) خپلو مېرمنو او لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چي پر خپل ځان باندې د خپلو ټکریو پلوونه خواره کړي. دا ډېره مناسبه چاره ده، تر څو چي هغوی وپېژندلای شي او ونه ځورول شي. الله تعالی ښه بخښونکی او مهربان دی.

{يٰأَيُّهَا النَّبِىُّ قُل لِّأَزْوٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلٰبِيبِهِنَّ ذٰلِكَ أَدْنىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا}[1]. مفسرين په دې ايت کې ليکي چې جلباب هغه لويې جامې ته وايي چې د ښځې ټول بدن پټوي.[2]

بل ځای قرانکريم کې الله جل جلاله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وايي:

{وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ}.[3]

او اې پېغمبره! (صلى الله عليه وسلم)] مؤمنو ښځو ته ووايه: چې خپلې سترګې تر کنټرول لاندې وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وکړي. او خپله ځان جوړونه او سينګار دې نه ښکاره کوي، پرته له هغه چې په خپله ځرګند شي، او پر خپلو سينو دې د خپلو پوړنو پلوونه واچوي. هغوی دې خپله ځان جوړونه (سينګار) نه ښکاره کوي، پرته ددې خلکو په وړانه دې : مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزيان)، وروڼه، ورېرونه، خوريان، د خپلې طبعې ښځې، خپل مملوك، خپل هغه لاس لاندې نارينه چې ښځو ته حاجت نه لري او هغه ماشومان چې لا تر اوسه پوري د ښځو له پټو خبرو سره اشنا شوی نه وي، يعني په دغو ماشومانو کې جنسي غريزې نه وي را ژوندۍ شوي. او هغوی دې پر ځمکه بانه دې په زوره پښو وهلو سره په داسې شان تګ نه کوي چې د هغو د پټ کړي سينګار خلکو ته معلومات وشي. اې مؤمنانو! تاسې ټول په ګډه سره الله ته توبه وباسئ، ښايي چې برى درپه برخه شي.

---

[1] الاحزاب، ايت: ۵۹ ر
[2] تفسير ابن كثير، ج: ۳، ص: ٦٧٩.
[3] سورة النور، ايت: ۳۱.

په دې اړه یو حدیث هم دی :عن عائشة[1] رضی الله عنهما قال: رحم الله النساء المهاجرات الاول لمانزلت { وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ }شَقَقنَ مُروطَهُن فَاختَمَرنَ بِهَا[2]

عائشة رضي الله عنها د دې ايت په اړه وايي: الله دې د مهاجرينو په لومړيو ميرمنو رحم وکړي کله چې دا ايت: { وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ }نازل شو هغوی خپل څادرونه څیري کړل او په هغو يې مخونه پټ کړل..

د احنافو علماو نظرونه:

امام ابو بکر الجصاص[3] رحمه الله پخپل تفسير کې ليکي : ځوانه ښځه بايد له پردي سړي مخ پټ کړي او له کوره د وتلو په مهال بايد ستر، پرده او عفت مراعت کړي، څو د شکمنو او بدنيته خلکو تمه ورته پيدا نه شي. [4]

امام شمس الأئمة السرخسي رحمه الله[5] وايي: د نظر حرمت يې د فتنې لامله ده، او د فتنې ويره يې مخته په کتلو کې ده، او د بدن د ټولو اعضاو په پرتله يې په مخ کې ښکلا زياته ده.[6]

---

[1]عائشة بنت أبی بکر : الصديق التيمية ، أم المؤمنين ، أم عبد الله يې پوره نوم دی.د مومنانو دا مور ام رومان بنت عامر بن عويمر بن عبدشمس بن عتاب لور ده،د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يواځينۍ پيغله ميرمن ده،چې د اسلام د لومړي خليفه ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه لور ده،په اسلام کې د ستر منزلت څښتنه ده،دا په صحيح قول سره په ۵۷ هـ ق کال کې وفات شوې ده،چا ويلي دي چې په ۵۸ کې وفات شوې ده.ددې روايتونه په صحاح الستة ټولو کې شته دي.الاعلام للزرکلي،ج:۱،ص:۱۷۳.

[2]صحيح البخاري،ج:۲،ص:۳۲۱.

[3]أحمد بن علي الرازي،أبوبکر الجصاص، دا يې پوره نوم دی،فقه يې له امام ابو الحسن الکرخي رحمه الله څخه زده کړې ده،دده مشهور تصنيفونه،احکام القران دی،او نور مهم تصانيف هم لري،نوموړی په بغداد کې اوسيده، نوموړی په ۳۰۵هـ کې زیږېدلی ،او هلته په ۳۷۰ هـ کې وفات شوی دی.(الجواهر المضية/ج:۱،ص:۲۲۰)

[4]أحکام القرآن للجصاص ,المؤلف : أحمد بن علي المکني بأبي بکر الرازي الجصاص الحنفي,الناشر : دار احياء التراث العربی ـ بيروت سنة الطبع : 1405 هـ,تحقيق : محمد الصادق قمحاوی,عدد الأجزاء : 5,ج:۳،ص:۴۵۸.

[5]محمد بن أحمد بن أبي سهل أبي بکر السرخسي شمس الأئمة، د زيږيدو نيټه يې نده معلومه،خو په ۵۰۱ هـ ق کال کې د اوزبکستان په فرغانې کې وفات شوی دی، تر ډېره بريده نوموړی په أوزبکستان او د ايران په سرخس کې اوسيده،نوموړي په حنفي فقه کې مبسوط په څير معتمد او معتبر کتاب ليکلی دی او دا کتاب يې هم په زندان کې وليکه،نوموړی ستر عالم په حنفي مسلک د لوړې رتبې خاوند دی.تاج التراجم لأبي الفداء زين الدين أبي العدل قاسم بن قطلوبغا السودوني.ج:۲،ص:۵۳۹.

[6]مبسوط،ج:۱۰،ص:۱۵۲.

ابن عابدين رحمه الله وايي: ځوانه ښځه باید د سړیو په منځ کې د مخ له لوڅولو منعه کړل شي. مطلب دا چې له مخ لوڅولو باید منعه کړل شي ځو يې سړي مخ ونه ویني چې په فتنه کې ونه لویږي.[1]

د مالکي علماو نظرونه:

امام ابو بکر ابن العربي[2]، اوامام قرطبي[3] رحمهما الله وايي[4]: ښځه ټوله عورت ده، بدن او غږ يې عورت ده، له اړتیا پرته يې باید ښکاره نه کړي.[5]

د شافعي علماو نظرونه:

امام الحرمین الجویني رحمه الله وايي[6]: ټول مسلمانان په دې متفق دي چې د میرمنو لوڅ مخونه بهر وتل منعه دي.[7]

امام ابن حجر الهیثمي[8] رحمه الله وايي: د کره روایت پر اساس د پردي سړي په مخ کې د ښځې ټول بدن عورت ده آن مخ او لاسونه هم.[9]

---

[1] رد المحتار على الدر المختار,المؤلف: ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: 1252هـ)الناشر: دار الفكر-بيروت,الطبعة: الثانية، 1412هـ - 1992م,عدد الأجزاء: 6,ج:٢،ص:٢٦١.

[2] ابوبکر ابن العربي محمد بن عبد الله بن محمد المعافري الإشبيلي المالكي دی په ۴٦٨هـ اندلس اشبیله کې زیږېدلی او په٥۴٣هـ کې وفات شوی، نوموړی دیني علومو کې مجتهد، مفسر، ادیب، فقیه او اصولي عالم وو، ابن بشکوال وایي چې دا د اندلس له وروستیو امامانو او حافظانو څخه وو: الأعلام للزركلي (6/ 230)

[3] ابوعبدالله محمد بن احمد بن ابی بکر بن فرح لانصاري الخزرجی په قرطبي مشهور دی، نوموړی فقیه،مفسر او په لغت باندې پوهه وو، د اندلس په قرطبه ښار کې په کال ٦٠٠هـ کې زیږیدلې او په کال ٦٧١هـ په مصر کې وفات شوی دی، نوموړی ډېرو کتابونو لیکوال دی چې مشهور يې الجامع لاحکام القران دی:الموسوعة العربیه العالمیة ویب سایټ

[4] الجامع لأحكام القرآن,المؤلف : أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : 671 هـ),المحقق : هشام سمير البخاري,الناشر : دار عالم الكتب، الرياض، المملكة العربية السعودية,الطبعة : 1423 هـ/ 2003 م،ج:١۴،ص:٢٧٧.

[5] آحکام القران،ج:٣،ص: ١٥٧٨.

[6] ابو المعالي عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد الجُوَيْني لقب يې امام الحرمین دی، نوموړی په ۴١٩هـ په جوین نیسابور کې زیږیدلی او په ۴٧٨هـ کې وفات شوی دی، نوموړی فقهي او اصولي عالم وو ډېر ښه کتابونه يې لیکلي دي: الأعلام للزركلي (4/ 160).

[7] روضة الطالبين وعمدة المفتين,المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: 676هـ),تحقيق: زهير الشاويش الناشر: المكتب الإسلامي، بيروت- دمشق- عمان,الطبعة: الثالثة، 1412هـ / 1991م,عدد الأجزاء: 12,ج:٧،ص:٢۴.

[8] ابوالعباس أحمد بن محمد بن علي بن حجر الهيتمي السعدي الأنصاري، شهاب الدين شيخ الإسلام، دی نوموړی په کال: (909 = 1504)په غربي مصر کې زیږېدلی دی، او په کال( 974 هـ - 1567 م )په مکه کې وفات شوی دی، نوموړی ستر فقیه، څېړونکی مصري عالم دی له جامعه ازهر څخه فارغ دی او ډېر غوره کتابونه يې لیکلي دي: الاعلام للزرکلي:١/ ٢٣٩.

[9] تحفة المحتاج بشرح المنهاج -تأليف: ,شهاب الدين أبو العباس أحمد بن محمد بن علي بن حجر الهيتمي,974 هـ,دراسة وتحقيق:

د حنبلي علماو نظرونه:

پخپله د حنبلي مذهب مؤسس امام احمد بن حنبل رحمه الله[1] وايي: د ښځې نوک هم عورت ده، کله چې له کوره وځي باید هیڅ شی یې ښکاره نه وي، آن پښې یې هم باید پټې وي.[2]

ابن تیمیه رحمه الله [3]وايي: د ښځو په داسې توګه مخونه لوڅول چې پردي یې ووینې ناروا ده. او وايي: د حجاب مطلب هم دا دی چې د ښځو مخونه او لاسونه ونه لیدل شي.[4]

له پورته دلائلو ویلی شو چې د حجاب د فرضیت په هکله د هیچ چا اختلاف نشته البته په نوعیت کې یې فرق شته دی، چې ایا اوس مخ په حجاب کې داخل دی که نه دی؟ نو ددی اختلافاتو په نظر کې نیولو سره ویلو شو چې د مسلمانو هیوادونو کې اړینه ده چې تر ټولو غوره حجاب چې د ټول ځان پټول دي غوره او لازمه ده ځکه که مونږ ددین اصل او روح وګورو اسلام پدې ډیر ترکیز کوي چې آن ښځه ډیره با حجابه به وي تر دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – خو په حدیث کې فرمايي چې د ښځې غوره لمونځ هغه دی چې په کور کې وشي، ځکه د ښځې لپاره د حیا او د پردی ځای کور دی.

خو په غیر اسلامي هیوادونو کې لازمه ده چې تر هغی کچې یوه مسلمانه خور حجاب مراعت کړي چې څومره یې تر وسه وي ځکه الله تعالی فرمايي: لایکلف الله نفسا الا وسعها. نو چې یو شی د انسان له وسې پورته وي الله تعالی بیا په هغی باندې انسان نه نیسي.[5]

که چیرته په یو نامسلمان هیواد کې اوس بنه دي ز په مخ پټولو وي،نو یوې مسلمانې میرمن ته جائز ده چې هلته خپل مخ ښکاره کړي،ځکه چې په دې مورد کې فقهاء که څه هم اختلافي دي خو د ضرورت له مخې کولی شي چې مخ ښکاره کړي،ځکه چې دا اتفاقي عورت نه دی .خو که

عبد الله محمود عمر محمد,الناشر: ,دار الکتب العلمیة بیروت ـ لبنان,ج:۲،ص:۱۱۲.

[1] ابو عبدالله أحمد محمد بن بن حنبل الشيباني نوموړی په کال: ۱٦۴ هـ په مروه کې زیږېدلی او په کال: ۲۴۱ هـ کې وفات شوی دی نوموړی له څلورو امامانو څخه یو دی، د مسند احمد کتاب لیکوالی دی چې په (۴۰۰۰۰) احادیثو مشتمل دی: الأعلام للزرکلي (1/ 203)

[2] المغني،ج:۱،ص:۴۹۳.

[3] تقي الدین ابوالعباس احمد بن عبدالحلیم بن عبدالسلام الحراني په (٦٦١ هـ ق ) کې په حران کې زیږدلی دی ، ستر دیني عالم او مجتهد وو ، چې په شیخ الاسلام سره لقب موندلی وو ، دسلګونو اسلامي کتابونو لیکوال دی په (۷۲۸ هـ ق ) کال کې وفات شوی دی . الاعلام للزرکلی ټوک ۱/ ١٦٦ مخ.

[4] مجموع الفتاوی ج:۱۵،ص:۳۷۲.

[5] من فقه الأقلیات المسلمة, ,ج:1,ص:۱۳۴.

چیرته په یو شمیر هیوادونو کې د سر او ویښتانو په پټولو باندې بنه دي ز وي،د داسې لباس په اغوستلو بنه دي ز وي چې په هغې کې عورت پټیږي او دا هیوادونه مسلمانه ښځه په ټوله معنا بربنډوي،نو په داسې هیوادونو کې د مسلمانې ښځې لپاره اوسیدل جائز نه دي او پکار ده چې له دغه هیواد څخه حد اقل هغه هیواد ته لاړه شي چې د لږکیو حقوق په کې خونه دي او نن سبا په ډیرو نامسلمانو هیوادونو کې د مسلمان اقلیت ټول دیني حقوق خونه دي وي نو پکار ده چې دغه ډول هیوادنه پریږدي او هغه هیوادونو ته لاړ شي چې هلته دیني ازادي ولري.

## څلورم مطلب:د کفارو د مقدساتو توهین کول:

که مونږ اسلامي دین مطالعه کړو وینو چې اسلام نه د خپل دیني مقدساتنو د توهین اجازه چاته ورکړې دی او نه د نورو ادیانو د تقدساتو توهین ته متې بډ وهلي دي، ځکه چې اسلام په یو اصل بنا دین دی که څه مني هم په غوره او معقولو دلائلو سره او که څه تردیدوي هم په معقولو دلائلو سره خو توهین یې نه کوي آن چې قرآن کریم په بوتانو باندې تردید هم په هغه سې الفاظو سره کوي چې معقول او له توهینه لرې دي، لکه مونږ چې په قرآن کریم کې د ابراهیم – علیه السلام او د هغې د قوم جدال او بحث را واخلو ابراهیم علیه السلام خپل مخالفینو ته داسې الفاظ کارولي دي چې توهین امیز نه بلکې خورا د لوی پند الفاظ دي، لکه چې فرمایي:

{فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّالِّينَ} (77)

{فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَا أَكْبَرُ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ}[1]

کله چې ابراهیم علیه السلام سپوږمۍ ولیده ویلې چې دامې رب دی کله چې پریوته ویلی که چیرته رب زما ماته لاربښونه ونکړي نو زه به د گمراهانو څخه شم.

خو کله چې لمر پورته شو ویې ویلې دا مې لوی رب دی، کله چې داهم پریوتله ویلی ای قومه زما زه بې زاره یم له هغه څه چې تاسو یې د الله تعالی سره شریکوئ.

همدا رنگه بل ځای کې راځي {وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ } 2

---

[1]سورة ال عمران،ایت:۷۷-۷۸.

[2]سورة الانعام.ایت:۱۰۸.

تاسو ښکنځلې مه کوئ هغو خلکو ته چې دوی د الله تعالی څخه پرته د بل چا عبادت کوي نو هغوی به الله تعالی ته ښکنځلې وکړي د وجه د دښمنۍ څخه په ناخبری سره.

نو دا او د اسلامي شریعت نور ګڼ دلائل شته دي چې الله تعالی د نورو ادیانو د مقدساتو سپکاوی منع کړی ده، خو که چیرته په یو ځای کې د اسلامي شعائرو سره په ټکر کې راځي هلته یې بیا له منځه وړل جواز لري لکه رسول الله – صلی الله علیه وسلم – چې د کعبې بوتان یو یو په لکړه وهل او دا ایت یې ویل چې : اذا جاء الحق و زهق الباطل.1

## پنځم مطلب:د غریبو کافرانو سره مرسته کول:

له غریبو کفارو مرسته کولو په برخه کې دوه مورده دي.

د علماؤ  په دې باندې اجماع ده چې فرضي زکات او فرضي مصارف کفارو ته نه شې ورکولی، ځکه چې ددی مستحقین معلوم دي چې الله تعالي په قرآن کریم کې دا واضح کړي دي2 لکه {إِنمَّا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ}3.

بیشکه (فرضي) صدقات لپاره د فقراو، مساکینو،عاملینو، مؤلفة القلوبو، د غلامانو په ازادولو، هغوی چې د الله تعالی په لاره کې وتلي دي او لپاره د مسافرو دي او دا فریضه ده د الله تعالی له لورې او الله تعالی پوه او حکیم ذات دی.

مګر په دوه حالتونو کې کافر ته هم ورکول جائز دي، یو چې مسلمان د زکات د مصرف لپاره پیدا نه شي او بیت المال ته ورکول هم متعذر شي پدی حالت کې د زکات کافر ته ورکول جائز دي.

او یا داچې کافر د مؤلفة القلوبو څخه وي.

دویم کفارو ته عام صدقات ورکول: پدی هکله د جمهورو علماوو رایه داده چې ددی په ورکولو کې کوم مشکل نشته4 او دلیل د قرآن کریم ګڼ شمېر ایتونه دي لکه {لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ

---

1 سنن دار قطني،ج:٣وص:۴٣.امام الباني رحمه الله په سلسلة الاحاديث الصحية کې وايي:دا حديث صحيح دی.ص: ٣٢٠.

2 المغني ج:٢،ص:٦٥٣.

3 سورة التوبة،ايت: ٦٠.

4 احکام القران لابن العربي،ج:٢،ص: ٥٣٠.

لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ}.1

نه منع كوي الله تعالی تاسو لره په باره د هغه خلكو كې چې دوی له تاسو سره په دين كې جګړه نه كوي او نه مو وباسي له كوره، داچې تاسو احسان وكړئ او او انصاف وكړئ له دوی سره بيشكه الله تعالی انصاف دار او منه رو خلک خوښوي.

همدا رنګه عائشيه او اسماء- رضی الله عنهما – په هكله ثابت دي چې دوی يهودو ته څه شيان د صدقی په ډؤل وركړي دي.

كه پورته آيت كې وګورو هلته هم لفظ د بر راغلی دی او بر ويلی كيږي حسن الخلق ته چې پدی كې د احسان ټول انواع په كې شامليږي كه هغه معنوی خير چاته رسول وي كه مادي او حسي آن تر دی چې نفلي صدقات حربي اسير ته هم وركولی شې، ځكه چې الله تعالی په قرآن كريم كې د بر والا خلكو په صفت كې يو دا صفت ياد كړی دی چې {وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا} 2

او دوی وركوي خوراک په خپله خوښه مسكين، يتيم او اسير ته.

امام قتاده3 – رحمه الله – فرمايي چې الله تعالی مونږ ته امر كړی دی چې له اسيرانو سره نيک سلوک وكړئ او په داسې حال كې چې هغه مهال ټول اسيران مشركان ول.4

ابن جرير الطبري – رحمه الله – فرمايي اسير هغه حربي كافر دی چې د دارالحرب څخه وي او په زوره نيولی شوی وي، يا مسلمان وي خو په يوه حق كې نيولی شوی وي نو الله تعالی هغه خلک ستايلي دي چې په داسې خلكو باندې خرچې كوي.5

همدارنګه د كفارو سره په كار ده چې په هر برخه كې سم سلوک وشي، كه هغه خبرو كې وي، كه تعامل كې وي، كه په راكړه وركړه كې، آن تر دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – په

[1] سورة الممتحنة،ايت:٨.

